## مننه

دګرانو ملګرو لکه

دمحمد ابراهیم ارمان، امیر محمد لیکوال دسرسید سکول پرنسیپل عزیزالله کاکړ

عینایت الله اولسمل جمال ناصر جمال نقیب افغان

زین الله رودوال نصیب خان سنګریار واجد تړی

زراق پښتون صابر روښان ،عطاولرحمان عطایي محمد ابراهیم کامرېځ ،عبدالقدوس خودېزی، محمد عظیم کاکړ،

**عبدالقادرمجرم**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بِسم الله الرّحمان الرّحيم

| | |
|---|---|
| دکتاب نوم | حرمونی زړونه |
| کاږي | |
| ليکوال | عبدالقادرمجرم |
| دچاپ کال | جنوري (۲۰۱۲) |
| دچاپ شمير | (۱۰۰۰) |
| شميره | ۰۳۰۲۳۸۰۹۵۳۸ |
| qmujrim@yahoo.com | ايميل |

facebook qadir mujrim mujrm

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپرونکی هیواد ادبی یون
# کلاسیف الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ کور له ټوله کلي راپرې، د شمال لور ته د ژورماندۀ (خوړ، رود) پر غاړه په یوه داسي خونه کښي چي په ختیځ او لوېدیځ جوړه وه. د نۀ ګلېدو په وجه یې د وختونو بارانو دېوالونه چرې چرې کړي وو.
د جنوب لور ته د خوني تر مخ وړوکی سپین ډګری وو. د ډګري په هغه خوا خاص د ماندۀ پر غاړه د سپیني خاوري غټ غټ پوټیان چي خړې او شنې غوندي سمسیارې بېشمېره پکښي ګرځېدې را ګرځېدې.
ما به غرمه او ماپښین په دروازه کښي په ناسته ورته تېره کړو. نژدې ځکه نۀ ورتلم مورکۍ راته ویلي وو "سمسیارې ته چي نژدې ورشې په لکۍ دي وهي. داسي تېره لکۍ یې ده لکه توره بل دوې ژبې لري چي وړوکی ماشوم پیدا کړي. پوزه یې په ژبو ور بنده کړي. پر خولۀ ور پرېوځي. تر هغه یې نۀ پرېږدي چي وژلی یې نه وي."
یوه ورځ غټ ماځیګر زموږ د کور او کلي تر میان پر هغه سپین ډګري خوسی کېدو.
زما د اووم کال دوه درې غاښه وتلي وو. یو غاښ ښورېدو. په خوسي کښي د میرزاخان لاس زما له خولې ډېر په زور ونښت. ښورېدلی غاښ ووتو. څۀ ویني یې هم وکړې. ما په زوره زوره ژړل کورته را روان شوم. میرزاخان د خپل کور په لور منډه کړه. کورته چي راغلم مورکۍ پوښتنه را څخه وکړه
مورکۍ: "ولي ژاړې زویه؟"
زۀ: "مورکۍ! هغه مېرزاخان حرموني زما غاښ راویستو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورکۍ: "زویه! ستا غابښ خو له ډېره وخته ښوربږدو- که د میرزا خان لاس نهٔ وای ځیني ښتنی هم وتو. میرزا خان خوار خو هم تهٔ قصداً نهٔ خوږولې "-
زهٔ: "یا یا حرموني قصداً په خولهٔ کښېي ووهلم- زهٔ هم دی حرمونی په خدای که پرېږدم- خولهٔ به یې ور وینوم-"
ما هغه وخت دا حرمونی ښکنځا ګڼله- لېکین د حرموني په معنا نهٔ پوهېدم چي څهٔ ته وایي-
زهٔ د داسي مور او پلار زوی وم چي هغو بل اولاد نهٔ درلود- روزګار یې ډمتوب وو- مور مي دریا، پلار مي ډول وهلو- هم یې بدلي (غاړي، غزلي، سندري) ور سره ویلې-
زهٔ چي کله ماشوم وم هري ښادۍ ته ورسره تلم- یوه ورځ د بخت نامې ترور تر خولهٔ څهٔ داسي توري را ووتو
بخت نامه: "خوري! هغه ښاهسته هلک خو وینې؟"
نابلده ښځه: "هو خود یې وینم-"
بخت نامه: "دا هغه د زرداد او زرګلي حرمونی دی-"
نابلده ښځه: "د مور دې ځان په خولهٔ شي، دا ښاهستوکی هلک به یې څنګه پر بر! غورځاوو-"
زهٔ حیران شوم - ما داسي ګڼلې وه چي دا ماشومان خلګ یو بل ځای پیدا کوي، راوړي یې، لویه وي یې - خدای شته د کلي ټولو ښځو زهٔ ډېر نازولم- په هم دې ورځ چي موږ له هغې ښادۍ کورته راتلو- په عمر پخې بخت نامې مورکۍ ته د خپل زوی څو زړې جوړې ورکړې-

(c) ketabton.com: The Digital Library

بخت نامه: "زرګلي ! دا واخله خپل زوی ته به یې ور وا غوندې - زما پر زوی لنډې (تنګې یا وړې )دي - " بل یې هغه د شپې له واره پاته سرې غوښې ور کړې - کله چې کورته ورسېدو - ما له خپلې موره پوښتنه وکړه

زۀ: "موري ! دا حرموني څۀ ته وایي؟ "

مورکۍ خپله دریا په دېوال ځړوله مخ یې پر شا را واړاوه

مورکۍ: "تۀ په حرموني چا خبرکړې؟ لس ورځې مې درته ویلي دي دا حرموني ښکنځل دي .دا له خولې وباسه .نن یې معنا هم زده کوې- "

زۀ : "موري ! نن بخت نامې ترور هغه نابلدې ښځې ته ویل دا هغه د زرداد او زرګلي حرموني دی- "

مورکۍ وش کړو- د دېوال ته یې شا ووهله

مورکۍ: "بخت نامې دواړي دي خطا شه- کومه نابلده ښځه ته یې وویل؟ "

زۀ : "هغه تک سپین مخ، شنۀ خالونه، په زوره زوره چې یې خندل- تور پړونی، سور د خالو اوږد قمیس چې یې په غاړه وو- "

مورکۍ: "زویه ! دا به یې ګپه سره کوله- وتا ته به یې ناحقه ښکنځل ولي کول- زویه ! دا څو ټکي زموږ په کورونو کښې سره ویل کېږي چې خبره یې ترله واوړي- هغه که د ورور او ورور وي که د خور او ورور، که له یو کلیوال سره وي .دا کوجاوي یو بل ته وايي - حرموني ،د رنډۍ زویه، د مرداري زویه دا سې نوري ښکنځا- "

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ: "نۀ موري ! هغه ښا هسته ښځه بيا ډېره خفۀ شوه ."

موركۍ: "حرمونی خو هغه ته وايي چي مور او پلار يې نۀ وي معلوم .ستا خو شكر دی هم مور شته هم پلار."

زۀ: "موري ! چي زما مور او پلار معلوم دي بيا ولي بخت نامې ترور دا خبره په درد ډېدلي انداز وكړه ؟ زړۀ يې په ټوپونو ښكاريدو ـ خوره ! دا هغه د زرداد او زرګلي حرمونی دی."

موركۍ: "زويه ! بد به دي كړي وي يا به بل څوک ياده وي بل تۀ په دې څۀ پوهېږې چي دې دا خبره په درد ډېدلي انداز وكړه؟ "

زۀ: "موري ! دا چي تۀ څۀ وخت له زردانې ترور سره تېر كړې.وتاته به هلته درک در كړي .تۀ خبره يې زردانه ترور چي تر خولۀ د غم توري راباسي .زۀ بلكل داسي محسوسه وم لكه د ډېرو غمجنو په منځ كښي چي ولاړه يم چي د خوشالۍ توري راباسي زۀ بلكل داسي محسوسه وم لكه زۀ چي د خوشالو خلګو په منځ كښي ولاړه يم . چارپېره اتڼونه راباندي كېږي."

موركۍ: "زويه ! ستا خو مور او پلار معلوم دي."

لنډه دا چي نۀ مور كراره شوه نۀ ما خپله خبره پرېښوده .له هغې ورځي زما د حرموني له نامۀ كركه وشوه .اوس چي به د كلي يو هلک د حرموني په نامۀ راته وويل ما د ستي جنګ ورسره كاوۀ.

د كلي د هلكانو را پام هم په دې شو چي ما د حرموني په نامۀ خوا بده وله. ځكه د حرموني له نامۀ دومره تنګ شوم چي اخير تر كور نۀ وتم.په كور كښي به ناست وم چي ډېر به ستړی شوم د مولوي صېب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ته به ورغلم. هلته یو ماشوم طالب (نوم یې عبدالله خان وو) نری وچکی، تور مخ. پر خرېیلي سر به یې سپنکی وړکی پټکی پېچلی وی. د مولوي صېب د خور زوی وو.
یوه وړوکي لور او یو زوی یې هم درلودو. هغه طالب سهار او ماښگر له کورنو زیرې (ټوک) راټولولې. دوه مولوي صېب او مورا، یو هغه وړوکی طالب، دوه خپل وړوکي لور او زوی. دومره زیرې یې له کلي هر وخت راټولولې چې د ښې برابرې ورا کېدې.
مطلب مي دا دی زیاته ډوډۍ یې ټولوله. ولمر ته یې ښوده، وچوله یې بیا یې په سېرونو خرڅوله.
په کلي کښې چې به راووتم هلکانو که به یو نۀ بل راته ویل چې "تۀ حرمونی یې. ستا مور او پلار نۀ دي معلوم. تۀ زرداد او زرگُلي پیدا کړی یې. زموږ خو مور او پلار معلوم دي موږ حلالوني یو."
دوه وخته مجبوره وم. یو سهار بل ماپښین ماجت ته تلۀ. په مولوي صېب مي سبق ویلو. د کلي ماجت وو. هلکان او نجوني گډ راتلو. مولوي صېب چې به وچاته سبق ورکړی هغه به ولاړ شو لري به چارڅانو کښېنستو، خپله سېپاره به یې په لاس کښې ونیوه پر مخ شا به ځنگېدو. په زوره زوره به یې سبق ویلو.
په ماجت کښې زۀ او د میناري په نامۀ نجلۍ ښکاره وو. مینا ره هلکانو په دې نۀ پرېښوده چې میناري د (رحیم)؟ لفظ نۀ ویلو. داسې هم نۀ وو چې زده کېدو یې نۀ. (رحیم) یې یاد اوو نۀ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه زوره زوره سبق ویلو کښي به یوۀ ناره کړه ـ اکثرو هلکانو زۀ نۀ پرېښودم "(حرامي) څوک دی؟" یا به یې وویل "(رحیم)ـ" ما چي به له سبقه سر را پورته کړو ټولو هلکانو به سرونه کوز ځړولي وو ـ سبق ته به یې کتل خولې به یې له خندا ډکي وې ـ

ما به مولوي صېب ته وویل ـ مولوي صېب به له ورې خندا پس مولوي صېب: "هلکو ! کرار شئ ـ خپل سبقونه وایاست ـ شیطانۍ مۀ کوئ ـ"

زۀ به پر خپل ځای کښېنستم ـ ډېري ورځي به مي د سبق په میان کښي وژړل ولاړې به شوم کورته به لاړم ـ بابا ته به مي وویل چي زۀ بله ورځ سبق ته نۀ ځم ـ

بابا به زۀ تر لاس ونیوم ماجت ته به یې راوستم ـ ټول هلکان به یې وغندلو ـ مولوي صېب ته به یې هم څۀ خبري وکړې ـ دا سې د ژوند شپې او ورځي تېرېدې ـ ما د قران مجید پنځمه سېپاره شروع کړه ـ

یوه ورځ چي زۀ په ژړا کورته ورغلم ـ بابا ته ډېر خښم ورغلی ـ زۀ یې تر لاس ونیوم ماجت ته یې راوستم ـ مولوي صېب ته یې لاس له خولې واخستو

"ستا خو هم سپین د پاچ پټکی پر سر دی ـ پراخه رېره دي پرې یښې ده، برېت دي پاک خرېیلي دي ـ پنډ مغځی ورته ناست یې ـ هلکان ټول سهار او ماپښین په جنګ تېر کړي ـ دا غوښین بدن دي په خاورو کښي شه ـ دا سپین کالي او توره سدرۍ دي وبل ته پاته شه ـ"

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای شته په مولوي صېب مي خوا بده شوه .د مولوي صېب ښاهسته قد او قامت،نوراني څهره زما پر خاورو نۀ شوه پېرزو. په زړۀ کښې مي خدای ته زاری کولې "خدایه ! تۀ د بابا خبره مۀ ورسره منه.مولوي صېب مۀ وژنه.مولوي صېب خو له ما سره بد نۀ دي کړي.دا هلکان ټول مړۀ کړه. بد خو هلکان را سره کوي." چې ولمر ته تکه سپينه ښاهسته هواره شوې ډوډۍ را په ياد شوه !.
مولوي صېب له وړې خندا سره
مولوي صېب: "زرداد کاکو ! بس له نن پس به زۀ سلطان له څنګه کښېنوم.يو هلک به يې هم له څنګه نۀ کښېنوي.اوس خو به خوشاله يې."
بابا: "څنګه سلطانه زويه؟ "
زۀ: "هو بابا ! بله ورځ د مولوي صېب له څنګه کښېنم."
بابا: "بس نن درځه سبا چې راغلې د مولوي صېب له څنګه کښېنه. زوی به يې کړم چې وتاته به يو هم ږغ کوي."
چې د مولوي صېب له څنګه مي ناسته شروع کړه .د هلکانو ښۀ راپام شو. په ماجت کښې خو يې د مولوي صېب تر مخ ږغ نۀ راته کاوو چې دباندې به راووتو.يوۀ به له يوۀ کونجه رانارہ کړه بل به له بله کونجه "حرموني ! حرموني خو يې.د حرموني نکاح نۀ کېږي. حرموني که ملا شي لمونځ نۀ ورپسې کېږي." چا څۀ ويل چا څۀ.
همداسې د ژوند شپې او ورځې تېرېدې .دا وخت به د لسو کالو وم چې له مور او پلار سره يوې ښادۍ ته لاړم.دورې مي هغه وخت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلګو په ښځو کښې سودا اړه(بنده ) شوه چې ښځو اتڼ اچولی وو۔ موركۍ یې په منځ کښې ناسته وه .د خپل تور وچکي لاس په وړدو ، نرۍ ګوتو یې دریا وهله .د خلګو ښاهستې ښځې،تکي سپيني څهرې،ښاهسته جامې د هري یوې خولۀ له خنداډکه وه .په اتڼ کښې اوښتې را اوښتې۔

خدای شته ډېره مې خوا بده شوه .په دې نۀ چې زما مور تکه توره ، وچکۍ ،ډنګرۍ خپل غټ غټ خاښونه پر بار دي۔

په دې مې خوا بده شوه چې د خلګو د ښځو ښاهستې جامې په غاړه دي۔د ټولو خولې له خندا ډکي دي۔هر څۀ یې پوره دي۔زما مور یوار دوی ته دریا وهي .دوی ټولې خوشاله ساتي بیا زموږ د پاره پر هغو ښځو ګرځې زړې جامې ټولوي۔

دباندې راووتم۔د یوۀ ماشوم په لاس کښې مې د ماتې هنداري ټوټه ولیده۔هغه ټوټه مې د هغه له لاسه راونیوه .خپل مخ مې په کښې وکتو۔که مې مخ څۀ هم په خاورو سپېرۀ چاودلی وو بیا هم تر دې نورو خلګو ځان ښاهسته راته ښکاره شو۔دلته زړۀ څۀ داسې راته وویل "کېدای شي ته د زرګلې او زرداد زوی نۀ یې۔"

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمورږ د کلي تر ټولو په رنګ ښاهسته(په عمل خواره خسته )زردانه نرۍ ،وچکی ،جګه ونه ،سوربخون (سره تـه ورتـه )وېښتان ،ګردی مخ ، جګه نرۍ پوزه ،کاغذ غوندي نـري شونډان همېشه په سرخي سرۀ ،توري غټې سترګي په رنجو توري چي هر چا به ولیده د پېغلي شک یې پر کېدو. که دي ورته ویلي وای چي د درو اولادو مور ده. درباندي خندل یې .په درو کنډواله نما خونو کښې یې کور وو.
د خونو ومخ ته یې سر او کال یوه ساله ولاړه وه . په یوه وړه خونه کښې یې دوکان هم جوړ کړی وو. ټولو کلیوالو سودا د زردانې له دوکانه وړه . په رنګ دومره ښاهسته وه چي په ټول کلي کښي یې ثاني نۀوه خو عمل یې تورو خاورو خوړلی وو.د کلیوالو له خولې یعني عملي ښاهست یې ګوره په خپله که کلیوالو له خاورو سره خاوري کړی وو. په کلي کښي په مرداره ،رنډۍ مشهوره وه .
زۀ دې مرداري،رنډۍ زردانې تر خپله مور زرګله هم ډېر نازولم . ځکه خو پر ما تر خپله مور هم مرداره او رنډۍ زردانه ګرانه وه .په دې وجه خو زما له زردانې سره تر زرګُلې زیاته مینه وه.
زردانه د داسي بېغیرته او سپي سړي ښځه وه چي د دنیا یو کار یې نۀ کاوۀ. ټوله ورځ به یې په کور کښې تېروله. کله به زردانې په زور تر کور ویستو.هغه د چا خبره( نۀ د تودې نۀ د سړې وو ).
ساتلی هم زردانې . په کلي کښي که زردانه په مرداره یا رنډۍ مشهوره وه . د ژړګُل که هر څومره ښۀ قد وقامت وو .که یې پر بدن نوري غوښي نۀ ځاېدې بیا هم په سپي مشهوره وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلي کښې چې به کله يو هلک وښو يا بوټو ته نۀ تلو۔ موربه ورتـه ويل "ورشه پرېوځه د زرداني ژړګُله۔"

ما ټوله ورځ د زرداني او ژړګل په کور کښې تېروله۔ که بـه مـور نۀ راپسې راغله شپه مې هم لـه زرداني سره د زرداني پـه کـور کښـې کوله۔

زردانه داسې ښځه وه چې مـورې پـه دې کـور کښـې څۀ کـول هغـه مـو کولای شو۔ که به مورې په کور کښې هر څو مره نقصان وکړو دې پـروا نۀ په کوله۔ خو دې مرداري، رنډې زرداني مورې درې سره يعني يـو زۀ دوه خپـل زويـان (زامـن ) پـه ورځ کښـې دوه سـاعته پـه خونـه کښـې بندولو۔ يو زۀ،دوه خپل زويان (زامـن) تـر دننه کولـو لـه مخـه بـه يـې راته وويل "که دباندې ځئ که اوبه څيښئ ورشئ بيا بـه تـر هغـه نـۀ را وځئ چې زۀ نۀ يم راغلې۔"

دا به يو ګړې راسره دننه وه بيا به يې مورې لـرې لـرې سره کښـېنولو دا به را ووته۔دروازه به يې بنده کړه چې دوه سـاعته پـس بـه يـې ماتـه د دړو سورې سورې دروازه (د ختيځ په لور وتلې وه )خلاصه کـړه ۔سـر به يې ښۀ رېمنځلی وو۔ سترګې به يې توري کـړې وې ۔نـوري جـامې بـه يې اغوستې وې۔مورې ته به يې په زيږو سـترګو وويـل "ګـورئ ګـورئ چې د دې خوني کيسه وچاته ونۀ کړئ۔"

چې را وبه وتوو۔دروازه ته مخامخ به يې د لرګو په ساله کښـې ډوډۍ تياره يښـې وه ۔ژړګُل بـه چارځانو ورتـه ناست وو۔ مـورې بـه پـه منډه منډه د لرګو د سالي تر مخ لاس و مينځلو۔د سترخوان ته به ورغلو۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

په يخ کښې به د شمال لور ته هم په دې خونه پورې خونې ته ورتلو- هم داسې به دسترخوان هوار وو ژړګُل به ورته ناست وو- تر هغه يې ډوډۍ ته د زردانې له وېرې لاس نۀ شو ور وړلای چې مور به نۀ وو ورغلې-

ژړګُل چې به ډوډۍ وخوړه، ولاړ به شو- هغې وړې چار د يوالۍ ته به ورغلى چې يوه لويه خونه پکښې جوړه وه - څلور پنځه غټ غټ سورې- يوه لويه دروازه يې درلوده - په هغه خونه کښې زردانې بې شمېره چرګې او چرګان ساتلي وو- چرګو ته به يې دانې، اوبه واچولې-که به يې هګۍ اچولې وې هغه به يې راټولې کړې-

مور تر هغه له زردانې نۀ ولاړېدو تر څو چې به ژړګُل نۀ وو راغلى-

ژړګُل چې به راغلى- را ټولې کړې هګۍ به يې راوړې- زردانې ته به يې هګۍ ورکړې - زردانې به مور ته يوه يوه هګۍ راکړه -مور به په اوبو کښې جوش کړې چې پخې به شوې- را کوزې به مو کړې - دومره وار به مو نۀ ورته کېدو چې سرې شي - هغسې تودې تودې به مو له يوۀ و بل سره وجنګولې چې ماتې به شوې بيا به هر يوۀ خپله هګۍ سپينه کړه - وبه يې خوړه -

د مياشتې په اخير کښې به زردانې مور ته روپۍ را کړې - مور به په کلي کښې هم هګۍ په واخيستې -دا هګۍ زردانې په زوره په ژړګُل ښار ته وړلې-له هغه لورې به يې د خپل دوکان د پاره سودا را غوښته-

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژړګُل له ښاره ډېره وېره کېده . ډېر په وېره ښار ته تلو - ژړګُل چې به د ښار په لوري روان شو - څواره به ودرېدو پر شا به يې را وکتل . يوه ورځ چې ژړګل ښار ته تلو زردانې ته يې وويل
ژړګُل: "زردانې ! ډېر وېرېږم . داسې نه چې ستا له کورنۍ څوک راباندې پېښ شي ."
زردانه: "پېښ دې شي . هغه په دې څه خبر دي چې رنها له دهٔ سره ده . هغه رنها په ښارونو کښې غواړي ."
ژړګُل: "ښځې ! داسې نهٔ وي د رنها حال يو چا ور وړی وي ."
زردانې خبره ورپرې کړه "رنها ، رنها ، رنها څهٔ ستا پر تندې ليکلې ده . ځه لاړ شه يوه بلا دې نهٔ خوري ."
زهٔ: "تروري ! دا رنها يو دلته شته؟ ستا پلار که خبر شو له دې کلي رنها وړي که څنګه؟ "
زردانه ترور: "هو زويه ! داسې نهٔ وي تهٔ په کلي کښې دا خبره يو چا ته وکړې . توره تياره به راباندې جوړه شي . تهٔ ورشه دا جامې وکاږه . هغه د جمال خان جامې واغونده . زهٔ به دا ستا جامې وميندم بل به دا تنې پر کښېږدم . تا خو پر قميس تنۍ درولې دي . له دې واره چې ژړګُل له ښاره راځي تاسو ټولو ته به که خير وو نوې جامې هم راوړي
زهٔ: "تروري ! ستا مور ، پلار او ورونه د ښار په تيارو کښې ژوند کوي که څنګه؟ "
زردانه ترور: "هو زويه ! پر خولهٔ لاس ونيسه ."

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ژړګُل به ښار ته لاړه ـ کار يې موږ کاوۀ ـ چرګو ته اوبه، داني اچول، هګۍ راټول ـ په هغه شپه که به مور نۀ راپسې راغله ما شپه هم د زرداني ترور په کور کښې کوله ـ داسي هم نۀوو چي د زرداني په کور کښې يواځي وېره شوه لکه د ژړګُل چي کور به وو موږ به ټول په خونه کښې ورسره ويدۀ وو ـ دۀ به وځنځير دروازه ته يو غټ تېر هم ودراوو ـ

زموږ په کلي کښې يوۀ زما مور چي له هر چا سره به پر هر ځای ناسته وه ـ کليوالو پروا ځکه نۀ په کوله چي ډمه وه ـ

د کلي بله ښځه تر کور د باندي له خپل ورور، تربور، نژدې قريب سره لا هم نۀ شوه درېدلای ـ يوه زردانه وه چي لېڅي به يې غړلې وې ـ د کلي له هر ځوان سره به په لاسونو رېغېده ـ په زوره زوره به يې ورسره خندل ـ

په کلي کښې داسي خلک هم ډېر وو چي له عزرائيله يې دومره نۀ شوه وېره لکه له زرداني ـ زردانه په دې مرداره، رنډۍ وه چي پرده يې نۀ کوله، نۀ يې خوښوله ـ

زۀ چي ډېر کم وم ـ کليوالو به ويل "د ډمې زوی سلطان يې ريباري کوي ـ " زردانه د کليوالو په هره خبره خبرېدله پروا يې نۀ په کوله ـ

زۀ په دې ورته حېران وم چي زموږ د کلي په يوۀ نر کښې دومره غيرت نۀوو لکه په ښځه زردانه کښې ـ

په دې بله ورځ ماځيګر چي ژړګُل له ښاره راغلی ـ د کور له سودا سره سره يې زموږ د پاره نوې جامې او نور شيان هم راوړه ـ په شيانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښي د دې تر زويانو(زامنو )زما ونډه ډېره وه .زما جامې او نور شيان يې را کړو چي کورته يې لېږلم پر تندي يې مچ کړم .له اوښکو ډکي سترګي يې ژر په بل لور واړولې.
زۀ چي کورته روان شوم لمن مي په شيانو ډکه وه.پر دې مي سوچ کاوۀ "دا زردانه ترورته څۀ ورپېښه ده چي تا کورته لېږي سترګي يې له اوښکو ډکي شي ."کورته چي ورغلم .بېخي لمر پرلوېدو وو.
مورکۍ: "هله ماته په دې نوو جامو کښي واګه راواچوه."
مورکۍ: "زويه ! اوس واګه ښکاره نشته بل زۀ په کار اړه يم .سهار به وختي که خير وو سر ومينځې.نوې جوړه به واغوندې."
هغه ماښام دومره راباندي اوږد شو چي څۀ درته ووايم .که د ماشومتوب خوب نۀ واى شايد تر سهاره مي نفس ختلى واى .ويدۀ شوى وم.سهار لمر راختو چي مورکۍ راپورته کړم.له پورته کېدو سره سم راغلم دننه مي په خونه کښي د جامو د مينځلوصابون ټوټه پيدا کړه.بدنۍ مي له اوبو ډکه کړه دباندي لاړم.د جامو په صابون مي سر ومينځلو چي راغلم مورکۍ چاى راوړلې.
مورکۍ: "تۀ دا چاى څيښه .زۀ تر هغه پوري ستا په پرتوګ کښي واګه اچوم."
ما ليده چي مورکۍ د بابا له څيرو ،سپينو جامو څيره ويستله. ستن او سپڼسى يې پيدا کړو.هغه څيره يې کت کړه ،ټکونه يې تر وکښو. هغه واګه يې په پرتوګ کښي را واچوله.ما د چاى له څيښلو پس په ژوند کښي اول وار(ځل) وو چي نوې جامې مي واغوستې .څۀ درته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووایم د هغې ورځې له خوشالۍ ـ شاید یو چا داسې ورځ او خوشالي په خپل ژوند کښې لیدلې هم وي ـ دا ورځ مې ټوله په کلي کښې تېره کړه ـ یوۀ او بل کورته ورتلم ـ په دې ورځ که هر څو د کلي هلکانو حرمونی راته ویل یا یې ویلي وو ما پروا نۀ په کوله ـ
داسې قضا ماپښین به وو چې کورته راغلم ـ مورکۍ چای پخکړې وې ـ دباندې د دېوال سایې ته ناسته وه ـ د چای پیالې ډکې وې ـ دباندې د نجونو په ګڼ شمېر رېغ کښې داسې سندره ویله کېده
"لاډو لاډ نګه څۀ غواړي ـ یو کړدی اوړۀ غواړي ـ په مالګې ښۀ تروۀ غواړي
حورې حورانې ـ پردېسې سلطانې ـ سلطانې زوی دې ژاړي
ایه (دغه) ورا د چا کره ځي ـ ایه ورا د خدای کره ځي "
په دې وخت کښې ګڼ شمېر نجونې زمونږ د خونو له شا څه د کور مخ ته را وګرځېدې ـ زما و د مورکۍ له څنګه د اوبو بدنۍ ډکه پروته وه ـ مورکۍ بدنۍ ته لاس کړ چې دوی را رسېدې مورکۍ اوبه پر وغورځولې ـ دوی سره منډې کړې ـ بېرته سره را یو ځای شوې ـ مورکۍ ولاړه شوه ـ
زمونږ په کور کښې خو څۀ وو نۀ ـ ګوره له خونې یې څۀ ورته راوړو ـ اوس خو ډېر وخت تېر دی هېر مې دي بیا یې نجونو ته وویل "اوس لاډو رانښکاره کړئ ـ" نجونو لاډو ور ښکاره کړه ـ ټولې نجونې سره یو ځای وې ـ په دې نجونو کښې یوه وړه ماشومه چې شین زړوکی پړونی یې پر سر وو ـ دوه ځایه خو ببخې غټ سوري وو باندې ـ د سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وښتان يې له لرې تر ښکارېدو. سور د غټو سپينو ګلانو قميس، پر هغه هم داسې واړهٔ واړهٔ سوري وو لکه په ډبره چې يې وکوټې. په لڅو پښو. خدای شته خپله غريبي او نېستي مې هېره شوه.
چې نجونې لاړې ما له مورکۍ پوښتنه وکړه
زهٔ: "په کور کښې څهٔ هم وو چې دې نجونو ته دې ورکړل؟"
مورکۍ: "هو زويه! يوه ورځ د بازګل ښځې پنځه روپۍ را کړې. هغه مې ورکړې."

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۳

د ژمي شپه که هر څو اوږده وه خو خوب مي نۀ پوره کېدو۔ سهار به مورکۍ په زور پورته کولم ۔ مورکۍ په زړۀ ډېره صفاوه ۔ له خدایه ډېره وېرېده ۔ سهار به یې ضرور لمانځۀ ته هغه وخت پورته کولم چې اذان به شروع وو یا به شوی وو۔ بابا خدای شته په لمانځۀ کښې څه سوست وو۔ زۀ مورکۍ په دې پورته کولم ۔ ماجت ته یې لېږلم چې بابا په لمانځۀ کښې سوست وو۔

په دې شپه مورکۍ څه اوګاره (ناکرار) وه۔ ماخوستن یې لا تبه وه۔ ټوله شپه یې په ټوخي تېره کړه ۔ سهارګاه وه چې مورکۍ ډېره ټوخي هلاکه کړه ۔زۀ هم له مورکۍ سره سم راپورته شوم ۔ دې یو ګړی سر په لاسونو کښې ټینګ نیولی وو۔ اخیر یې اوربل کړ۔ اوبه یې تودې کړې ۔ د اودس اوبه یې راکړې ۔ دې چائینکه پر کښېښودې او زۀ راووتم۔تکه توره تیاره وه ۔ اسمان له ستورو ډک وو۔

اودس مي وکړ۔بدنۍ مي دباندې په دروازه کښې کښېښوده ۔ څادر مي پر ځان راتاؤ کړو ماجت ته ورغلم۔ مولوي صېب سنت کړي وو۔ تر مهراب دباندې ناست وو۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ پر سنتو ودرېدم ـ کيلوال يو يو راتلو۔چا سنت کړي وو۔ څوک لا پـر ولاړ وو۔ مولـوي صـيب ولاړ شـو اقامـت يـې شـروع کړو۔ جمـع ودرېـده چـي سـلام و ګرځېدو۔ خلګـو ژر ژر خپلـه دعـا وکـړه ووتو۔ څوک د مولوي صيب دعا ته انتظار وو لکه زۀ۔

دعا وشوه ـ کليوال ولاړ شو۔ما ځان د مولـوي صـيب پـه خـاطر شـا تـه کړ چي مولوي صيب له مخه شو زۀ ورپسې شوم۔تر ماجت را ووتو۔ هر سړي دا هڅه کوله چي ځان ژر کور ته ورسوي ـ دلته رڼا سهار وو۔ د مخامخ کور د خوني وسر تـه مي کتـل چي لـوګـی را وتو۔نـري يـخ شمال يوې او بلي خواته ځنګاوو۔ له شـا را پسـې ږغ شـو "سلطانه وه سلطانه !۔ "

ما مخ ور واړاوو۔د نادرخان زوی بازخان وو۔روغبړ يې راسره وکړ۔ بازخان: "هغه د چا خبره (نۀ وړي نۀ راوړي) سلطانه ! يـوه شـپه مـي دا ستا ياري زردانې ته درسره بوځه۔سوال به درته وکړم۔ "

زۀ: "څۀ څۀ؟ "

بازخان: " زردانې ته مي درسره بوځه۔" واړۀ يې وخندل۔

زۀ: "تۀ څۀ وايې؟ زردانه که زما مور نۀ ده خو تـر زرګُلـه مـور رابانـدي ګرانـه ده ـ بلـه ورځ کـه دې داسي حرکـت وکړ۔زردانـه در خبـروم ـ پـه خدای پر تـوګ پـر سـر در وتـړي۔ ښـۀ سره معلوم يو۔تـول کلـی د دې يوې زردانې ځواب نۀ لري۔ "

بازخان: "پر ځان يې بده مۀ لګوه ـ کلی ټول در خبر دی ـ تـر اوسـه دې رېبـاري کولـه ـ اوس پـه خپلـه ورسره لګيـا يـې ـ د کلـي نـر او ښـځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليدلی يې چي په سپينه ورځ يې په غېږ کښي ټينګ نيولی يې . مچي درڅخه اخلي. اوس مچه بازي درباندي کوي."
زۀ: "بازخانه ! تۀ غلط يې."
بازخان: "هو زۀ مرداره نۀ پېژنم؟" ويې خندل.
زۀ: "بازخانه ! که ايمان تېرولای شې . په خپله ورشه ګني زۀ د مور رېباري نۀ شم درکولای. که هر څو مرداره يا رنډی ده."
بازخان: "د ډمي زويه ! دا به تۀ کوې . که وخت لږ وو که ډېر."
زۀ: "افسوس پر دې کوم چي د ډمي، حرموني زوی زۀ يم . د ډمانو او حراميانو کارونه تاسو دا خاندانه او حلالوني کوی."
بازخان شرک پر مخ يوه څاپېړه راکړه روان شو. زما تر سترګو د اور بڅرکي وغورځېدو. سترګو مو اوښکي وکړې. کورته راغلم بابا هم را پورته شوی وو. چای مو سره وڅيښلې . دباندي راووتم . لري د کور له شا د (څا )د شمال لور ته د ميراث شوي کاکا کنډوالو ته لاړم . په کنډوالو کښي ناست وم. د بازخان پر څاپېړه مي سوچ شروع کړ "کله به مي بازخان کله به مي زردانه ملامته کړه . بازخان مي په دې ملامتاوۀ چي په حقيقت نۀ دی خبر. زردانه په دې چي تۀ ولي له ما څخه په سپينه ورځ مچي اخلې ؟ دا خو يو حقيقت دی چي ټول کليوال شکي دي. کليوال څۀ کوې خو زۀ يې شکي کړی وم.
اوس لوی سړی يم . تۀ مي په غېږ کښي ټينګ ونيسې پر تندي مي مچ کړې. نۀ نۀ زردانه چي له ما سره څۀ کوي. د بازخان څۀ کار دی. اخير مي دا فيصله وکړه چي ورځې به بازخان به پر مخ په څاپېړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهې ـ که یې څۀ ویل کلیوالو ته به دا ټوله کیسه کوې بیا که خدای له دۀ شو که له تا ـ "

مخه مې وکړه د بازخان کورته ورغلم ـ یوۀ ماشوم وویل "د شېرخان کاکا په خونه کښې له ځوانانو سره ناست دی ـ "

د دوی د کور شا ته چې را وګرځېدم ـ د شېرخان کاکا د مېلمنو د خونې دروازه خلاصه وه ـ د خونې په دروازه کښې مې ټوخه وکړه ـ په بسم الله سره ور دننه شوم ـ په هغه ژوره خونه چې تقریباً یو ګز په مځکه کښې لاندې وه ـ تکه توره وړه خونه، اور په نغري کښې بل وو ـ دوی څلور ورته ناست وو ـ دوه د شېرخان زویان (زامن) یوې خواته بازخان او بلې خواته ښادک (د شېرخان وړور) ـ د څپلۍ له کښلو سره سم مې له هغو درو سره په لاس روغبړ وکړ چې تر دۀ ور ورسېدم پر مخ مې داسې شرک څاپېړه ورکړه چې په ټول عمر به یې نۀ وه خوړلې ـ ښادک ونیوم ـ

ښادک: "لېونی یې؟ "

زۀ: "نۀ نۀ تۀ مې ورپرېږده ـ "

بازخان: "ښادکه! ویې باسه ـ دا د ډمې په زوی خو د سړي رنګ بد برېږي ـ "

زۀ: "د ډمانو او حرامیانو خویونه خو اوس تاسو دا حلالوني او خاندانه کوی ـ "

ښادک زۀ دباندې را ویستم ـ دی ورغلی زما څپلۍ یې راوړې ـ ما دباندې څپلۍ په پښو کړې ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښادک: "سلطانه ! څهٔ کیسه ده؟ "
ما د سهار وختي ټوله کیسه ورته وکړه.
ښادک: "پر خولهٔ لاس ونیسه.زهٔ یې پوهومه بله ورځ به داسي کار نهٔ کوي."
زهٔ: "بله ورځ یې خولهٔ ورماتوم.نن خو مي د خبرو نهٔ،د څاپېړي بدل ځیني واخیستو. د خبرو پر وخت نهٔ د ښادک نهٔ زما د دوی د کور ولاړو هلکانو ته پام وو.ښادک په خونه دننه شو.زهٔ را روان شوم چي تر شا مي ور وکتل ماشومان مي په نظر راغلو.
په دې خو دا خبره په کلي کښي خوره شوه چي سلطان بازخان پر مخ په څاپېړه وهلی دی.سوکه سوکه تر بابا او مورکۍ هم دا خبره را ورسېده.بابا ډېر پوچ رد راته وویل.بابا خو چي به د بازخان نوم واخیستو ټول بدن به یې په رېږد شو.
بابا: "تا به بازخان څنګه په څاپېړه واهو؟ د دغو زور موږ لرو؟ "
زهٔ: "بابا ! دا یې بیا دا کلی نهٔ بل کلی.دا سړې ډوډۍ او زړې جامې به په یو بل کلي کښي هم پیدا کړو. خاوري دي یې شي انسانیت، پښتنواله او مسلماني.داسي کلی او خلک بل ځای هم پیدا کېږي چي خیرات وکړي ټولو کورو ته سمي غوښي ورکړي.په تا پسې ماشوم راولېږي وايي "زرګُلي ترور ! مورکۍ ویل را دي شي.دا لرې یا سر به یو سي." ته ور شې د لري لرشن هم په تا توی کړي. کومي ښځې ته چي د سر صفا کېده ګران وي هغه یې وتاته درکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورځ یې له سمي غوښې برخه درکړې ده؟ خیرات پوخ کړي یوه ورځ یې بابا ور غوښتی دی؟ په هغه بل کلي کښې خیرات وشي ـ هغو خلکو ته برخي راوړي چي ښه ګزاره یې کېږي ـ پاخهٔ خیرات ته هم له لري لري هغه خلک راغواړي چي نوم یې په وځي ـ په موږ خیرات نشته؟ ،زکواة نشته؟ ـ مولوي که هر څو روپۍ لري دوی زکواة ودهٔ ته ورکوي ـ نهٔ مولوي دا وایي چي په ما زکواة نهٔ کېږي، نهٔ دوی په دې خپل زکواة پسې حال کوي چي زموږ زکواة ختلی دی که نهٔ ـ په هدیره او ښادۍ کښې روپۍ و ملایانو او هغو خلکو ته ورکوي چي نوم یې په وځي ـ وموږ ته هغه سرې ډوډۍ او پاته سرې غوښې را کوي ـ"

بابا: "هلکه سلطانه ! دا خبري خو ستا نهٔ دي ! !ـ"

مورکۍ: "دا د هغې مرداري زردانې خبري دي ـ دا یې ټولي له هغې څخه زده کړې دي ـ هغه خپل حرموني یې هم ټوله ورځ هلکانو ته داسي خبري کوي چي ورته حېران به شې ـ"

بابا: "ښځې ! د زردانې دې خبرو ته څهٔ پام دی ـ دا خو د ښځو د عقل خبري نهٔ دي ـ"

مورکۍ: "دا د زردانې خبري دي ـ"

دلته وماته زردانه ترور را په یاد شوه ـ په دې سوچ کښې ولاړ شوم ـ "ښهٔ چي له دې ځایه لاړ شو ـ زردانه ترور خو پاتېږي ـ نهٔ نهٔ که په هر څهٔ بازخان جوړېدو جوړوم به یې ـ که نهٔ جوړېدو ورسره سپینوم به یې ـ"

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو ورځي بابا او مورکۍ په وېره کښې وو چي نن به بازخان وهلی وي. نن به يې وهلی وي. خدای شته وېره زما هم شوه. د زردانې ترور دا يوې خبري زما تسلي کوله چي دا سي خلګ سړی په خپله نۀ په بل سپکوي. دلته به مي له ځان سره وويل "بل که هر څوک وو. د زردانې ترور له وېري ږغ نۀ شي درته کولای."

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۴

زۀ د زردانې له کوره بند شوم. په دې کښې میاشتې څۀ کال تېر شو. زردانې به کله یو زوی جمال (جماالدین) را لېږلی وو. کله به یې بل زوی سدو خان را لېږلی وو چې دۀ ته وو ایه رادې شي. زۀ د زردانې کور ته له وېرې نۀ ورتلم. زردانه و ماته معلومه وه چې لستونې به یې را وغړل بیا یې وچاته اسره نۀ کوله. له هره چا سره یې سپینوله. بازخان څۀ د بازخان پلار نادرخان ته یې لا وار نۀ وو خطا.

بازخان هم پر زردانه نۀ شو ورتللای. زما د څاپېرې غېچ یې له ژړګُله کښو. هر ځای چې به یې ژړګُل پیدا کړو تنګاوۀ به یې. د خلګو په مخ کښې به یې د زردانې پېغورونه ور کول. ژړګُل کله کله له کوره راوتو بیا یې له کوره راوتل هم پر بندو. هر کار یې زویانو (زامنو) جمال او سدو کاوۀ.

یوه ورځ د یو چا په کور کښې ښادي وه. مورکۍ دورې تللې وه. بابا دباندې وتلی وو. زۀ د ماپښین له لمانځۀ راغلم. اور مې بل کړ. چائینکه مې پر کښېښوده. جمال راغلی چای پخې شوې. په دواړو مو سره وڅېښلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال: "سلطانه ! تهٔ مورکۍ غوښتې."
زهٔ: "څهٔ يې کولم؟"
جمال: "څهٔ خبر یم ویل يې که نهٔ راغلې له دې واره په خپله پسې ورځم."
زهٔ: "بیا هم."
جمال: "نور نهٔ یم خبر خو دا يې راته وویل."
زهٔ: "سمه ده چې له مورکۍ او بابا یو کور ته راشي درځم."
جمال: "نهٔ سلطانه ! تهٔ دا راته ووایه تا زموږ کور ولي پرېښودی؟"
زهٔ: "جماله وروره ! اوس خو شکر دی لوی یم. په هر څهٔ پوهېږم. کله به زهٔ دا سپین سرې مور او سپین ږیری پلار هوسا کوم؟ تر څو به مې دا سپین سرې مور د بل په خوشالیو کښې دریا وهي. د بل د کور سړې ډوډۍ او زړې جامې به ما او پلار ته راوړي. ما دا اراده کړې ده زهٔ مزدوري کوم. خپله سپین سرې مور کور کښېنوم. بس نوري د بل د کور سړې ډوډۍ او جامې نهٔ په راوړم بل ته داسي وکړه چې پلار دي بل وار ښار ته تلو تهٔ هم ورسره لاړ شه. ښار به ووینې. یو دوه واره چې تهٔ ورسره لاړ شې. په ښار کښې به څهٔ شناخت پیدا کړې. بل وار به زهٔ هم درسره لاړ شم. دورې به یو کار پیدا کړم بل تهٔ هم اوس لوی یې. پلار به له دې سترو خلاص کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله خبره د خوني هغه دوه ساعت وخت له ما خو پاته شو چې تهٔ او سدو یې نهٔ پرېږدئ."

جمال: "وروره! په خدای چې ښه صلاح دې راکړه. تر څو به تا هم مور ساتې مورې هم."

زهٔ: "جماله وروره! ستا د مور خو دې پر ډېرو نرانو بلا وګرځي. ستا د مور په سر خو د دې کلي ښهٔ مړونه نهٔ شي کېدلای."

جمال ولاړ شو د رخصت لاس یې را کاوهٔ دا یې راته وویل "وروره! بېغمه شه. ورور به دې هم داسې کوي لکه تا چې ورته وویل."

جمال روان شو. ما خونه جارو کړه. چائینکه او پیالې مې ومینځلې. راغلم کښېناستم. په دې سوچ کښې ناست وم چې "دې بلا ته اوس ورځې که نهٔ. که ورنهٔ شې دلته در پسې راځي. که راغله یا ورغلې د نهٔ ورتګ وجه به ضرور ورته وایې. پوره کال دې دو که ورکړې ده."

زهٔ لا په دې سوچ کښې وم مورکۍ په خونه را دننه شوه. په یوهٔ لاس کښې یې دریا په هغه بل کښې د پاته سړو غوښو کاسه. هم یې په هغه بغل کښې سره نغښتې ډوډۍ نیولې وه.

دریا او کاسه یې کښېښودې. ډوډۍ یې په دسترخوان کښې ښوده.

مورکۍ: "زویه! تا ډوډۍ خوړلې ده که نهٔ."

زهٔ: "هو موري! هم مې ډوډۍ خوړلې هم مې چای."

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورکۍ: "زویه ! که دي نۀ ده خوړلې -ډوډۍ او غوښې مې راوړې دي۔"
زۀ: "نۀ موري ! هر څۀ مې کړي دي۔ تۀ ورشه لاس او مخ و مینځه راشه پر دې کالي پرېوځه۔لږ ارام به وکړې۔"
دې لاس او مخ نۀ ومینځلو راغله پر هغه بالښت یې سر ولګاوه ۔ کوم ته چې ما ځنګ وهلی وو۔دستي داسي ویده شوه لکه یو سترې ماشوم چې سر تر بالښته وړي بیا ویدۀ وي۔خدای شته ډېر زور یې راکړ۔سترګې مې له اوښکو ډکي شوې۔
په دې وخت کښې زردانه په دروازه کښې ودریده ۔ما د لاس په اشاره پوه کړه چې دباندې در وځم۔دا نیهامه شوه۔زۀ سو که ور ووتم۔دباندې د ختیځ د دېوال سایې ته سره کښېنستو۔
زردانه: "ښۀ تۀ داراته و وایه ولې نۀ راځې؟"
زۀ: "تۀ دا زما سترې مور او پلار نۀ وینې۔"
زردانه: "ښۀ یې وینم هم په خبره یم۔"
زۀ: "چې وینې یې نو دا خو هوسا کېده غواړي۔"
زردانه: "هو خود یې غواړي۔"
زۀ: "نو بیا څۀ پوښتني کوې؟"
زردانه: "داسي نۀ ده ،داسي نۀ ده ،داسي نۀ ده ۔ صفا صفا ووایه ۔کیسه څۀ ده؟ دا عبث خبري پرېږده۔"
زۀ: "نۀ دي عبث۔"
زردانه: "دي۔که مۀ وایه نۀ مې درته ویل۔"

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ: "ښۀ نۀ مي پرېږدې۔"
زردانه: "هو هو۔"
زۀ: "په دې نۀ درځم۔زۀ اوس ځوان يم۔تۀ ما پـه غـېږ کښـي ټينګ ونيسې او مچي را څخه اخلې۔په دې کښي دي کوم چم دی؟ "
زردانـه: "نـۀ داسي نـۀ ده ۔پـه غـېږ کښـي خـو دي زۀ لـه هغـه وختـه ټينګوم ،مچي درڅخـه اخلـم چـي تـۀ ماشـوم وې ۔دا هـم نـۀ دی عذر۔"
زۀ: "تۀ په دې خبره يې چي دا کليوال پر ما او تا کوم شک کوي۔"
زردانه: "تۀ پرېږده دا بربند کليـوالان ۔ټولـه شـپه پـه دېوالـو اوړي را اوړي ۔سـهار لـه هـم پـه هغـو کورونـو کښـي عزتمنـي ښـځي غواړي۔
دا خـو تـۀ هـم ټـول ښـۀ پېژنـې چـي تـر مـا ينې محـدوده دي ۔د وربنداري پړونی تر ماينې ځغلوي۔"
ماتـه عزيـز ټېکـدار را پـه يـاد شـو چـي زۀ يـې د مـوټر څنګ تـه ولاړوم۔د موټر په شا کښي يې ببشمبره غوټي پروتي وې۔
زۀ: "عزيز ټېکداره !دا دومره غوټي۔"
عزيزټېکدار: "چي شپږ يې د بل مـاينې نـۀ سـاتلې د هغـه ټېکـدار ببخي ماينه......"
زردانـه: "پښـتانۀ وايـي(د ښـار دروازې تـړل کېـږي نـۀ د خلګـو خولې)۔تۀ په دې خبر يې۔زۀ چي تـا نـۀ ووينم بدن مـي اور اخلـي اور۔تۀ په دې څۀ خبر يـې چـي مـا دا دومـره وخت پـه رټـو اوښـکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېر کړی دی. خو زما زړۀ اوس هم دا نۀ مني - ریښتیا، ریښتیا راته ووایه."

زۀ: "ښۀ چي نۀ مي پرېږدې بیا به وعده راسره کوې چي ما څۀ ویل هغسي به کوې هم."

زردانه: "ستا په سر مي دې قسم وي چي څۀ تا ویل هغسي به کوم."

زۀ: "ښۀ اوس چي زۀ ځوک در یادوم هغه څۀ کوې. په دې ټول کلي کښي به وچا ته رېږ نۀ کوې. یو ما وجمال ته څو خبري کړي دي هغه به هم هغسي کوي."

د نۀ ورتګ مي د بازخان کیسه له سره تر پایه ورته وکړه. د زرداني سترګي له اوښکو ډکي شوې. وار یې نۀ شو وه. پر را وغورځېده. په غبږ کښي یې ټینګ ونیوم. مچي یې را څخه اخیستې. زما په زړۀ یو خدای ښۀ خبر وو چي څومره دربی یې کاوه. ما ویل داسي نۀ مورکۍ یا بابا را باندي راشي.

چي زردانه ترور روانه شوه. د خوني د ختیځ په کونج وګرځېده. د لوېدیځ په کونج ببو جانه انا راجاروته. ببو انا بېخي ډېره سپین سرې، پر ملا کږه، تک سپین وېښتان یې په سرو نکریځو سور کړي وو.

ببو انا له عمرو په دې کلي کښي د تبابت کار کاوو. ښځو په خپلو ناروغیو کښي له ببو انا څه مشورې او دواګاني اخیستې. ببو انا چي تر ما را ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببو انا: "هله زویه ! که دي یو غړپ اوبه راکړې. له تندي مرم."
زۀ: "څۀ سختره ده کور کښېنه." پر و مي خندل.
ببو انا: "ستا د پلار رېږه وشکوم. تۀ بیا و ماته شو کړې کوې."
ما منډه کړه. بدنې مې راوا خیسته. دوې سې (هغه ځای چې کډی پرږدي )ته ورغلم. بدنې مې له ګوډي را ډکه کړه. د ببو انا شر او شور مورکۍ هم راو ښنه کړه.
مورکۍ: "ببو انا ! خدای دې راوله. چیري ورکه یې؟ "
ببو انا: "ستاسو مور په دا در څۀ او څۀ کړم له نمکه او اتامه په چپ . د اوبو غوړپ نۀ دربا ندي پیدا کېږي . خلګو ته لاري ښیاست . " یو څه پوچ یې لا وماته وویل بیا په خپلو کښي په ګپه شوې.
مورکۍ: "په پلانکۍ دي حال شته. په پلانکۍ دي حال شته ...؟ "
ببو انا: "ښې دي ببخي ښې دي . د بخت راجا لا یو څۀ وخت مخکي یو مانده اولاد پیدا شوی وو. ډاکترانو ورته ویلي وو. په ښیښه کښي به یې ږدئ . څو روپۍ یې د ورځي او شپې ځیني غوښتې .زۀ چې ورغلم ټول مې له هسپتاله را په مخه کړو چې کور ته مې را وستو. هغه د خپلو اناګانو چل مې ورسره وکړ. کډی مې وکښ، پرورړ مې پکښي هوار کړو. پر پراړۀ برسېره مې وړۍ هواري کړې. لندي مې پر کښېښوده."
مورکۍ: "اوس څنګه دی؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببو انا: "اوس سم غټ هلک دی ـ د بخت راجا خسرګنۍ ودې
کار ته حېرانه ده ـ وایي زموږ یقیقن نهٔ پر راتلو چي داسي هم
کېدای شي ـ "
مورکۍ: "بخت راجا څو زویان او لوڼي لري ـ "
ببو انا: "درې زویان، یوه لور لري ـ لور یې تر ټولو کشره ده ـ د
بخت راجا بیا دا مشر زوی داسي خاوري خوري چي تمامه ورځ
یې لاسونه له لوټو ډک وي ـ "
مورکۍ: "خو ورته ویل به دي چي په سورلاستي (ګړه)
یا (خوړې) ورته دم کړه ـ "
زهٔ په دې سوچ کښېي شوم چي دا سورلاستی وڅهٔ ته وایي؟
ببو انا: "ودوی ته نژدې به سورلاستی نهٔ وي ـ که به وي ـ "
مورکۍ له ډېره سوچه پس وویل "شته ولي هغه منګل ـ "
زهٔ دلته پوه شوم چي سورلاستی قاتل ته وایي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۵

اوس مجبوره وم ـ بله چاره نۀ وه ـ که نۀ ورتلم زردانه راتله ـ د بابا او مور کې تر مخ يې په غېږ کښې ټينګ نيوم ـ مچې يې را څخه اخيستې ـ
سهار چې را پورته شوم ـ ماجت ته لاړم ـ لمونځ مې وکړ ـ کورته راغلم ـ ژر ژر مې چای وڅيښلې ـ مخه مې وکړه د زردانې کورته ورغلم ـ زردانې او ژړګُل دواړو پرو ړ راوړی وی ـ په صندوخ کښې يې هګۍ په ترتيب ښودې ـ زردانې چې زۀ وليدم را ولاړه شوه ـ د ژړګُل تر مخ يې په غېږ کښې ټينګ ونيوم ـ څو کلکې کلکې مچې يې را څخه واخيستې ـ
زردانه: "ژړګُله ! تۀ دا هګۍ سمې کړه زۀ سلطان ته چای راوړم ـ "
ژړګُل: "سمه ده ـ "
زۀ : "ژړګُل کاکو ! له دې واره دې ښې ډېرې هګۍ برابرې کړې دي ـ "
ژړګُل: "هو سلطانه ! خو اوس ګرمي ده ـ که په ژمي په لس روپۍ خرڅېدې ـ اوس په پنځۀ خرڅېږي ـ بس ګزاره به په کوو ـ د بل روزګار خو زۀ نۀ يم ـ "
زۀ : "تۀ خو هم اوس هګۍ په يوه نيمه ، دوې رانيسې ـ په پنځۀ او شپږ خرڅېږي ـ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژرګُل: "هو شکر دی."
جمال له دباندي دننه راغلی. ځان يې ښۀ جوړ کړی وو. سر غوړ، سترګي توري، صفا جامې "اسلام عليکم !."
زۀ: "وعليکم سلام. جوړ پخير." روغبړ وشو.
زۀ: "جماله ! خير خو دی څنګ دي ځان جوړ کړی دی. يو چا وادۀ ته غوښتی يې که څنګه؟"
جمال: "سلطانه وروره ! له بابا سره ښار ته ځم."
زۀ: "دا خو ډېر ښۀ کار دی. په ښار کښي به لږ بلد شې. نور څۀ که دي نۀ کړو تر لاسه. د خپل کور ناروغه خو به تر هسپتاله پوري ورلای شې. موږ خو ټول کلی لکه ړاندۀ چي په کور کښي مو ناروغه پيدا شي. مولوي خوار ته ولاړ يو. هلته تۀ راسره لاړ شه وماته هسپتال نۀ دی معلوم. که معلوم دی له ډاکترانو سره په ژبه نۀ پوهېږم."
زردانې ترور چای راوړې. موږ چای وڅيښلې. ژړګُل کاکو او جمال روان شو. ژړګُل کاکو د ډړو صندوخ په شا کړ. جمال د هګۍ ټوکرۍ (کارۍ، بچۍ) پسې اخيستې وه. زۀ، زردانه او سدو په کور کښي پاته شو.
زردانه ترور: "سلطانه ! اوس لاړ شه. هر کار چي کوې ماښام ضرور راشه. زۀ او سدو يوازي يو. وېره مو لا نۀ شي. د سدو يوائې دی."
زۀ: "سمه ده."

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورته راغلم . له مورکۍ سره مي د کور کار بېغمه کړ. لاړم يو څوړی بوټي مي راوړو. ماپښين شو. په کلي کښي د ځوانانو غېږ وه .تر ماځيګره وغېږ ته ناست وم . ماښام شو. له لمانځه پس د زردانې ترور کورته وراغلم . دباندي يې د خونو تر مخ کالی هوار کړی وو. ډوډۍ تياره وه .د ډوډۍ له خوړلو پس زردانه په کار اړه وه بيا يې لمونځ وکړ. زموږ د درو سره بشترې يې پر يو ځای په خونه کښي هوارې کړې وې . دې ته خو مي له شرمه رنګ نۀ شو کولای . د ميان پر بشتره په خپله زردانه ترور پرېوته . زۀ او سدو هم په کيسيو سره ستړي شو. سدو ولاړ شو پر خپله بشتره واوښتو.

ما لمونځ وکړ.راغلم چي راغلم پر بشتره پرېوتم.زردانې سر را پورته کړ.د تېلو وړوکی څراغ يې پوهه کړ. زۀ د زردانې له ښي لوره پر بشتره پروت وم . په زړۀ مي يو خدای ښۀ خبر وو. هم په دې وېره کښي ويدۀ شوی وم . يو وخت چي راويښ شوم . زردانې لاس را باندي اچولی وو. زۀ په خولو داسي خيښت وم لکه يو سړی چي له جامو سره په والۀ کښي ډوب کړې بيا يې راوخېژوې.

وېري اخيستی وم .په خولو کښي غرق وم. خوب مي وتښتېدو. ويښ پروت وم . يو حرکت مي نۀ کاوو.يو وخت زردانه ترور پر هغه بل اړخ واوښته .له ما څخه لږ وڅکېده . ما داسي محسوسه کړه چي سدو ته يې ځان ور نژدې کړ. لاس يې پر واچاوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وېره وېره کښې ویده ٔ شوی وم .یو وخت چې زرداني ترور لاس راباندې واچاوو بیارا ویښ شوم. په ځان کښې مې پټ پټ توکل چې ولي راتلې . بېرته به هغه د ماپښین د دېوال خبرې را په یاد شوې چې زرداني ترور ویل "که نهٔ راغلې زهٔ درځم "زهٔ په دې سوچ کښې وم چې مولوي صېب اذان  شروع کړ.
ما د زرداني ترور لاس سوکه له ځانه واړاوو. راپورته شوم . زردانه ترور ګوره ویښهٔ وه که راویښهٔ شوه .دا هم راپورته شوه . څراغ یې بل کړ. ماته یې د اودس اوبه راکړې چې زهٔ تر خونه راوتم .د زرداني ترور له شا رېغ شو "سلطانه ! ماجت ته لاړ شه. داسې نهٔ وي بیا چای ته نهٔ شې را. "
زهٔ: "تروري ! راځم. "
دباندې مې اودس وکړ.راغلم سنت مې دلې وکړ بیا ماجت ته لاړم.دا ورځ د جمعې مبارکې وه. مولوي صېب نصیحت شروع کړ.
مولوي صېب: "کلیوالو ! ! نن به د اسلام پر پنځو بنیادو خبرې نهٔ کوو. پر دې په څو څو واره رېغبېدلي یو. فرض ،فرض دي . تاسو څهٔ ستاسو ماشومانو ته مې هم ښودلي دي .نن به له دې دوو یوه کوو یا به تاسو سر خلاصوئ یا به زهٔ کډه کوم . تاسو به بل ملا پیدا کړی .زهٔ به یو بل ځای خپله روزي پیدا کړم.
په تاسو کښې دا دوه خویونه دي. یو دا چې هر یو دا هڅه کوی که مې د چا د مځکې ټوټه لاندې کړه . ټوټه څهٔ داسې خلک لا ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تاسو کښې ليدلي دي چې يوه بېلچه خاوره د بل له مځکې خپله ته را واړوي.
دويمه دا چې د انسان زړۀ ازارول دا سې دي لکه اوي(71) واره چې کعبه ونړوې. دا خبره په غور واورئ.د انسان زړۀ، د انسان زړۀ.د انسان زړۀ."
لۀ دې خبرې سره يې سترګې له اوښکو ډکې شوې .دا يې غوښت چې کليوال په دې نۀ شي پوه چې مولوي وژړل.د دواړو سترګو تر منځ يې د پوزې دا نرم ځاى په ګوتو کښې ونيوو .يو څۀ وخت چپ ناست وو بيا يې لاس را لرې کړو سترګې يې رڼې کړې "شته په تاسو کښې دا سې سړى چې دا لوړه (قسم)وکړي چې په يوه ورځ کښې يې درې څلور کسه نۀ وي ظهير کړي."
په اخير کښې يې لاس پورته کړ.دعا يې شروع کړه .لمر ښۀ پورته راغلى وو چې له ماجته راووتو .د زردانې کورته راغلم. زردانې ترور او سدو چاى څيښلې وې.
زردانه ترور: "سلطانه ! څۀ شوې چې ورک شوې . ما خو ويل کورته تللى دى."
زۀ: "نن جمعه مبارکه وه.مولوي صېب نصيحت کاوو."
زردانه ترور: "ښۀ." ولاړه شوه چاى يې تودې کړې رايې وړې.ما چاى په تازيله څيښلې.
زردانه: "چاى په سوکه وڅيښه.څۀ تازيله دې ده."
زۀ: "ځم له قمرالدين سره مې د مزدورۍ قول کړى دى."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زردانه ترور: "خود لاړ شه ماښام چي راشې .جمال او پلار ګوره راشي که نهٔ."
زهٔ: "سمه ده."
را روان شوم. تر غرمې مې د قمرالدین د کور خونه لوڅه کړه. غرمه مو ډوډۍ خوړلو ته لاس مینځلو. ډېرې بدې تناکي یې کړې وې. د ډوډۍ د خوړلو پر وخت د قمرالدین زما ولاس ته پام شو.
قمرالدین: "سلطانه ! کار کوه .دا لاسونه به دي پاخهٔ شي .تر اخیره خو به د زردانې یاري، د زرګُلې سرې ډوډۍ او زرې جامې نهٔ وي. په کار کولو سړی نهٔ کم اصلېږي."
د قمرالدین خبرو ډېر بد اثر راباندي وکړو. د لاسو خوږ مې له خوا خاطرو ووتو بیا قمرالدین خاوره په بېلچه ماتوله .ما اوبه ورته راوړې .تر ماځیګره مو د خوني شا وخوا خاوري خیشتې کړې . ماځیګر مې قمرالدین ته وویل "زما مزدوري راکړه. زهٔ سبا نهٔ راځم. د کار د پاره بل سړی پیدا کړه."
قمرالدین: "هو خود یې درکوم. سبا دا ختې پورته کول غواړي. که تا نهٔ وای ویلي ما درته ویل. نن خو هم په در کښېوتی وم. پر نیمه ورځ مې نهٔ شوې شړلای."
چي قمرالدین روپۍ را کولې ژړګُل وجمال مې لیدو چي له ښاره د کور په لور راروان وو. دا تسلي مي هم وشوه کورته لاړم. ماښام مورکۍ دباندي کالی هوار کړی وو. ماجت ته نهٔ لاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمونځ مي پر هغه کالي وکړ. موركۍ ته مي ور ږغ کړ "ډوډۍ راوړه داسي خوب راځي. "

موركۍ: "خود يې در وړم ستړی به يې. ډوډۍ وخوره ويده شه. زۀ او بابا يې وروسته خورو."

موركۍ شلومبې او ډوډۍ راوړې. ژر ژر مي يو څو ګولې وکړې. ډوډۍ مي واړوله. بالښت مي سم کړ. د تېري شپې ګرمي را په زړۀ شوه چي زړداني په تکه سره ګرمي کښې دننه ويدۀ کړم. څۀ مطلب به يې وو چي يو وار يې په دومره ګرمي کښې دننه ويدۀ کړې بيا به يې لاس لا هم درباندي واچاوو. په دې کښې يې څۀ مقصد وو. که دې دا چمونه نۀ کولای. خلګو په خدای که دا تهمت درباندي ويلی وای. په دې سوچ کښې ويدۀ شوی وم. د شپې يو وار را ويښ شوم. ولاړ شوم. د ماخوستن لمونځ را ياد شو. په وس مي نۀ وو. بېرته راغلم پرېوتم بيا په ځان نۀ يم خبر شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۶

هغه وخت را ویښ شوم چي جمال راغلی ناري يې کړې ـ زۀ چي راپورته شوم ـ لمر ښۀ لوړ راغلی وو ـ زۀ او جمال دننه لاړو ـ جمال کښېنستو ـ مورکۍ چای پر کښېښودې ـ ما او به واخیستې دباندي مي مخ و مینځلو ـ راغلم مورکۍ چای راوړې ـ موږ ته يې پیالې را ډکي کړې ـ

مورکۍ: "سلطانه زویه ! داسي خوب ـ د ماخوستن او سهار لمنځونه دې دواړه قضا کړو ـ د سهار لمانځۀ ته مي پورته کولای نۀ شوې ـ تا خو یو لمونځ هم نۀ قضا کاوو ـ له برایه دي دوه لمنځونه قضا کړو ـ"

زۀ: "هو موري ! نور څۀ کولای شم ـ له خدایه به معفي غواړم ـ قضا يي به يې را وګرځوم ـ"

مورکۍ: "تۀ او جمال خپله ګپه وکړئ ـ زۀ ډوډۍ پخوم بیا ګرمي کېږي ـ"

مورکۍ ولاړه شوه ـ زۀ پربالښت پرېوتم پښې مي وغځولې ـ

زۀ: "یاره جماله ! بدن مي داسي ټوک ټوک دی ـ په خدای که یو حرکت کوي ـ زۀ به پښې درته وغځوم ـ"

جمال وخندل ـ خالي پیالې او چائینکه يې اړول ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال: "د پښو د غځولو اجازه به دي اول غوښته. ریښتیا په ځان حال نهٔ لري چې د پښو له غځولو پس اجازه غواړې."

زهٔ: "ښهٔ تهٔ حال راکړه. ښار ته لاړې څنګه وو؟ خوند یې کاوو؟"

جمال: "خوند څهٔ خوندونه. یو ښاهسته هسک کورونه، تر ورځ یې د شپې ډېر خوند وو. یو رڼاګانې، ښاهسته خلک. نر او ښځې ګډ ګرځېدو. دا مخپټې چا پېژندلې هم نهٔ. ښځې د ورځې څهٔ د شپې یو ځای ګرځېدې. سوداګانې یې کولې یاره ناشوده (ناشونې) خو بله وه ښځو موټر چلول. یو څالاکه ماشومان، په منډه تر سړک یوې او بلې خواته اوښتو را اوښتو. په موټرونو کښې یې چورت نهٔ واهو."

زهٔ: "ښهٔ بیا خو ژړګل کاکو ډېر ګرځولی یې."

جمال: "نهٔ مڼا د هغه سړي زوی وګرځولم. د هګیو دکان چې یې دی. بابا خو چې ښار ته لاړ شي د هغه سړي له دوکانه دباندې نهٔ وځي. تر ماښامه په دوکان کښې وي. ماښام له هغه سړي سره کور ته لاړ شي. سهار چې را وځي وختي سودا واخلي کورته راځي. له دې واره یې یوه بله ناشونې وکړه. د یو څو کسانو ګنې (څهرې) یې راوښودې. که چیرې دا سې خلک درباندې پېښ شو دا پوښتنه یې درڅخه وکړه چې د چا زوی یې؟. زما نوم بدل ور اخله. پېژني دې ستا ګنه (څهره) ببخې ډېره مورته ورته ده."

زهٔ: "څهٔ مطلب؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال: "نۀ پوهېږم. ګنه مي مورته ورته ده. نوم به د دۀ بدل ور اخلم."
زۀ: "دا چي پټ پټ کېږي له کوره نه را وځي. زردانه ترور يې له کوره په زوره راباسي. ښار ته چي لاړ شي په منډه کورته راځي. ضرور يو چل شته."
جمال: "برايه چي کورته راغلو. دی او مورکۍ مي ډېر پر دې خبره ستړي کړو. تر اخيره يوۀ هم دا نۀ وويل چي دا سي کيسه ده. نۀ سلطانه ! ! زۀ په دې کښي ورک يم. هر بد کار که کړی وي خو بابا کړی دی. دا مورکۍ يې ولي له ځانه سره وتړله."
زۀ: "خير دا به معلوم کړو چي ژړګُل کاکو څۀ کړې دي. تۀ دا راته وو ايه. په ښار کښي ښۀ وګرځېدې."
جمال: "هو ما خوستن مو بېخي ناوختـه ډوډۍ وخوړه. د ډوډۍ له خوړلو پس خيرجان کاکا (د هګيو دوکاندار) خپل زوی علي جان ته وويل "زويه ! دا د ژړګُل زوی سرکس ته بوځه." علي جان موټرسائيکل را ويستو. زۀ له شا ورسره کښېنستم. د شپې يې د ښار په دې ګڼه ګوڼه کښي سم کړ. زما پر موټرسائيکل اول وار وو چي سپور شوم لاس مي ټينګ په علي جان پوري نيولې وو. له وېري رېږدېدم."
علي جان راتـه وويـل "يـاره جماله ! ځوان سړی يې ستا پر موټرسائيکل ويره شي. بېغمه کښېنه. تۀ هغه د خلګو ښځو ته خو وګوره. پر موټرسائيکل څنګه ناستي دي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته مي پر موټرسائيکلو سپرو ښځو ته پام شو.ښځې به له شا ناستي وې.دواړې پښې به يې يوه پر بله اړولې وې. ماشوم به يې لا هم په غېږ کښي وو.دلته علي جان موټرسائيکل دومره تېز چلاوو.زما دومره وېره شوه چي ورته ومي ويل "دا موټرسائيکل سوکه چلوه.داسي نهٔ چي خوږ مو کړي."

علي جان وخندل "جماله! وېرېږه مهٔ.نن يې لا ستا په خاطر سوکه چلوم." يو ځاى يې له ډېرو بائيسکلونو ،موټرسائيکلونو او موټرونو سره موټرسائيکل ودراوو.يو سړى راغلى.پر موټرسائيکل يې سپين نمبر وليکل.دهٔ ته يې يو ګردى شى ورکړ.دهٔ په جېب کښي واچاوو.

پر مخ روان شو.يو ځاى يې روپۍ ورکړې دوه واړه ټيکټونه يې راواخيستو بل ځاى يې په دروازه کښي ولاړو پوليسو ته ونيول. هغو سوري کړو.بېرته يې دهٔ ته ورکړو.دننه يې پرېښودو.دننه چي ورغلم مسلمانه!! يو خلګ وو.نر او ښځې ګډ.زاړهٔ،ځوانان او هلکان،زړې ،پخې او پېغلې،وړې دومره ډېر وو چي شمار يې نهٔ کېدو.

يو ځاى بيا علي جان دوه ټيکټه په روپو را واخيستو.د يو ډېر هسک ځا ته په زينو وختو چي په دړو جوړ وو.د هغه پر غاړه واړه ولاړ وو.په ځا کښي سندري ږغېدې.دوې ښځې په کښي ګرځېدې.دوو کسانو يوهٔ بل ته ويل "ياره دا ښځې نهٔ دي.دا کدړاګان دي." ما علي جان ته وويل "دا کدړا څهٔ بلا ده؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

علي جان راته وویل "نرښځېان ." ما ورته وویل "علي جانه وروره ! اوس هم نۀ شوم پوه ."
علي جان ډېر په قهر راته وکتل "تا ولاکه زما پلار هم پوه کړي . «شي مېل» اوس پوه شوې که نۀ ."
ما وخندل چې ومې خندل "خو دغسي وو ایه . "علي جان داسي حېران غوندي را وکتل "تۀ په انګلسي پوهېږې؟ " ما ورته وویل "هو."
علي جان راته وویل "په دې خپله مورنۍ ژبه ولي نۀ پوهېږې؟ "ما ورته وویل "مورنۍ ژبه مي زده ده ،نۀ په لوست او لیک بل نۀ هغه لفظونه چې ډېر په احتیاط پټ په کار کېږي ."
علي جان وویل "څنګه څنګه نۀ شوم پوه؟ "
زما په دې کښې سودا اړه شوه چې هغه نرښځېان څۀ شی دي . چیري او څنګه ژوندکوي .زموږ د خاورو په خړو کلیو او کوڅو کښې چې پیدا کیږي؟
هغه دوه زاړۀ موټرسائیکلان ولاړ وو. یو وخت دوه کسه دننه څا ته راغلو. موټرسائیکلونه یې سټارټ کړو. په څا کښې یې دومره تېز چلول په خدای که علي جان پر مځکه چلولی دي . سوکه سوکه په څرخ کښې د څا غاړي ته را ورسېدو. شا و خوا د څا پر غاړه ګرځېدو. خلګو روپۍ ورته نیولې .په یوۀ لاس یې روپۍ ټولولې په بل یې موټرسائیکل نیولی وو. خوند خو یې ډېر وکړو. یو چې څا د دړي نۀ وای. ښوربېدو زما وېره کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل ځای یې بیا په وړو موټرونو کښې سپور کړم. وماته ځان
دا سي ښکارېدو لکه د ماشومانو کار چي کوم . ټول په ږیره
خلګ په کښي سپارۀ وو. هغه وارۀ موټران مو سره جنګول.
دوه ځایه څرخونه وو. یو پورته کښته کرځېدو بل شا و خوا .
علي جان ویل "په دې کښي دي بیا سر ګرځي . " نور
حیوانان، مرغان مو هم ولیدل ناوخته را ووتو. سړي ته یې هغه
د دۀ راکړی شی څو روپۍ ور کړې. موټرسائیکل یې را روان کړ.
کورته راغلو ویدۀ شو. سهار چي را پورته شو. چای مو
وڅیښلې. د علی جان پلار بابا ته وویل "شکر دی اوس دي دا
زوی ځوان دی. په دې مي ډېخي زړۀ ښۀ شو چي تعلیم یافته دی.
دا ښۀ دی چي په کلي کښي مو سکول شته. ډېر بختور خلګ
یاست. زموږ د قام خو دا بد بختي په برخه ده. یو ځای ملایان
ورته ولاړ دي سکولونه نۀ پرېږدي بل ځای بیا استاذان نۀ ورځي
. ټول پر کورونو ناست دي حرامي تنخواګاني خوري.
یوه ورځ د یو استاذ مور مړه وه. زۀ هدیرې ته ورغلی وم. په مور
پسې یې له هغو مردارو روپو اسخات کرځاوو. زۀ په کښي
ناست وم. دا ملنډي مو په له ووهلې. د سمال به مو راونیوو زما
قبول دی بېرته به مو ولاړ سړي ته ور کړ. ما در بخښلې دي.
زۀ په دې سوچ کښي ورک وم "تۀ دا ملایان ګوره. په دې ورځ هم
خلګو ته سر نۀ ور خلاصوي. که نن یو ملا د دې سړي دا روپۍ
وغورځووي چي په دې اسخات، زکواة او خیرات نۀ شته نۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي بيا به وګورو چي خلګ داسي کوي او که نهٔ. د خلګو د ماشومانو ژوند ور بربادوي او که نهٔ.
د دې خلګو ايمان وماته معلوم دی. دوو شيانو ته ببخي ژر وار خطا کېږي. يو داسي بدرنګي بل د خان نوم ته.
زهٔ د غټو خلګو هديروته هم ورځم. د ثواب په نيت نهٔ له شرمه. سبا په مخه سره ورځو. زهٔ د هغو په هديرو کښي هم دا خلګ وينم په مړي پسې روپۍ ډېري وېشي. زهٔ هلته هم دا سوچ کوم "تهٔ دې خلګو ته وګوره. ټول عمر يې د خلګو حق خوړلی دی. د خلګو جائيدادونه يې لاندي کړي دي. پر خلګو يې ظلمونه کړي دي. نن د هغو خلګو حق را اخلي بېرته يې و هغو خلګو ته په اسخات او خيرات کښي ورکوي. دلته هم د مولوي صېب ايمان..." ملايان صاحبانو ته څهٔ ډېري ورکوي.
دا خبري مي په دې درته وکړې. تعليم يافته خلګ نور که نهٔ وي په دې ښهٔ پوهېږي چي حراميان څوک دي؟ حراميتوب څوک کوي؟ " باباواړه وخندل. زهٔ پوه شوم چي بابا ته ستا دا خبره ور په ياد شوه چي (حرامي او د ډمي زوی زهٔ يم. د ډمانو او حراميانو خويونه تاسو دا خاندانه او حلالوني کوی). کاکا خپله خبره جاري وساتله.
"ژړګله! بايد پر دې لوستو او تعليم يافته خلګو ونهٔ خاندو. د دوی پر حال بايد افسوس وکړو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ پوه شوم چي د کاکا ذهن د انصاف کچاريو ته لاړ۔ د بابا خندا بې ځايه ورته ښکاره شوه. د دۀ دا خيال نۀ وو چي بابا پر دې وخندل چي زموږ په کلي کښې سکول نشته. د ملا سبق يې ويلی دی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۷

کلونه پس مورکۍ دباندي په هغه نغري کښې چاى پر ېښې وې چي چارپېره يې دوه ګزه دېوال پر راګرځولی وو۔نور يې سر د سالي غوندي په بوټو پوښلی وو۔ سهار وختي او ماځيګر ښه ګزاره په کښې کېدله۔غرمه او ماپښين ډېره تکليفجنه وه۔اوس بوټي ډېرو بادونو او بارانو له ځانه سره وړي وو۔پر سر يې اوس لوى لوى سوري وو۔په دې تک سرۀ لمر به د نغري وڅنګ ته مورکۍ ناسته وه۔

زۀ د لمانځۀ پر ځاى ناست وم۔دعا مي کړې وه ۔پخپله وړه خونه کښې مي شا و خوا کتل ۔چت څۀ دېوالونه يې لا په لوګي تور وو۔ د شمال لور ته يوه وړه دړه پر دېوال ټک وهلې وه ۔يوه زړه کاسه،درې زاړۀ غابونه پر پراتۀ وو۔يو د غوړو دونيم سېره ژېړ ټيم (ډوبى ) پر پروت وو۔ د خورما درخته پر جوړه وه چي موږ به بوره که به بوره نه وه ګړه مو په کښې ښودله

د ختيځ لور ته يو لوړ ځاى چي موږ يې سر په لرګيو پوښلی وو۔ برسېره مو دوې زړې بشترې ټولي پر ښودې چي هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلتک(برېستن) ، هره نالي ته مورکۍ رنګ په رنګ پيني ينبي وي ـ لاندي يو سپين غټ صندوخ چي مورکۍ به زموږ مينځلي جامې پکښي ښودي.

د سهېل له لور بې وتهولو شوو بشترو ته نژدې دروازه وه ـ لرې را دې خواته يو غټ سوری چې د کړکۍ کار موئيني اخيستو ـ په ګرمي کښي به خلاص وو ـ په ژمي کښي به نيم په ختهو بند وو ـ نيم به مو په ګدړو بنداوو ـ

د لوېديځ لور ته په ميان کښي نغری، په چت کښي پر هغه برابر دود کښ (د لوګي د پاره سوری ) ،يو جار (د بوټو ځای)جوړ وو ـ په ژمي به د نغري له يوې غاړي (لوري)مورکۍ له هغې بلي غاړي بابا کښېنستو ـ داسي نۀ چي يو زموږ کور داسي وو ـ تقريباً د ټول کلي که يوه خونه وه که دوې، ټولي داسي وې ـ

په ټول کلي کښي دوه صفا ښاهسته کورونه وو لکه د نادرخان او ملک منګل ـ د دغو کور ته رنګارنګ مېلمانۀ هم راتلو ـ ودې ته مي فکر هغه د جمال د ښار خبرو واړاوو ـ

دا ښۀ شو چي مورکۍ دننه راغله ـ چائينکه او پيالې يې کښېښودې ـ پيالې يې ډکي کړې ولاړه شوه ـ د دړي له سره يې هغه د بورې ټيم (ډوبی) راخيستو ـ ما مصله را ټوله کړه ـ راغلم د مورکۍ له څنګه کښېنستم ـ پياله مي راپورته کړه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورکۍ: "زويه ! دا روزانې پرېږده .دا ستا په وس نۀ کېږي .له خدايه به بله روزي غواړو. د غم روپۍ را وګټې خو نيم نۀ شوې پاته."
زۀ: "موري ! دا يو څو ورځې دي ورسره اموخته به شم.تر ما واړۀ هلکان د بل مزدورۍ کوي. ټوله ورځ بېلچې وهي."
مورکۍ: "هغه له وړوکوالي په بېلچو وهلو اموخته دي."
زۀ: "زۀ به هم ځان په اموخته کوم. مورې ته يې څوک تياره راوړي."
زما و د مورکۍ تر ميان لا دا خبري رواني وې چي چای خلاصي شوې.مورکۍ په خوا بدي ولاړه شوه. چائينکه او پيالې يې ټولي کړې.ما د بوال ته شا ووهله.د ښار سوچ مي پر سپور کړو. بېرته را غبرګ شوم دې خپلو ناپوهانو خلکو او خړو کورونو ،سپېرو دښتو ،خړو پوټيانو او ښکو ته.
زړۀ به مي د شا له پښتي ونښتو "نۀ نۀ ځم نۀ ځم .دا خپل خلک او خړ کورونه د دې خپلو دښتو سپېرې دوړي .پر دې سرکسونو او پارکونو نۀ ورکوم ." ګوره په دې کښې څومره وخت تېر شوی وي.په دروازه کښې د خاټو (غاټو ) کاکو زوی ودرېدو.
هلک: "سلطانه ! بابا ويل ماښام دي ډوډۍ ته راشي."
زۀ: "خيرات مو کړی وو؟ "
هلک: "نۀ مېلمانۀ دي."
زۀ: "مېلمانۀ څوک دي؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلک کیسه راته وکړه چي هلک روان شو. ماته دا سوچ را ولوېدو چي "دا څنګه ډوډۍ ده چي ته یې هم غوښتی یې. په داسي ډوډۍ کښي خو بابا هم تر ننه چا نه دی غوښتی. ته یې څنګه وغوښتې؟ "

تر ماښامه مي دا خبره له ذهنه نه ووته. ماښام داسي وخت ور روان شوم چي شه ترغونې وه. د اسرې (لنډي برات) د څلورمي ورځې میاشت تر رڼه سترګه(ځلان سوری) لاندي تر غرهٔ ښه لوړه ولاړه وه. تر میاشت لاندي بیا د غرهٔ تر سره د اسمان کیناره داسي تکه توره وه چي سړي نه ده اوورو ګمان پر کولای شو، نه د ګرځ چي ور ورسېدم. دوی دباندي کالی هوار کړی وو. چارپېره پنځهٔ شپږ بالښته پراته وو. نور یې تلتکان کت کړي وو. د بالښتونو پر ځای یې یښي وو.

له سلامه پس مي څپلۍ د هوار شوي کالي څنګ ته کښېښوې چي خاتول کاکو او زویان ټول مخته راغلو. روغبړ یې راسره وکړو کښېنستم. زما له کښېنستو سره سم د دوی ږغ شو. مور ببرته ولاړ شو د کالي څنډې ته ورغلو.

سید ګل کاکو له درو زویانو سره را ورسېدو. له سلامه پس روغبړ وشو چي دوی کښېنستو. خاتول کاکو زوی ته وویل "ورشه اوبه راوړه." هغه اوبه راوړې. سید ګل کاکو ته یې ونیوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سید ګل کاکو: "خاتوله ! مور شومیا(ناوه) نیولې ده. تر هغه مور ستا په شي څکه نۀ کوو تر څو چې دي بخښلي نۀ یو."
خاتول کاکو: "سید ګله ! خدای به ټولي خیر کړي .تۀ دا او به وڅښه."
سید ګل کاکا: "خاتوله ! په اخلاص درته راغلی یم. نن زما غاړي ستا چاړه ده .نن مي د هر څۀ اختیار ستا دی. ما تۀ شین زړی کړی، ستړی کړی یې. ناحقه مي پر خلکو ګرځولی یې."
خاتول کاکو: "سید ګله ! ما هم داسي په اخلاص بخښلی یې لکه تۀ چي راغلی یې. زما ستا له اوو مه سپېڅسي قسم دی." سید ګل کاکو هڅه وکړه چي ور ولاړ شي.
خاتول کاکو: "سید ګله ! له دې ګایه(خبري) مي قسم دی. تر هغه چي اوبه دي نۀ وي څښلې."
سید ګل کاکو اوبه ښودې. خاتول کاکو یې په ناستي په غاړه کښېي لاس ور واچول. یو ار بیا ټولو په غېږ روغبړ وکړو.
ډوډۍ راغله .ښه ښوروا او توري، سپیني غوښي وې .ښۀ تر بسو مو وخوړه .دسترخوان ټول شو. خاتول کاکو خپل زوی ته وویل ورشه ترخې چای پخې کړه.
سید ګل کاکو: "سلطانه زویه ! ډېر خوشاله شوم .چي خاتول ډوډۍ ته راغوښتی یې بل دي په ډېر کم عمر کي د یو ډېر لوي سړي کار کړی وو."
زۀ پوه شوم چي په دې یې ډوډۍ ته راغوښتی یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ: "سيدګل کاکو ! کوم کار؟ "
سيدګل کاکو: "هغه بازخان چې دي په ځاپېړه وهلی وو۔ "
زۀ: "سيدګل کاکو ! مجبوره يې کړم۔ " ټوله کيسه مې ورته وکړه
سيدګل کاکو: "زويه ! دا نوی نسل تر موږ ښۀ دی ۔د خبرې څۀ د ځاپېړې ځواب نۀ ور پرېږدي ۔موږ لېوني يو چې پر ځوانانو لګېږو۔ "
خاټول کاکو ته يې مخ ور واړاوو "خاټوله ! په ما و تا خو يې درې مياشتې ملنډې ووهلې ۔په دې هلکانو يې پخدای که درې ورځې ووهي۔ "
زۀ: "سيدګل کاکو ! هغه څنګه؟ "
سيدګل کاکو: "زويه ! په دې خو خبر يې چې زما او د خاټول پر لښتې سره داوه وه۔ "
زۀ : "هو خود خبر يم۔تۀ په خاټول کاکو ملامت هم وې۔ "
سيدګل کاکو: "هو زويه ! په پوهېدم ۔خبره مې تر خولۀ وتلې وه بيا مې دا تربورګلوي وسترګو ته ولاړه وه۔ "
زۀ: "سيدګل کاکو ! هغه ورځ چې مولوي صېب نصيحت کاوو۔ زۀ پوهېدم چې تا يادوي چې تر ماجت را ووتو۔يوار مې لا دا خيال شو چې سيدګل کاکو ته ووايه پر تربورو باچاهي مۀ کوه۔ په تربورو باچاهي وکړه بيا له دې خپله کم عمر او ستا له سپينې ږيرې شرمېدم ۔اوس دا راته ووايه ولې پښېمانه شوې ۔بې دريمه د خاټول کاکو کورته راغلې؟۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيدګل کاکو: "زويه ! کيسه خو ډېره اوږده ده ـ لنډه به يې درته وکړم ـ ما چي په خاتول دعوه وکړه ـ خاتول په خان ننوتو ـ خان زۀ ورو غوښتم ـ مور دواړو خپلې ورشې ورته وکړې ـ خان وويل "سمه ده بله ورځ به دواړه خپل ګواهان راولئ ـ " زما ګواهان خو نۀ وو ـ خاتول هغې ورځې ته خپل ګواهان راوستو ـ په هغه ورځ خان نۀ وو بلې خواته تللی وو ـ هم داسي په دې کښې درې مياشتې تېرې شوې ـ کله به خان نۀ وو ، کله په مور کښې يو مانده ، کله مور دواړه راغلي خان به نۀ وو ـ
يوه ورځ مو خان پيدا کړی ـ دواړو ورته وويل "دا زمور فيصله را وکړه ـ اوس خو دي کولمې راکښې پرې کړې ـ "
خان يوه ورقه راکړه ـ دا هغه پلاني سړي ته ورو وړئ ـ هغه به ستاسو خلاصه در وکړي ـ " مور هغه ورقه راواخيستو هغه سړي ته راغلو چي يو عام کاروبار يې د کرايې په دوکان کښې کاوو ـ دۀ په دوکان کښې د ېوال ته شا وهلې وه ـ مور هغه د خان ورقه ورته ونيوه ـ دی هغسې د ېوال ته پروت وو ـ يو بل ځوان چي په دوکان کښې ورسره ناست وو هغه ته يې وويل "تۀ هغه کتابچه راواخله ويې ګوره ـ زۀ په کومه ورځ خلاص يم ـ "
چي دا خبره يې وکړه ـ ما ېرته هغه ورقه ځيني راونيوه ـ خاتول ته مې وويل "راځه ـ " چي را ووتو ـ څو ښکنځل مې ځان ته وکړو ، څو خاتول ته ـ له هغه پس مې ورته وويل "ما ښام ډوډۍ وکړه ـ زۀ له زويانو سره کورته درځم ـ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

په موږ سپين ږيرو کښي که دا ستاسو عقل واى ـ ولي به مو دومره ځله خوارول ـ "

په دې وخت کښي د ختيځ له لوري توره وريځ راروانه وه ـ تنا او برېښنا نۀ سره پرېکېده ـ

د چاى له ځينښلو سره سم د خاټول کاکو له کوره را رخصت شو چي زۀ کور ته راورسېدم ـ د باران څاڅکي هم شروع شو ـ کالي دباندي هوار وو ـ ما خپل کالى له واره سره ونغښت دننه مي يو وړو ـ موركۍ خپل او د بابا كالى دننه راوړو ـ يوه د اوبو بدنۍ دباندي پاته وه ـ زۀ په هغه زورور باران کښي ور ووتم ـ بدنۍ مي رادننه کړه ـ يو ځاى باران زورور وو بل ځاى هوا ـ زما په خيال داسي زړۀ به نۀ وو په ټول کلي کښي چي په کوګل کښي به پر کرار وو ـ

خونه څڅېدله چي په کور کښي څۀ لوښي وو هغه مو په خونه کښي اوبو ته کښېښودل ـ د دروازې خواته خونه څڅېدله ـ موږ پروا نۀ په کوله ـ د موركۍ څراغ په لاس کښي وو ـ وار به نۀ وو هغه دېوال ته به ورغله په کوم دېوال چي به دريا ځړېده بيا به مي ور ناره کړه "موري ! تۀ دا څراغ راوړه ـ دا ډک لوښي به وباسم ـ " چي ما به لا ټول لوښي نۀ وو کتلي ـ موركۍ به بيا تر دريا را رسېدلې وه ـ د باران تر درېدو پوري موږ په ولاړې ولاړ وو ـ د سهارګاه وخواته مو بشترې هوارې کړې بيا زۀ ويدۀ شوى وم ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه غرمکۍ وه چې را ویښ شوم ـ د مخ د مینځلو اوبه مې را واخیستې راووتم ـ د خونو شاته وګرځېدم ـ کیلوال مې لیدو چې د خونو پر چتونو ولاړ وو ـ خود به د هر چا خونه لکه زموږ دا تویېده ـ خاوري یا به یې ګل پر اچاوۀ ـ هوا بته ولاړه وه ـ ډنه مېږ (تبش) وو ـ کله چې د باران له اوبو ډک ولاړ وو ـ نېز (سېلاب) راغلی وو ـ

زموږ د کلي پر ماندۀ اوبه لوړي را اوښتې وې ـ تر هغه مځکه چې په سترګو ښکارېده ختې او اوبه اوبه وه ـ څو ځوانان چې کانې او لرګي یې په لاس کښې وو ـ له هغه بله لوري یو اځي لاجور شېخ لا سونه سره غورځول ـ ما بدنۍ کښېښوده مخه مې ور وکړه ـ په دې چټک ور روان وم چې لاجور شېخ خوږ نۀ کړي چې ور نژدې شوم ـ لاجور شېخ د یوې وړې ماشومې سور نرۍ پړونی تر سر تړلی وو ـ شین اوږد قمیس یې په غاړه ، پرتوګ یې دو مره غړلی وو ـ خلګو به داسې محسوسوله چې بېخي یې پرتوګ شته نۀ ـ تکه سپینه د ماشومانو سدرۍ (چې تل به خپلې مور په کور کښې ورجوړوله) په غاړه وه ـ توري زړې ، پرې څپلۍ یې په پښو کښې کشولې ـ

یو لوی مار چې نیازۀ (سېلاب ) راوړی وو ـ غولۍ غولۍ پروت وو ـ بېخي د حرکت نۀ وو ـ ځوانانو وژلی ـ لاجور شېخ نۀ ور پرېښودی ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دليل يې داوو "دا ماران هغه ماران نۀ دي کوم چې تاسو په پخوانيو نکلونو کښې اورېدلي دي . دا ماران تاسو تجربه کړئ . دا چې د انسان ږغ واوري تښتي . تر هغه انسان نۀ خوري چې پښه يې لوړه نۀ وي پر يښې.
هغه ماران او د پوان اوس هم هغسې مست ګرځي . اوس هم هغسې سپين د پو د تور تابع دی . اوس هم هغه ښاماران هغسې پر خزانو پراتۀ دي خلګ چيچي . د زهرو اثر يې بيا د چيچلي سړي په لمسيانو او کړوسيانو کښې لا وي . څړيکې او دردونه ګالي . "
په دې وخت کښې غمخوار کاکا وويل "شيخ صحي وايي . دا ماران سړی نۀ چيچي . که يې چيچلای اوس به زما له دوولس تنه کالۀ څه يو نۀ وو . زما د غرۀ په باره کښې له کلونو څلور پنځۀ ماران اوسي چې موږ په کډه راشو . زۀ مېښې ته ورشم . دوی ووينم په خونه کښې د ننه پر غولي ګرځي چې کله موږ په کډه ور شو بيا دوي د خونې په شاتيرو کښې ګرځي . "
دلته په ځوانانو کښې د يوۀ ږغ شو "غمخوار کاکا ! لږ ښۀ پکښې وکړه . " کټ کټ ټولو وخندل .
غمخوار کاکا په تونده لهجه ورته وويل "ناپوهي دي ښۀ درسره وکړي . "

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۸

هم داسي وخت تېرېدو ـ ما خپله مزدوري کوله ـ کليوال هم په پېغورنو ستړي شو ـ نوريې حرمونی ، ډم او د زرداني يار راته ويل نۀوو په وس ـ يوه زردانه وه ـ هغه د چا پر چم ځان مي نۀ شو ځيني خلاصولای ـ اوس مي د مزدورۍ له روپيو ښې ډېري روپۍ هم له مورکۍ او بابا پټې کړې وې ـ

اوس کلونه تېر وو ـ جمال څۀ کوې سدو لا څو واره ښار ته تللی وو ـ يوه ورځ مي جمال کښېناوو ـ

زۀ: "ياره ! که له دې واره ښار ته تللې زۀ هم درسره ځم ـ دورې به يو کار پيدا کړو ـ "

جمال: "دريمه ورځ زۀ ځم ـ هلته مي ښځې ډېري پروتې دي ـ په دوکان کښې ښځې شی نشته ـ په دې مي وځنډولې چې لږ نور يخ شي بيا ښې ګراني خرڅېږي ـ "

د جمال طبيعت ډېر خراب راښکارېدو ـ له جماله مي پوښتنه وکړه ـ

زۀ: "دا طبيعت دي دومره ولې او په څۀ خراب دی؟ "

جمال: "سلطانه وروره ! مور دې خدای له موره خلاص کړي ـ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ: "ولي؟ "
جمال: "موږ چي يې په ښۀ او بد نۀ وای پوه کړي ـ ښاهسته به د دې نورو خلګو په شان ګرځېدو ـ نۀ به مو د چا په ژوند کار وو ـ نۀ به مو د چا په درد ، غم ،لوږه او تنده کار وو ـ "
زۀ: "جماله ! دا څوک دی چي ستا دومره زړۀ په شين دی ـ زموږ په کلي کښي يو څو کوره دي چي ښه ګزاره يې کېږي ـ نور خو ټول دا زموږ په شان وږي ،تږي او لوڅ دي ـ "
جمال: "ياره ! هغه بله شپه مورکۍ د لنډي صادق د کور کيسه راته وکړه ـ ياره ! خوب څۀ قسم پخدا ای اوښکي مي په سترګو کښي نۀ درېدې ـ
هغه بله شپه بابا او سدو ويدۀ شو ـ زۀ هم په بستره کښي پروت وم ـ مورکۍ بشترې ته راغله په بستره کښي ناسته وه ـ سر يې تينګ په يوۀ لاس نيولی وو ـ ما پر ږغ کړو "مورکۍ ! خير دی ولـــي دي ســر پــه لاس کښـــي نيـــولی دی ـ ســـر دي خوږېږي؟ "مورکۍ راته وويل "نۀ زويه ! ـ " ما ورته وويل "بيا ولي په بستره کښي ناسته يې؟ سر دي په لاسونو کښي ټينګ نيولی دی ـ دومره وش دي وکړو ـ يو کيسه خو شته؟ "
مورکۍ وويل "نن د زرغونې ترور پوښتني ته ورغلم ـ دومره مي زړۀ پر خوږ شو چي راياده شي سر مي پرله وګرځي ـ يوار خو يې نږور کله ښه وي کله لېونۍ وي ـ ټينګه يې په کور کښي تړلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي۔ مېږۀ خو يې تر نږور له مخه لا ناروغه وو۔ په ځولۍ کښې يې هم دباندي هم دننه وړو۔
يوه دا وه په کلي کښې به ګرځېده ۔ له چا ګرېوان وړی په مزدوري ور کړی۔ چاته وړی په مزدوری ور ورېشلي ۔ کله چا زوړ قميس، چا من غنم په زکواة کښې ور کړي۔
يو زوی يې درلود چي مزدوري، پور او دار يې کول، کور يې چلاوو۔ اوس دا هم ناروغه پر بشتره پروته وه ۔ په رڼو اوښکو يې ژړل ۔ ما ورته وويل "زرغونې تروري ! تا خو په دې نېستي، ناروغي کښې بېخي چورت نۀ وهلو۔ په هغه سره نېستي او ناروغي کښې به دي تل خولۀ له خنداډکه وه۔ "
دې يوارد را پورته کېدو هڅه وکړه ۔ ببرته يې سر پر بالښت ولګاوو۔ دومره د زړۀ له زوره يې وژړل ۔زۀ د هغې غيرتمندي زرغونې وژړاته حېرانه وم ۔ سپين او تور قمر وېښتان يې داسي سره نښتي وو لکه کراسته ۔ هغه غوښن سپين مخ يې نن پر هډونو خالي پوست پاته وو۔ شنۀ خالونه يې په ژړ مخ کښې تور ښکارېدو۔ يو څۀ وخت پس يې ما په خپل پړوني اوښکي ور پاکي کړې۔
زرغونې ترور راته وويل "زرداني لوري ! يو خو به ته وماته حق رابخښې تا له ما سره بېخي ډېري نېکۍ کړې دي ۔ "ما ورته وويل "زرغونې تروري ! تۀ ومونږ ته حق رابخښه۔زمونږ څۀ حق دی۔ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغوني ترور راته وويل "زرداني لوري ! ستا د احسان بدل خو له ما سره نشته خدای به يې در کوي . ستا به دا خيال وي چي د زرغوني په خپله ناروغي او نېستي خوا بده ده . نۀ لوري ! دا درې مياشتي کېږي يوه لور مې په کده راغلې ده .د مېړۀ يې د مېرګي غوندي ناروغي ده . د دې يو ځای تې .بې ده بل ځای يې په نس (د اولاد په ځای )کښېي دانه ده . درې ورې لورکی ، يو ورکی زوی لري . په خدای چي راغلي دي که يې تبخی پر اړولی دی ګني دی خو څۀ کوي.

د دې لورکی اولاد مې تر زړۀ لوېږي."

بيا لکه له اوبو ډک لوشی ويشې ده . سترګي يې له اوښکو ډکي شوې .له دې واره زما هم تر وس ووتو ومي ژړل .را ولاړه شوم. زرغونه ترور مي هغسي پر بالښت پروته پرې ښوده."

په دې وخت کښې زما هم سترګي را ډکي شوې. مورکی ته مي وويل "بس."

زۀ: "زۀ اوس څۀ ورسره کولای شم .له ما سره خو پنځلس سوه (1500 ) روپی دي .دا خو مي له بابا او مورکی په دې پټي کړې وې چي ښار ته په لاړ شم."

جمال: "پنځه سوه (500 ) به مورکی ته ور کړو.مورکی به يې ور ورې . زۀ او تۀ چي ښار ته لاړ شو.هګی به خرڅي کړو بيا خو روپی په لاس راځي."

زۀ: "سمه ده."

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه سوه روپۍ مي جمال ته ورکړې.
زه: "جماله ! داسي نه وي ته زردانه ترور یا بابا او مورکۍ ته
ووايې چي سلطان له ما سره ښار ته ځي."
جمال: "سلطانه ! لېونی خو نه یم."
دريمه ورځ سهار وختي د پاځه سړک په لور روان شوم. له ډېره
انتظاره وروسته جمال هم را ورسېدو. له لږ انتظاره وروسته
زړوکی بس راورسېدو. د جمال هګۍ يې د بس سر ته وخېژولې.
موږ دننه د بس د ميان په خالي چوکيو کښې کښېنستو. نوري د
شا چوکۍ ټولي خالي وې.
ښه ډېر لاړو. یو وخت د استاذ له ځنګه ناست سړی را روان شو.
پر یوه او بله چوکۍ يې لاس ښودل تر موږه راورسېدو. جمال پر
ما رږغ وکړو "پنځه سوه (500) روپۍ ورکړه." ما پنځه سوه
روپۍ ورکړې.
هغه سړی: "سل روپۍ نوري را کړه."
جمال: "یاره ! هګۍ دي څۀ او سپني خو نه دي چي ته يې دوه سوه
(200) غواړې."
سړی: "ځه پنځوست (50) راکړه. اوس خو به خوشاله يې."
جمال: "اوس دي هم ډېر تاوني کړو." پنځوس دۀ له خپله جیبه
ورکړې.
یو بل په عمر پوخ سړی چي زموږ په ځنګ کښې د هغې بلي خوا
په خالي چوکيو کښې یواځي ناست وو. ویې خندل او ویې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويل "زموږ پخوا کښې د يو سپين ږيري دا ګپه ډېره مشهوره ده ـ وايي هغه د خپل بس مونشي ته ويل ورارۀ کرايه خو معلومه ده ـ په بشتره کښې يې سره رسوه ـ" پر دې ګپه مو ښېخې ډېر وخندل ـ
يو وخت مې جمال ته وويل "زما خوا ګرځي ـ" جمال ښيښه خلاصه کړه ـ زۀ يې د ښيښې خوا ته واړولم ـ هغه سپين ږيري سړي له دې واره ښېخې ډېر په زوره وخندل ـ
جمال: "کاکا ! بيا يوه ګپه در په ياد شوه که څۀ؟ "
سپين ږيرى: "هو زويه ! تر دې ځوانه پوري يوه خبره راپه ياد شوه ـ يوه ورځ يو سړي ښځه بس ته راوخېژوله ـ ښځې ورته ويل "تۀ ورشه يوه د پلاستيک خالي لوته را واخله ـ زما په لاره خوا ګرځي ـ" هغه سړي وخندل "ستا عورته زموږ بخته...... د خلګو ښځې نارينه ته وايي ورشه يو څۀ پروټ راواخله په لاره کښې به مو سات پر تېر وي ـ زموږ دا وايي ور شه خالي لوته راوړه زۀ خوړلي پرې باسم (باقي )ـ "
د سپين ږيري پر دې ګپه مو ښېخې ډېر وخندل ـ داسي په تلو تلو کښې ماپښين قضا ښار ته ورسېدو ـ هګۍ مو ډېرې په احتياط را کوزي کړې ـ رکشه ته مو وخېژولې ـ د هګيو دوکان ته راغلو ـ هګۍ مو له رکشې راکوزي کړې ـ په دوکان کښې ناست سپين ږيري وويل "د چاى يې ږغ هوټلي ته ور وکړئ ـ"
جمال: "کاکا ! د ماځيګر اذان شوى دى که نۀ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاکا: "زویه ! دا ښار دی څهٔ کلی خو نهٔ دی چې د ماځيګر لمونځ خلګ ناوخته کوي۔ موږ جمع لا وکړه۔"
جمال: "کاکا !موږ به لمنځونه وکړو۔ لږ به مو له دوړو (ګرځو ) مخ صفا شي خو داسې شوي يو لکه د خاورو شيطانان۔"
کاکا: "سمه ده ۔ ور شئ لمنځونه وکړئ۔ له هغې خوا چې راځئ د چاى ورته ووايا ست۔"
جمال: "سمه ده ۔"
لمنځونه مو په مخامخ ماجت کښې وکړو۔ له هغې خوا مو هوټلي ته د چاى وويل۔ چاى راغلې۔
کاکا: "جماله ! دا ورور تر تا مشر نهٔ ښکاري؟ "
جمال: "نهٔ کاکا ! دا مې ورور نهٔ دی۔ کليوال مې دی۔"
کاکا: "په ګنه کښې تا ته ډېر ورته دی ۔ يقين مې نهٔ راځي چې کليوال دې دی۔"
جمال: "نهٔ کاکا ! ريښتيا درته وايم۔"
کاکا: "سمه ده ۔ زويه ! د سړي په پېژندنه کښې زهٔ اکثره نهٔ غلطېدم۔ نن ګوره څنګه غلط شوم۔"
جمال: " کاکا ! موږ ځو په ښار کښې ګرځو۔"
کاکا: "خود لاړ شی ۔ ما ښام بيا کور ته راشئ ۔ داسې نهٔ وي تا سو په هوټل کښې شپه وکړئ۔"
جمال: "نهٔ کاکا ! ليوني خو نهٔ يو چې په هوټل کښې به شپه کوو۔"

(c) ketabton.com: The Digital Library

را ووتو. په ښار کښې جمال له مخه زۀ ور پسې وم . هغه د جمال خبره وه په کلي کښې چې يې راته کړې وه . يو ښاهسته ځايونه، ښاهسته خلک، نر او ښځې ګډ ګرځېدو. نۀ مخ پټي وو. يو ځای خړ شيان پخېدل. جمال ور وګرځېدو. له هغو شيانو يې دوې دانې را واخيستې چې د ستي دستي هغه سړي له جوش غوړويو راوکښو. له هغو دوو دانو يې يوه په لاس کښې ور واخيسته هغه بله يې و ماته په کاغذ کښې ونيوه . دۀ خپله خوړه. جمال: "سلطانه ! دا ګرمه و خوره . دا ګرمه ښۀ خوند کوي ."

زۀ: "د دې شي نوم څۀ دی؟ "

جمال: "سمبوسه."

ما يې هغه نرمه خوا په لاس کښې و نيوه . په هغه پنډ ځای مه يې خولۀ ډکه کړه . توبه توبه يو ګرمه وه بل ترخه. خولۀ يې را پخه کړه. ما اوف اوف کول جمال را باندې خندل. يو وخت پر داسې ځای برابر شو چې په کتار کښې موڅيان ناست وو. څوک تر سرۀ، څوک تر ژړ او څوک تر زرغونۀ سايوان لاندې ناست وو. چا سلايي، چا پالش کاوۀ . يوۀ خو بېخي تعويذ په پاځۀ کښې ګنډلو.

هم داسې يو دوه ماشومان چې وړوکی څادر يې هوار کړی وو. درې څلور د عطرو غټې شيښې پر پروتې وې. يو لوی د مصالې سرنج (بمبه) چې په هغه يې وړې ښيښې ډکولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا د پلاستیک لوتي له پټاټو ډکي یښې ویې .ناري یې وهلې "دړې په سل دړې په سل." یو سړی چي یو شی د سړک په څنګ کښې درولی وو . یو لوی څرخ یې په پښه اړاوو. لوړه توره ډبره ډېره تېزه څرخېدله. کاکا بیاتیاني، چاړې په تېرولې چي بیاتي یا چاړه به یې ور نږدې کړه ترغځي (بڅرکي) تر غورځېدو .خلګ په کتار کښې ورته ولاړ وو. هر چا پر خپل وار بیاتي او چاړه اخیستله روپۍ یې ورکولې.
زهٔ: "یاره جماله ! تهٔ چي اول وار ښار ته راغلې .د یوار په سر کس کتو دي دا زموږ په رنګه خوار هېر شو.د ښار ښاهست دي ټکي په ټکي راته وویلو خو نهٔ د خوارو خلګو."
جمال داسي ځان واچاوو لکه زما خبره چي یې ښې اورېدلې نهٔ وي .دوباره مي په یوهٔ لاس دی تر لاس ونیوو. هغه بل د هغو خوارو مزدورو په لور
زهٔ: "ځان به نهٔ اچوې. د دې خوارو دي ولي نهٔ راته وویل؟"
جمال: "بخښنه غواړم.ملامت یم چي د ښار د رڼاګانو ، هسکو محلونو ، مستو خلګو مي درته وویل.د ځان په شان خوار مي هېر وو."
داسي تر ماښامه په ښار کښې وګرځېدو. د ماښام لمنځونه مو په یو دومره ښاهسته ماجت کښې وکړو. پخدای که مي زړهٔ ځیني تلو. له ماجته را ووتو د کاکا د کور په لور روان وو. جمالو خندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ: "جمالو ! پر څۀ دي وخندل؟ "
جمال: "سلطانه ! زۀ چي اول وار له بابا سره راغلم ـ ماښام په دې ځای کښې را روان وو۔ ما چي د خلګو دا ګڼه ګوڼه ولیده ـ بابا ته مي وويل "بابا ! دا خلګ ماښام ډوډۍ چیري خوري او ویدېږي چیري؟ یاره ما هغه ورځ د بابا په زوره خندا ولیده بل وخت زما د بابا داسي خندا نۀده په یاد ـ" د کاکا کور ته ډېر ناوخته ورسېدو۔
دې ته مي سترګي وختې چي کله به ډوډۍ راوړي ـ یو وخت ماشوم د لاس او به راوړې ـ جمال له ماشومه پوښتنه وکړه "بابا او علي چیري دي ـ" ماشوم وویل "دلته یو همسایه ډوډۍ کړې وه بابا هغه ته ولاړ ـ علي جان دلې نۀ وي ـ کله کله راځي ـ هغه په پلاني ښار کښي کالج وايي ـ"
ډوډۍ راغله ـ له ډوډۍ خوړلو پس دواړو لمنځونه وکړو ـ بشترې مو هواري کړې ـ ویدۀ شو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۹

سهار چې را پورته شوو.د اودسو او لمونځو پس مې جمال ته وويل
زۀ: "جماله وروره ! ژوند دې ته وايي لکه د دې خلګو.زمونږ ژوند خو د انسانانو نۀ دی.د حيوانانو دی."
جمال هغه انګلسي ناول په لاس کښې پرله اړاوو چې پرونه مونږ په ښار کښې له يو ې ربړې والا څخه رانيوو.جمال وخندل.
جمال: "هو تۀ د دې خلګو ونښۀ ژوند ته حېران يې.زۀ دې بېشرمه ليکوال ته .دومره بربنډې خبري .دا خبري زمونږ ليکوالان دغسي نۀ شي کولای. په کتاب کښې خو يې هوس وچ کړې ".
زۀ: "زمونږ ليکوالان هسې کمزوري دي ګني دا لار دېره پخوا خوشحال خټک ور خلاصه کړې ده."
کاکا پتنوس په لاس کښې دننه راغلی. له اسلام عليکم،زمونږ له وعليکم سلامه پس يې پتنوس کښېښودو. پيالو ته يې لاس ور اچاوو. جمال قسم وکړ .جمال چای واچولې .د بسکټو يو غاب يې د کاکا خواته بل يې زمونږ د دوو په ميان کښېښودو.
کاکا: "پر څۀ مو بحث وو؟ "
جمال: "کاکا ! پر دې ليکوال." کتاب يې ورښکاره کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاکا: "زویه ! زۀ خو په دې انګلسي لږ هم نۀ پوهېږم ـ په دې اوردو کښې لا ګزاره کولای شم ـ دا اوس په تا سو دوو کښې کوم یو ویلای شي؟ "
جمال: "کاکا ! دواړه یې هم لوستلی شو هم یې لیکلی شو ـ "
کاکا: "ستا سو په کلي کښې خو سکول نشته جماله ستا کیسه بابا را ته کړې وه ـ دا سلطان خو تۀ وایې چې زموږ کلیوال دی ـ "
جمال: "کاکا دا خبره ریښتیا ده چې دی زموږ کلیوال دی مګر زموږ مور تر موږ وروڼو هم دۀ ته ډېره توجه او مینه ور کوي ـ "
کاکا وخندل ـ
کاکا: "ما درته وویل چې زۀ د انسانانو په پېژند نه کښې کله هم نۀ یم خطا شوی ـ یو رښته یې درسره شته ـ هره رښته چې یې ده ـ "
جمال: "نۀ کاکا ! په خپلې لا نۀ یو سره ګډ ـ "
کاکا: "زویه ! ما داسي وروڼه لا لیدلي دي ـ یو پلاني خپل بل پلاني خپل وي بل داسي وروڼه چې یو له یوۀ بل له بل مذهب سر تعلق لري ـ هم داسي ورورڼه چې یو له یوې بل له بلې ژبې سره تعلق لري بل خپلې نۀ ده ضروري ـ دوستی به مو سره کړې وي ـ یو څۀ به ضرور وي ـ خیر دا راته ووایه شپه را سره کوی که کورته ځې ـ دوکان بند دی ځو ناوخته دی ـ "
جمال: "کاکا ! زۀ کورته ځم ـ سلطان دلې یو کار پیدا کوي ـ "
په دې وخت کښې ټول په یوار را ولاړ شوو ـ تر خونه راووتو ـ دباندې په کوڅه کښې راروان وو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاکا: "دلته یو سړی دی راځي له ما څخه هګۍ وړي. هغه راته وویل یو سړی را پیدا کړه. یوه بنګله مې اخیستې ده خوشې ولاړه ده. هغه به ګوري. په ورځ که یې بل کار کاوو هم دې کوي. بدبخته چې ویې وینې دده مزدورپه کاروي. هغه ورځ یې ویل بلې خواته ځم کېدای شي ډېر وخت نه شم را "

د کاکا تر دوکانه په ګپه ګپه کښې راورسېدو. جمال ته مو رخصت ور کړو. جمال روان شو. کاکا دوکان خلاص کړو صفایي وکړه. موږ په دوکان کښې ناست وو. کاکا د کلي حال را څخه کاوۀ. په دې وخت کښې کاکا هوټلي ته ور ږغ کړو چاې راوړه.

هوټلي: "کاکا ! چاې به وځنډېږي. باروالا نشته."

کاکا: "باروالا غواړې چې په لاس یې در کړم؟ "

هوټلي: "هو خود یې غواړم."

کاکا ماته مخ را واړاوو

کاکا: "د هوټل مزدوري کوې یا دې خوښه ده؟ "

زۀ: "خود کاکا !په مزدوري کښې شرم نشته خود یې کوم."

دواړه هوټل ته ورغلو. کاکا دا ټوله کیسه ورته وکړه.

زه: "په کار څۀ نابلده یم. خوشکه به نۀ کوې. تنخوا تر هغه بل باروالا څۀ کمه راکړه. داسي نۀ وي تۀ پوچه خبره وکړې دستي دي کار پرېږدم."

هوټلي: "سمه ده."

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار مي شروع کړو. هوټل تیاره ماښام بندېدو. د پردېسۍ دي ځان په خولۀ شي. د شپې چې به پر بشتره پرېوتم د ستي به مورکۍ، بابا ،زردانه ترور او د خړ کلي کوڅې،د کور او کلي تر میان سپین ډګری چې هر ماځیګر به بېتي ،بډۍ او خوسي پر کېدو.ټول به مي وسترګو ته جګ ودرېدو. په دې سوچ ،سوچ کښي به کوتره ترور را په یاد شوه چې یکي یو زوی سرفراز یې درلود.هغه هم پرېدي جنګ ته د جهاد په نیت تللی وو. ناوکۍ یې د پلار پر کور ناسته وه.

اخیر د سرفراز خسر د سرفراز پلار ته وویل "دا خپله نږور له ما یوسه ." د سرفراز پلار ورته وویل "زۀ ښځه څۀ کوم.تر ما له تا سره ښه ده چې ناسته وي."

د سرفراز پلار یې پر دې مجبوره کړی چې خپله نږور یې کورته راوسته .کلونه تېر شو.د سرفراز د مور هیله نۀ خته .هر ماخوستن یې په دې نیت بشتره هواروله . تر سر یې د اوبو بدنۍ ډکه ښوده چې نن به زما د زړۀ ټوټه راشي. نن به زما د زړۀ ټوټه راشي.

ټوله شپه به وخالي بشتره ته ناسته وه .اوښکي به یې له سترګو بهېدې . ښېراوي به یې کولې "سپین پوښو !!!!!دواړي مو خطا شه. یوه مو هم مۀ سمېږه. څۀ مو راباندي وو چې زما د زړۀ ټوټه مو ولېږله.څۀ وکړم؟ څۀ وکړم؟ نور څۀ کولای شم؟.دغسي مو ناوکۍ په سرو لاسو خالي بشتره ته کښېنه . زما د زړۀ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوټې به د چا په وینو لاس سرۀ وي ـ د چا به د دۀ په وینو لاس لړلي وي ـ "

پر دې ځای به ودرېده "داسي نۀ وي د بل په وینو د دۀ لاس سرۀ وي ـ " ولاړه به شوه "داسي نۀ شي کېدلای ـ زما د زړۀ ټوټه که نن نۀ راغله سبا ضرور راځي ـ "

بل یې څه کولی شو ـ مېړۀ او نږور به یې هم په بشترو کښې پراتۀ وو اوښکي به یې تویولې ـ دوې دري میاشتي چي به د شپې په بشتره کښې پرېوتم یوې او بلې خواته به اوښتم را اوښتم ـ

په دومره وخت کښې زما له رکښې والا (د هوټل د مالک د خور زوی وو) سره شناخت شو ـ له دۀ سره مي په دې خالي کوڅو کښې رکشه چلوله ـ رکشه مي زده کړه ـ هم داسي په میاشت دوې کښې جمال راتلو د کور کلي حوال یې راوړو ـ کال پوره شو ـ

له یو سوزوکي والا سره مي شناخت جوړ شو ـ یاره شوق څۀ عجبه شی دی چي د چرګانو پر قصابو ګرځېدو ـ هر ماښام یې هغه پاته ګندګي ټولوله ـ ټاکلي ځای ته یې وړه ـ ما په هغه بدبویي کښې له دۀ سره شپه تر نیمایي د سوزوکي د زده کېدو په خاطر تېروله چي دا مي یقین شو چي اوس دي موټر هم زده دی ـ د رکشې استاذ ته مي وویل

زۀ: "لېسنس به څنګه جوړوو ؟ "

استاذ: "دوه عکسونه، دوه زره روپۍ راکړه ـ په هفته (اونۍ) کښې لېسنس جوړ وغواړه ـ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ: "ولي استاذه ! د ډاکټر سرټیفیکېټ نۀ غواړې؟ "
استاذ: "نۀ. "
زۀ: "دوی څۀ خبر دي چې زما لاس، پښې، سترګې ټولې ثابتې دي؟ "
استاذ: "دوه زره روپۍ ګواهي ورکوي. "
زۀ: "دوی په دې څۀ خبر دي چې زما موټر زده دی. امتحان خو به را څخه اخلي؟ "
استاذ وخندل او ماته یې وویل
استاذ: "امتحان هم دا دوه زره روپۍ ورکوي. "
هغسې وشو. په هفته کښې استاذ جوړ لېسنس په لاس را کړ. په دې کښې کلونه تېر شو. یو سهار کاکا را ناره کړه. زۀ ورغلم. یو سړی په موټر کښې ناست وو . دوه هلکان هم په موټر کښې ورسره وو. له موټره یې را ږغ کړو "کاکا ! دوه دړژنه(درزنه) هګۍ راواخله. " دوباره یې بیا تر موټر سر را ویستو "کاکا ! چې ماشیني هګۍ را نۀ کړې. " کاکا هګۍ شمار کړې. پر ما یې را ږغ کړو
کاکا: "راشه ددې سړي .مزدور پکار دی. "
زۀ: "کاکا ! اوس یې درته وویل که هغه کلونه مخکې چې یې درته ویلي وو؟ "
کاکا وخندل
کاکا: "درځه. "

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاکا هګکۍ ورکولې هغه سړي ته یې وویل
کاکا: "تا هغه ورځ وویل زما مزدور پکار دی."
سړی: "هو. تا پیدا کړی که څنګه؟"
کاکا: هو. دغه ځوان دی."
سړي ماته سترګې را واړولې. ښۀ په غور یې راته کتل بیا یې وویل سړی: "ما او تا بل وخت سره لیدلي دي؟"
زۀ: "نۀ اول وار دی."
سړی: "که اول وار دی که دویم خو ماته ډېر شناخته ښکارېږې."
زه: "څۀ ووایم."
سړی: "دا خندا خو دي ببخي ډېره شناخته راته ښکاره شوه."
کاکا: "د یو بل چا شک به دي وربانديي راځي. دا سي ډېر خلک شته چې یو و بل ته په ګنه کښې ډېر ورته وي."
سړی: "څۀ ووایم. څوک یې، د چا زوی یې او هغه څۀ کار کوې؟"
ما د خپلې کورنۍ ټوله کیسه ورته وکړه.
سړی: "څۀ ووایم؟ څو تنخوا غواړې؟"
زه: "پروند یو سپین ږیری سړی راغلی و ماته یې و ویل له موږ سره خیراتي ایمبولنس چلوه. په ځای کښې ناست او سه هر کله چې لاوارثه مړی پیدا شي یا ډېر غریب ناروغه. موږ به حکم درکوو او تۀ به یې رسوې. ښه تنخوا هم درکوو. ما ویل څۀ ووایم بل وخت مي دا مزدوري نۀ ده کړې."

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی: "بس بس موټر چلولای شي؟ هغه هم زما سړی درته راغلی دی۔ هغه سپین ږیري دا دا نښانې یې دي۔لس زره روپۍ درکوم ـ له پېرې کولو پس ښه خرچه هم درکوم بل ځای درکوم۔ د ورځې که دې بله مزدوري کوله کوه یې۔زۀ دې له بلې مزدورۍ نۀ راګرځوم خو تیاره ماښام به بنګلې ته ځان رسوې ـ په بنګله کښې یوه خونه درکوم۔ په هغه کښې به اوسې۔"
زۀ: "صېبه ! بل کار خو نۀ ورسره کېږي چې په پېره درسره لاړ شم ـ د هوټل له مزورۍ خو ووتم بیا به درې څلور ورځې بېکاره تېروم۔ له هغه پس به بل کار پیدا کوم۔"
کاکا: "سمه تنخوا ورکړه ۔دا هوټل به پرېږدي۔ بنګله دې چیرې ده؟"
سړی: "سمه ده۔چوکیداري به هم ورکړم۔ ماځیګر زۀ درته راځم۔ سره لاړ به شو۔دلته نژدې په پلانکي روډ کښې ده۔اوس ناوخته دی هلکان سکول ته رسوم بل کیلۍ هم راسره نشته۔"
کاکا: "څنګه دا خو نژدې هم ده؟"
زۀ: "خوښه مې ده۔"
زۀ چې له کاکا او سړي څخه د هوټل مالک ته ورغلم۔هغه له ما ډېر خوشاله وو۔د هغه سړي کیسه مې ټوله ورته وکړه۔
هوټل والا: "تنخوا به در زیاته کړم۔کار مۀ راپرېږده۔"
زۀ: "استاذه ! نور د هوټل کار نشم کولای۔ډېر راته ګران دی۔"

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ماځيګر مي ټول هغه د بنګلې مالک ته په انتظار تېر کړو. سړی نهٔ راغلی. په دې بل ماپښين وختي سړی راغلی.

د هوټل له مالکه مي د تلو اجازه وغوښته. هغه اجازه راکړه. له سړي سره په موټر کښې کښېنستم. خدای شته د موټر ناستي ډېر خوند راکړی. سوکه سوکه بنګلې ته ورسېدو. په ګېټ کښې يې موټر ودراوو. ګېټ يې خلاص کړ په بنګله ور ننه شو. وګېټ ته نژدې وړه خونه يې را خلاصه کړه. ماته يې وويل

سړی: "په دې کښې به تهٔ اوسې. دا دوې کيلۍ واخله. يوه د ګېټ ده دا بله د دې خوني ده. دومره خيال به يې ساتې لکه خپله بنګله چې دې وي."

زهٔ: "خود به يې ساتم. روپۍ راکوې د خدای پر پار خو يې نهٔ در ګورم.

سړی: "په جمعه دوې کښې زهٔ او کور والا راځو دلته شپه کوو بل ځوک ښځې نهٔ درته راځي. وخت ناوخته هغه څو کسان خود درته راځي چې له بنګلې څه سامان وړي يا يې راوړي. هغه ټول درپېژنم." بېرته راووتو. په موټر کښې د هوټل په لوري سره را روان وو. ښځې ډېر يې زما په لور کتل.

سړی: "عجبه خبره ده. زما د ښځې ډېر شناخته شک درباندې راځي. تهٔ وايې مونږ ښځې سره ليدلي نهٔ دي."

زهٔ: "څهٔ و وايم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کښې هوټل ته راورسېدو ـ زۀ يې کوز کړم دی روان شو ـ ماښام مې په هوټل کښې ډوډۍ وخوړه ـ د هغه چا بنګلې ته لاړم چې خلګو فريد صېب ورته ويل ـ دا يوۀ چاته نۀ وو معلوم چې څۀ کار کوي ـ دلته ژوند پر کړو لارو سم کړم ـ
هغه د دۀ خبره وه ـ په جمعه دوې کښې چې به دی راغلی، درې څلور پنځۀ کسه به نور هم ورسره وو ـ ډوډۍ او کبابونه به يې را اخيستې وو، سره له څو بوتلو (ما شربت ګڼلی وو) چې ډوډۍ به يې وخوړه خالي بوتلونه به يې د بنګلې د خونو سر ته وغورځول چې کله به ورسره راغلې مېلمانۀ وو تو ـ يوه ښاهسته ښځه به راغله ـ ګېټ به يې وټکاوو ـ ما به ګېټ ورخلاص کړو ـ دا به دننه ورغله ـ
يوه ورځ هغه ښځه راغله ـ مېلمانۀ لا دلې وو ـ ما دروازه ورخلاصه کړه ـ دې رانه وپوښتل
ښځه: "مېلمانۀ تللي دي ـ"
زۀ: "نۀ دلې دي ـ"
دا راغله زما په خونه کښې راسره کښېنسته ـ ما دروازه بنده کړه چې کښېنسته پړونی يې لرې له ځانه واړاوو ـ دومره نرۍ جامې يې اغوستې وې چې ټوله ځيګر يې تر ښکارېدو ـ زۀ وشرمېدم ـ سترګې مې واړولې بيا مې تر هغه د دې په لور سترګې نۀ دي اړولې چې مېلمانۀ ووتو ـ دا هم له خوني ور ووته ـ فريدصېب تر لاس ونيوه ـ سره روان شو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ښځه خو مې له اولي ورځې د رنډۍ شک وو ، نۀ د فريدصېب د ښځې . يو خو فريدصېب سپين ږيرى دى . تک سپين سر يې په نکريځو تورولى . ږېره او بربېت يې پاک خرېيل . په وچ زور يې ځان ځوان کړى وو . ښځه بېخي ځوانه وه بل که د دۀ ښځه واى خو ماشومان به ورسره وو . کله به بېرته پښېمانه شوم چې سپين ږيرى سړى دى دا سې به څنګه کوي .

بوتلونه مې هغه ورځ وپېژندل چې له بارانه سره ډېره تېزه هوا ملګرې وه ، بوتلونه يې د خوني له سره کښته را وغورځول . له دې واره جمال دونيمې مياشتې پس راغلى .

زۀ: "ولې وروره ! دومره وځنډې دې؟ "

جمال: "له دې واره خو يخ وو . هګۍ نۀ خرابېدې . په دې وځنډېدم . " چاى مو سره وڅښلې . جمال د کلي سرسري حال احوال را کړى . ما د دې خپلې مسافرۍ او مزدورۍ حال احوال ورکړى .

زۀ: "وروره ! تۀ اوس په ښار کښې وګرځه . زۀ به کار وکړم . "

جمال: "وروره ! زۀ په ښار کښې ګرځېدلى يم . سودا مې کړې ده . پرونډى راغلى يم . که کورته حال احوال يا شى لېږې . "

زۀ "نۀ تۀ دا راته ووايه چيرې وې؟ شپه دې چيرې وکړه؟ "

جمال: "له علي جان سره . "

زۀ: "بس ټولو ته سلامونه ورکوه . په يو څو شپو کښې که خير وو زۀ هم کلي ته درځم . "

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال رخصت شو. زۀ په خپل کار اخته شوم. ماښام مې د هوټل مالک ته وويل "زۀ سبا او بل سبا کښې کورته ځم .خپل حساب وکړه .د حساب وکړو.د هوټل د ډوډۍ حساب مې ورکړ. په دې سهار په ښار کښې وګرځېدم.د بابا ،مورکۍ او زردانې ترور د پاره ښۀ ښۀ کالي رانيوو.ځان ته هر شی نوی نوی. هوټل ته راغلم. ډوډۍ مې وخوړه.ماخوستن بنګلې ته لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۰

سهار چې راپورته شوم بېخي ډېر باران اورېدلی وو. سپين کالي مې واغوستل. توره او خړه قمره اوږده سدرۍ، ژېړه زري لونګۍ مې ټينګه په هنداره کښې ښه په خيال وتړله . نوې سرې ښکاري څپلۍ هزاره جوړ مې په پښو کړې چې ځان مې تيار کړ. غوټه مې را په شا کړه را ووتم . په رکشه کښې کښېنستم . رکشه روانه شوه . هر وخت چې به موټر يا بل شی تېر شو. پر رکشه به اوبه وغورځېدې.

د رکشې والا وويل "اهي ستا." يو څواره چې مې د دۀ له خولې دا واورېدو چې دۀ بيا وويل "اهي ستا." ما ورته وويل "نوريې وماته را پرېږده."

د رکشې والا پر شا را وکتل له خنداشين (ټيکی )شو. دا وخت د سړک په منځ کښې ډنډ اوبه ولاړې وې چې رکشه لړ په کښې لاړه بيا بنده شوه. دۀ پر شا را وکتل ماته يې وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library

رکشې والا: "دا ستا د لاسه."
زۀ: "ستا د لاسه."
رکشې والا: "ستا د لاسه."
زۀ: "ستا د لاسه."
رکشې والا: "ستا د لاسه."
چې دی کوز شو. پر توګ یې را پورته کړو. له رکشې سره یې د رکشې د کښلو په خاطر زور شروع کړ. ما هم پرتوګ را پورته کړ. راکوز شوم. خپله غوټه مې را په شا کړه چې تر اوبو را ووتم. د دۀ په سترګو شوم. را ناره یې کړه
رکشې والا: "اې دله ! دا زما روپۍ راوړه."
ما له هغه ځایه خپلې نوې څپلۍ ورښکاره کړې.
زۀ: "دله ! تۀ دا زما د نوو څپليو روپۍ راوړه." زما له دې خبرې سره دۀ په اوبو کښې را منډه کړه چې تر ما را رسېدو. ما وخندل.
رکشې والا: "تا څۀ....."
زۀ: "زۀ یې نۀ خورم. که دی ښۀ شی دی تۀ یې وخوره."
زۀ او دی چې لاس او ګرېوان کېدو. خلګ میان ته راغلو.
رکشې والا: "شرم نۀ لري. زما روپۍ یې نۀ کړې را رهي شو."
زۀ: "وروره ! په رکشه کښې ستړی شوم. دلته ورته ناست یم چې رکښه سمه شي. زۀ ورسره ځم."
دی په ګونجې تندي، تونده لهجه رغېدو. زۀ په ورین تندي، وړه وړه خندا ورته رغېدم. خلګ چې څۀ راتلو هغو د رکشې والا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملامتاوو.اخیر مجبوره شو په اوبو ګډ شو چي څو قدمه د رکشې په لوري لاړ ببرته يې شاته را وکتل
رکشې والا: "اې دله ! داسې نۀ وي زۀ په رکشه اخته شم.تۀ لاړ شې."
زۀ: "نۀ ځم وروره ! څۀ خر سړی يې."
رکشې والا: "خر به دي لا پلار وي."ببرته را غبرګ شو.
زۀ: "وروره ! لاړ شه.څۀ تورزړی انسان يې.په لوړه دي لا هم باور نۀ کېږي؟ "
رکشې والا: "ولې مي نۀ کېږي."
زۀ: "خو ورشه ناوخته دي کړم."
رکشې والا: "دله ! داسي نۀ وي رانه لاړ شې.زما روپۍ به يوسې."
زۀ: "نۀ ځم،نۀ ځم،نۀ ځم."
د ی خوار په اوبو ګډ شو. وار به نۀوو شاته به يې راوکتل. زۀ د سړک پر څنډه ورته ناست وم.دۀ چي به زما پر خوا را وکتل. زۀ به يې ناست وليدم خولۀ به يې وښوربده. ما به له دې ځايه ور ناره کړه
زۀ: "لس واره."
دی به بيا زما پر خوا په اوبو کښې را رهي شو. ما به ببرته ور ناره کړه
زۀ: "هله ژر شه.ببخيږ بر ناوخته شوم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی به بېرته د رکشې په لور ورغلی ـ يو وخت د دهٔ له رکشې سره زورونه وو. ما بله رکشه ته لاس ور کړ چې رکشه ودرېده ـ غوټه مې پکښې کښېښوده ـ رکشه روانه شوه ـ ما سر تر رکشه ورا ویستلی چې ور ناره مې کړه.

زهٔ: "رکشې والا ! خپل جوار ګوره ـ د شکاڼه په قسمونو باور مهٔ کوه ـ"

د دهٔ خوار خو بل شی په وس کښې نهٔ وو لکه يو ماشوم لاس يې د ښکنځلو په شان پورته کښته کاوو.

اډې ته راغلم ـ په اډه کښې په بس کښې د درو کسانو په چوکۍ کښې له ناستو دوو کسانو سره دريم زهٔ کښېنستم ـ بس روان شو ـ زما بېخي تر ډېره وخت دې ته فکر نهٔ وو چې له تا سره په څنګ کښې دوه کسه نور هم ناست دي.

يو وخت چې مې په څنګ کښې ناست سړي په کټ کټ وخندل ـ ما سترګې ور واړولې ـ زما په څنګ کښې ناست سپين ږيری سړی تک سور مخ ، د مخ په لوړو دوو غاښونو کښې يو وتلی ـ تور ، خيرن پټکی ـ يو بل ښاهسته ځوان ته رېږغېدو چې تازه راغلې څو تاره ږيره ، تک تورکالي ، اوږده وېښتان ، تکه سره بلوڅي خولۍ يې پر سر وه ـ کيسه يې څهٔ داسې ورته وکوله

سپين ږيری: "سوجا ملک پښ داسي کتار کاوهٔ په درست ديار کښې داسي د موري زوی نهٔ وو چې له دهٔ يې کتار ګټلو ـ سوجا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملک چې به کتار ته کښېنستو ښېخې ډېر نندارچیان به پر چارپېره وو.

یوه ورځ ماځیګر د خوشکاوې د خان نوکر راغلی. پر سوجا ملک یې ږغ کړو "هلکه سوجا ! را ووځه."

له سوجا سره یو بل سړی ولاړ وو. په آره کښې یې غاښونه ورته کښل. چې د سړي آره یې په لاس ورکړه. راووتو د باندې په دروازه کې ښځو وغځېدو چې ستوماني یې ووته. د خان پر نوکر یې ږغ کړ "څه دي ویل؟ د بل د در سپیه !!! ." نوکر ورته وویل "دا څه......... خورې؟ "سوجا ورته وویل "که ښځه کار دی خو ته یې وخوره."

ټولو ولاړو خلکو په یو وار په کټ کټ وخندل. دا سې ښکاره شوه چې دا ولاړ خلک ټول د سوجا همدرده دي. د خان نوکر زورونه وهل. پوچ رد یې ویل. خلکو نیولی وو. سوجا له خپله دوکانه د لوېدیځ په لور تر سړک راپوري وتو. د شاه جهان میدیکل مختته په برنډه (برآمده) کښې پر یو اوږدۀ بېنچ (په سپین رنګ رنګېدلی وو) کښېنستو.

د خان نوکر د سړک له هغه بلې غاړې ورغښتو. خلکو ټینګ نیولی وو. سوجا یو ګړی ناست وو بیا ولاړ شو. له میډیکله یې یوه ښه هواره تخته راویسته چې په برنډه کښې یې کښېښوده. په شنۀ رنګ، په خړه تخته کښې د اتلسو کاڼو (ګاټو) کتار جوړ وو. یو د مسالې د بلې یې خلاص کړ. دوه رنګه ګاټې یې راتوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو۔ ګاټي ټول له چادره (ټیم) څخه جوړ وو ۔ یو درې کونجه بل څلورکونجه ۔ژر ژر یې درې کونجه یوې خوا ته کښېښودو۔ څلورکونجه بلي خواته ۔ را ولاړ شو۔ خلګو ته یې ورناره کړه "دا سړی را پرېږدئ۔ کتار تیار دی۔"
خلګو نۀ ور پرېښودی۔ اخیر د سړک هغه بلي غاړي ته ورغلی۔ د خان پر نوکر یې غږ وکړ څوله "راځه د سړک هغه بلي غاړي ته راکښ یې کړو چي تر سړک واوښتو۔ د میدیکل په ځنګ کښي هوټل ته یې ور ږغ کړ "ښې یخي اوبه او دوې چائینکي چای راوړه۔" د خان نوکر یې پر هغه اوږد سپین بېنچ کښېناوو۔ دی مخامخ پر مځکه ورته ناست وو۔
هوټلي چای اوبه راوړې ۔سوجا د اوبو ګلاس ډک کړ۔ د خان نوکر ته یې نیولی وو چي د خان نوکر خولۀ بیا چپه وخوځوله۔ سوجا ولاړ شو او ورته وېې ویل "بس بس !!! نوري دي نۀ اورم ۔ دا اوبه ونیسه ۔نور به ما اورې ۔تۀ په دې خبر یې چي پښ ،پېښور ،ډم ته دلته هغه خلګ لا هم د سپي په نظر ګوري چي په کور کښي د ماښام اوړۀ نۀ لري۔ دا خلګ زما په خیال ډېر غلط دي۔ کوم چاته چي د سپي په نظر ګوري هغه نه دي سپي۔ زما په خیال سپي هغه دي چي په کور کښي اوړۀ نۀ لري یا هغه دي چي د بل د در په ډوډۍ مست دي۔"
تیاره ماښام بس ودرېدو۔ زۀ راکوز شوم ۔غوټه په شا په لاره را روان وم۔ دا سوچ مي کاوۀ "بابا ! چي دا تور پټکی وتړي۔ سپین

(c) ketabton.com: The Digital Library

کالي، توره سدرۍ واغوندي. د زرتارو کپۍ (مچڼي) په پښو کړي .سم دم ملک به ښکاري - مورکۍ چې دا جامې واغوندي، پړونی پر سر کړي. د ملک ښځه به ښکاري." کورته راورسېدم.

مورکۍ او بابا دواړو پر خپل وار په غاړه کښې لاس را واچاول. د روغبړ پر وخت یې له ډېرې خوشالۍ ژړل .هم داسې په ګپه ګپه کښې ډوډۍ وخوړه شوه.

سهار چې ماجت ته لاړم .له لمانځه راووتو ټولو راغلو کلیوالو ،له مولوي صېب سره مې پر خپل وار روغبړ وکړ.

مولوي صېب: "ماشاء الله سلطانه ! ډېر په ښه رنګ شوی یې . پښتنو څومره ښه ویلي دي (د مریې غوندي یې وګټه د باچا غوندي یې وخوره )."

له ماجته د زرداني ترور کورته ورغلم. په دروازه کښې مې ټوخه وکړه. په خونه وردننه شوم. دوی چې زه ولیدم ټول را ولاړ شو.

زرداني ترور لا هغه خپل عدت نه وو پرې ایښی. په غېږ کښې یې ټینګ نیولی وم. اوښکې یې څڅولې.

زه: "بس دی اوس مې پرېږده .هغه نور خواران دي په ولاړه مړه کړو."

چې دې مې له غاړې لاس وکښو. له هغه پس مې له ټولو سره پر خپل وار روغبړ وکړ. په ګپه ګپه کښې چای راغلې، په اوبو کښې جوش هګۍ، ورسره بسکټ. چای مې وڅیښلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ: "جماله ! کورته ځم ـ غرمه به کور تېره کړم ـ که یو کوشنی کوشنی کار وو ـ هغه به ما پېښېن وکړم ـ سبا که خیر وو بېرته ځم ـ
زردانه ترور: "په خدای که قدم واخلې ـ د غرمې ډوډۍ به خورې "
د زردانې ځواب چا کولو ـ د غرمې له ډوډۍ پس چې را روانېدم ـ زردانې ترور بېخي ډېري زارۍ راته وکړې چې ماښام ډوډۍ ته راشه ـ که ډوډۍ ته نۀ راځې ـ ډوډۍ وخوره راشه چې رخصت مي را واخیستو راووتم ـ زردانه ترور او جمال دواړه تر خونه دباندي راسره راووتو ـ جمال په دروازه کښې پاته شو ـ زردانه ترور یو څو قدمه راسره لاړه چې مخ مي ور واړاوو ـ د زردانې ترور سترګي له اوښکو ډکي وې ـ دا وخت یې خندا او ژړا دواړه پر شونډو ښکارېده ـ ما مخ پر بله خوا واړاوو ـ راروان شوم بیا مي پر شا نۀ دي ور کتلي ـ
کورته راغلم ـ بابا او مورکۍ د کور د خوني ومخ ته بابا پروت وو ـ سر یې پر جګ شنۀ بالښت ایښی وو ـ مورکۍ یې وڅنګ ته ناسته وه ـ یو ځنګون یې لوړ پر بدنۍ ایښی وو چې زۀ کښېښستم ـ بابا را پورته شو ـ مورکۍ تر ځنګانۀ لاندي بدنۍ واخیسته ولاړه شوه ـ بابا بېخي تر ډېره حېران حېران راته کتل ـ مورکۍ بېرته راغله ـ د اوبو ډکه بدنۍ یې راته ونیوه ـ
مورکۍ: "سلطانه زویه ! ډوډۍ به درته را واخلم ـ "
زۀ: "نۀ موري ! ډوډۍ مي له جماله سره وخوړه ـ "
مورکۍ کراره کښېښسته ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابا: "زویه! دومره خوشاله یم . دومره خوشاله یم چې له خوشالۍ مي پښې مځکې ته نه رسي. په داسي جامه کښې مي په خدای که دا خیال وو چې یو بل څوک دي زما کورته راشي ګني چیري زما خپل زوی !."

مورکۍ: "سلطانه زویه! دا بالښت در کش کړه. سر پر ولګوه. ما پښین به که خیر وو ګپي کوو. "

ما بالښت راکش کړ. سر مي پر ولګاوو. ویده شوی وم. ما پښین را ووتم. په کلي کښې و ګرځېدم. هغه خلګ (د ټولو چې له ما نفرت کېدو )له دې واره هر یو په راپسې وو چې له ما سره به ډوډۍ خورې بل به ویل له ما سره به ډوډۍ خورې. هم مي دا لس شپې په کلي کښې وکړې. ډوډۍ مي یوه شپه هم په خپل کور کښې نه و خوړه. په سهار مي له مورکۍ، بابا، زردانې او له نورو رخصت را واخیستو. یو ولسمه شپه مي بیرته ښار ته را ورسوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۱

د ژوند شپې ورځې خو تېرېدې ـ ډېر ناکراره غوندې وم ـ
فرید صېب رکشه را واخیسته ـ په ورځ مې په ښار کښې رکښه چلوله ـ ماښام بنګلې ته راتلم ـ په میاشت دوې کښې به په ورځ یا شپه مړی پیدا شو ـ مونږ به په خپلو څلورو پنځو ملګرو تر ځایه رساوو ـ د مړي وارث به را سره نۀ وو ـ
کله کله به دا سودا راولوېده ـ دا څنګه چې مونږ هر مړی وړو د هغه وارث نۀ وي بل زمونږ ملګري ښې سپینې جامې واغوندي، سپینې خولۍ پر سر کړي، لويې اوږدې تسپې يې په لاس کښې وي.. ..... يو ځای به يې زۀ پر هوټل، دښت یا غرۀ کښې کوز کړم ـ
ماته به يې ویل "تۀ د مړي د خپلوانو چغې نۀ شې برداشتولای ـ تۀ دلته پاته شه ـ" دوی به مړی خپلوانو ته سپارلی وو چې له هغه لوري به راغلو ـ ایمبولنس به يې و ماته په لاس را کړ ـ دوی به ویدۀ شول ـ د مړو سلسله هم داسې روانه وه ـ
په ښار کښې د رکښې روزګار ډېر ښۀ وو ـ بېخي ډېري روپۍ مې ګټلې ـ کله به فرید صېب یا به د دۀ په څلورو پنځو ملګرو کښې یوۀ راته وویل "پر هغه پلانکي چوک به پولیس درته ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي- له هغه سره به لاړ شي- يو څۀ سامان به در کړي-را به يې وړې- "

په دې ډول کلونه تېر شو- ښېخي ډېري روپۍ مې پيدا کړې- په ښار کښې مې يو سراى رانيوو چې په مخ کښې يې دوه کچه په ختهو جوړ دکانونه هم درلود-هغه کچه دوکانونه مې پاخۀ جوړ کړو-ښه کرايه د سراى د دوکانو هم راتله- اوس کلونه تېر وو- دا مې غوښت چې مياشت ژر پوره شي - جمال به راشي -د کور، کلي،زردانې ترور احوال به راوړي-دا به ورته وايې چې دواړه کورونه به په کډه راولو چې څنګه مياشت پوره شوه - جمال نۀ راغلو-اوس مې هره ورځ انتظار وو- نن به جمال راشي- نن به جمال راشي-

دوې مياشتې تيرې شوې خو جمال نۀ راغلی -دريمه مياشت نيمه تېره وه چې جمال راغلی- په منډه منډه يې دوکاندار ته هګۍ ور کړې-په ولاړې يې چاى راسره وڅيښلې-دا خبره يې راته وکړه "موركۍ ناروغه ده -" ما په رکشه کښې اڼې ته راوړی-په بس کښې کښېنستو -بس روان شو- ما ورځ په ښار کښې تېره کړه- دې خواته رکشه بوځه سواري يو سه- دې خواته لاړ شه راشه-

تياره ماښام مې د سلامې رکشه وليده چې له شا پرې ليکلي وو (ملنګي به منې)رکشه مې ور تېزه کړه -څو واره مې بتۍ ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې چې ورسره پر ځنګ شوم "سلاميه ! څنګه يې؟ ورک يې سړيه !۔"

زۀ چې پر تېرېدو شوم۔ پر سلامي مې ږغ کړو "سواري ورسوه۔ نمکين هوټل ته راشه۔ د نمکين هوټل پر تړه نمکين روشونه خورو۔"

سلامي راته وويل "سمه ده۔"

زۀ راغلم د رنګين هوټل پر تړه د سلامي د راتلو په انتظار ناست وم۔ سلامي ببخي ډېر ناوخته شو۔ دلته پر لوړه تړه يو سړی وېدۀ وو۔ سپين نری څادر يې د غوماڅو (مچهرو) په وجه اغوستی وو۔ يو سپين غټ کتاب يې تر سر څلور کونجه بالښت لاندې ښکارېدو۔ ما دهوټل له مالکانو څخه وګڼلی۔

زۀ يوائې د دۀ له سره سره د سلامي په انتظار ناست وم۔ ويدۀ سړی له خوبه داسې ږغېدو۔ پخدای که ما د وينښ سړي له خولې داسې خبرې اورېدلې دي۔ ويدۀ سړي په خوب کښې څۀ داسې ويل "وش ! څۀ وکړم۔ خدايه ! تۀ خو زموږ ملګرې وينې څۀ يې ويل اوس څۀ کوي چې خوږ ځای ته يې ګوته ور وړې د ستې لکه سپين پوښې فتوا دربانديې لګوي۔" يو څۀ وخت يې ږغ ورک شو بيا يې وويل "نۀ نۀ څۀ ملايان خو نۀ دي چې تور لاسونه در پورې مښې۔" بيا يې ږغ ورک شو۔ يو څۀ وخت پس يې په زوره وويل "نۀ نۀ کوم پرتوګ چې د قام د پار وخېژي۔ هغه بربنډ تر ډېرو پټو وماته معتبره دی بل هغه لاس د خندا وړ دی نۀ هغه مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د مظلوم د پاره ځاپېره پر ولګېږي ـ دریم هغه مشر د شړلو وړ دی چې کور، کلی او قام نۀ په جوړېږي ـ "
په دې وخت کښې یو بل ځوان راغلی ویدۀ سړی یې را پورته کړو ـ هغه ځوان چې احمد جان ته نژدې ولاړ وو ـ ما ته یې را وکتل له ورې خندا سره یې را ته وویل " د دۀ عدت دی ـ له خوبه ږغېږي "
زما د هوټل بندېدو ته ورپام شو ـ چا د بګونه او غابونه مینځلو ، چا د باندې شیان دننه کول ـ هغه احمد جان ته راغلې سړي ته مې وویل "ملګري ته په انتظار وم نۀ راغلی ـ که د یو روش را ولېږلی مننه به دې وي ـ ناوخته دی داسې نۀ وي چې هوټل بند شي ـ " هغه سړي په تلو تلو کښې ویل "که ختم شوي نۀ وو ـ "
روش او اوبه یې را وړې ـ ما په هغو اوبو لاس ومینځلو ـ ډوډۍ مې و خوړه سلامې نۀ راغلی ـ را ولاړ شوم ـ بنګلې ته راغلم ـ
داسې د ژوند ورځې او شپې تېرېدې ـ یوه شپه ګېټ وټکېدو ـ زۀ ورغلم ګېټ مې ورخلاص کړو ـ هغه بربنډه ښځه ولاړه وه ـ
زۀ: "فرید صېب نن نۀ دی راغلی ـ "
بربنډه: "اوس راځي ـ زۀ یې دلته نژدې کوزه کړم ـ له دۀ سره یو مېلمۀ وو ـ هغه یې کورته رساوو ـ راپسې دی ـ "
زۀ: "بله ورځ چې فریدصېب نۀ وي ـ تۀ به دننه نۀ راځې ګني نن به زما له مخه ورته وایې چې تۀ نۀ یې سلطان ما نۀ پرېږدي ـ اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو راغلې يې.تر هغه زما په خونه کښې کښېنه. فريد صېب ماته ويلي دي چې زۀ نۀ وم.زما پلار درغلی دننه به يې مۀ در پرېږدې."

بربنډه: "راځي راپسې دی."

زۀ: "ښۀ دی چې راځي.زما په خونه کښې انتظار ورته وکړه.د بنګلې په خوا به نۀ تېرېږې."

بربنډه: "سمه ده.ستا خونې ته مې درپرېږده."

دا دننه لاړه ما ګېټ بند کړ.پر بنګله چارپېره راوګرځېدم. ډېر ستړی وم. دباندې مې بېخي ډېر انتظار وکړ. دومره بد خوب راتلو دننه ورغلم. بربنډه زما په بستره کښې پروته وه. ډېرې زاری مې ورته وکړې چې "خدای ته وګوره کور ته لاړه شه.فريد صېب چې تر اوسه نۀ راغلو خدای خبر چې بيا راشي." دې سر نۀ خلاصاوو. يو څۀ وخت پس يې وويل

بربنډه: "راشه زما له څنګه پرېوځه. زۀ پخدای که په دې توره شپه کورته لاړم. نن شپه به زۀ او تۀ په دې خونه او بستره کښې دوه په دوه تېروو."

زۀ ډېر وويرېدم. ټول بدن مې رېږدېدو.

زۀ: "په سوکه وو ځه ګني په زوره دې باسم."

بربنډه: "زۀ نارې وهم چې وماته يې لاس را واچاوو يا دا نارې چې زۀ يې راوستم اوس روپۍ نۀ راکوي."

زۀ: "پوليس راغواړم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

بربنډه: "ورشه را ویې غواړه. ستا څهٔ خیال دی. زما د پولیس ځواب نهٔ دی زده."
زهٔ: "څهٔ دي راباندي دي؟"
بربنډه: "د اوو میاشتو اولاد مي په نس کښي دی. دا ومنه چي زما دی."
د بدن هر اندام مي رېږدېدو. هر وېښته مي جګ جګ ولاړ وو.
زهٔ: "څنګه د فرید صېب اولاد زهٔ قبول کړم؟ تهٔ لېونۍ یې که دي سر سپیو وړی دی."
بربنډه: "که د ځان خیر غواړې. دروازه هسي وګرځوه بندوه یې مهٔ چي څوک یې پوري وهي دستي خلاصه شي. په دې کښي هم ستا خیر دی هم زما."
ما په خونه کښي شاوخوا کتل بل هیڅ په نظر نهٔ راغلو. یوه وړه کړکۍ چي په سپین رنګ رنګېدلې وه، ښیښې یې ماتي وې. ما یې د هري ماتي ښیښې په ځای کښي خړ غوندي کلک کاغذ ور کړی وو. یو هغه پخوانی ساده عکس چي خونه مي را پاکوله تر ډبر ګند لاندي مي پیدا کړ. له خاورو مي صفا کړ. په فرېم کښي مي بند کړو. له هغه وخته تر دې وخته په دېوال ځړېدو. هغه عکس ما په دې ځړولی وو چي وماته یې سترګي او پوزه د ښېخي ډېر شناخته سړي ښکارېدې. نور یې ږیره خرېیلې وه، توره لنګوټه یې پېچلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه د غسل خانې دروازه وه . يوار مې لا دا خيال شو چې "په دې غسل خانه د ننه شه. دروازه بنده کړه . مۀ يې خلاصه وه . هغه وړه چوکۍ تر سر لاندې کړه . کراره ويدۀ شه بيا مې دا خبره ذهن ته راغله. داسې نۀ وي دروازه له د باندې در پسې بنده کړې . دا بربنډه له بنګلې څخه يو شی يو سې. "
د بربنډې دا زارۍ وې "تۀ راشه له ما سره په بشتره کښېـې پرېوځه. فريد راځي . هغه ماځيګر لا بنګلې ته راغلی دی . نوره کيسه چې فريد راشي ببرته لاړ شي زۀ يې درته کوم . راشه راشه که د ځان يا زما خير غواړې. "
دلته نور وېري واخيستم . څو واره مې دا خيال شو چې "راشه منډه کړه . بېرته به پر منډه پښېمانه شوم چې څنګه د فريدصيب سره خيانت کوې؟ " مجبوره شوم ورغلم په بشتره کښېې ورسره پرېوتم. يو څۀ وخت پس مې د سړي تهوخه تر غوږ شوه.
بربنډه: "ځان ويدۀ واچووه. "
دروازه چې را خلاصه شوه . فريد صيب يوې بلې خواته ځنګېدو خوني ته دننه راغلی. په ګانګوړه (د نشې په حالت کښې په اړه ژبه )راته ورغېدو
فريد صيب: "هلکه سلطانه ! تۀ په دې نۀ يې خبر چې دا شبنم زما ښځه ده؟ "
زۀ: "صيبه ! خبر يم. "
فريد صيب: "بيا دې ولې له ځان سره ويده کړې ده؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبنم: "ورته وایه له خلګو پر وېرېدم. خلک ورپسې وو."
زۀ: "صېبه ! له خلګو پر وېرېدم."
فرید صېب: "دغسې د نر بچیه !."
فرید صیب غوځار شو. ګوته یې اول لا د ځرخې توپنچې په ماشه کښې وه . ټک شو. زۀ وروغورځېدم د توپنچې لاس مې ټینګ کړو. زما او د دۀ په زورونو کښې دوه ټکه نور هم وشو چې توپنچه یې له لاسه ووته بیا یې په پوچ ویلو شروع وکړه.
فرید صېب: "سلطانه ! تۀ ما ور پرېږده چې ورسره معلومه یې کړم. دا دې څوک چې یو یوار یې زما شبنم وېرولې ده بیا پر ماټکان کوې . دوی زما له نامۀ څخه نۀ دې خبر. افرین سلطانه ! چې زما د شبنم دې دومره خیال ساتلی دی."
زۀ: "صېبه ! اخیر د فرید صېب غوندې سړي مزدور یم."
شبنم: "که اوس دی نۀ وای. خلګو ګوره له ما سره څۀ څۀ کړي وای."
 ما چې سترګې د شبنم په لور ور واړولې . شبنم موبائیل زموږ په لور نیولی وو.
زۀ: "شبنم ! دا څۀ کوې؟ "
شبنم لاس پر خولۀ ونیوو.
فرید صېب: "څوک وو هغه خلګ؟ تۀ اوس ور ناره کړه چې را شي. دوی د فرید له زوره نۀ دي خبر چې د فرید شبنم ته لاس ور اچوي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبنم: "را ولاړه شوه ـ تهٔ اوس درځه چي ځای ته لاړ شو."
فرید صیب: "شبنمه ! تهٔ څهٔ وایې؟ دا خلګ معاف کړم."
شبنم: "نهٔ چي تهٔ یې معاف کړې خو زه یې نهٔ معافه وم. خو دا د دې ځای خبري نهٔ دي ـ ستا مزدور سلطان ولاړ دی. د هغه تر مخ څنګه دا خبري درته وکړم."
شبنم تر یوهٔ ما تر بل لاس ونیوو روان مو کړ چي خوني ته ورغلو. څو بوتلونه، مېوې، د کباب غابونه پراته وو. دی مو پر پلنګ پرې یستو.
شبنم: "زهٔ دروازه بندوم تهٔ لږ ارام وکړه ـ سلطانه ! موبائیل در ونیسه. وېډیو جوړوه."
زهٔ: "شبنم ! یو خو زهٔ په دې نهٔ پوهېږم بل له فرید صیب سره خیانت نهٔ کوم."
شبنم: "که د ځان خیر غواړې د غه موقع ده بیا داسي موقع پخدای که یا تا پیدا کړه یا ما. له موقعې فایده واخله. وېډیو روانه ده ـ دومره کوه چي زموږ د دوو مخونه ښهٔ ښکاریدو. هلته یې ښه تر ډېره او په غور نیسه ـ نوري خبري به بیا وروسته کوو."
ما موبائیل ونیوو. دا ورغله له فرید صیب سره پر پلنګ پرېوته ـ ماته یې اشاره وکړه چي موبائل واړوه ـ دې په خپل لاس د فرید صیب لاس پر ځان وا ړاوو. ماته یې اشاره وکړه چي رانژدې شه. زهٔ ور نژدې شوم. دې دا اشاره وکړه چي زموږ تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرو ودرېږه.زۀ د دوي دوو سر ته ولاړ وم. شبنم د لاس په اشاره موبائيل زموږ خولو ته رانژدې کړه . ما موبائيل نيولى وو چي دې ويل هغسي مي کول. په زړۀ مي يو خداى ښۀ خبر وو.

فريد صېب: "شبنمه ! ځوک وو چي تا ته يې په بد نظر وکتل."

شبنم: "ستا د مور مېړونه."

فريدصېب: "چي پيدا يې کړم. په ګوليو به يې در غلبېل کړم."

شبنم: "له مخه سره يې لږ پام کوه .دا سي نۀ وي بيا يې خپلي کورنۍ نۀ پېژني."

فريد صېب: "شبنم ! دا دي ښۀ وويل. زما د مور به څو مېړونه وي؟ "

شبنم: "څۀ خبره يم.وتا ته به معلوم وي."

فريد صېب: "ځه هر څو چي دي."

شبنم: "يو خو دوى ستا له زوره او غيرته نۀ دي خبر بل د دوى دا خيال دى چي دى په شبنم هم لکه خپله مور خوا نۀ بدوي."

فريد صېب: "نۀ نۀ پر تا خو به ټول په ګوليو سوري سوري کړم."

شبنم: "تۀ دا سي وکړه پټ شه. کېدا ى شي ببرته راشي."

فريد صېب : "هو دا دي ښۀ وويل."

شبنم شړۍ پر هواره کړه. وما ته يې اشاره وکړه چي در ووځه.زۀ را ووتم .شبنم هم راپسې راغله .موبائيل يې زما له لاسه واخيستو. ببرته دننه ورغله.زۀ راغلم په خونه کښي ناست وم. وهغه فرېم ته مي کتل چي ګولۍ پکښي ولګېده.ښيښه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته شوه ـ هم يې عکس سوری شو ـ ښۀ ډېر وخت پس شبنم راغله ـ وماته يې وويل

شبنم: "زۀ کورته ځم ـ نوري خبري به بله ورځ کوو ـ "

زۀ: "شبنم ! تا به چيري پيدا کوم؟ "

شبنم: "زۀ په خپله درته راځم ـ تۀ مۀ راپسې ګرځه ـ فريد صيب که سهار پوښتنه درڅخه وکړه ـ ورته ووايه ستا کور والا شبنم سهار د وختهلاړه ـ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۲

سهار مي لمونځ وکړ. مسله مي ټولوله چي فريد صېب په خوني را دننه شو. ماته يې په عاجزي وويل.
فريدصېب: "سلطانه! برايه د شپې چي څۀ وشو پر هغو زۀ بخښنه غواړم. بل وخت به داسي حرکت نۀ کوم.
زۀ: "نۀ صېبه! زۀ ستا مزدور يم. تۀ په ما هر امتحان کولای شې."
فريد صېب حېريان غوندي شو.
فريد صېب: "دا تۀ امتحان بولې؟"
زۀ: "نور يې څه وګڼم؟ شايد تا په ما امتحان کولو چي وختي بنګلې ته راغلی وې. دا به دي کتل چي دی څۀ وخت بنګلې ته راځي."
فريد صېب دا غوښت چي سلطان د شپې ټوله کيسه په خپله راته وکړي چي ځان يې ښۀ په دلي دوري خبرو سترۍ کړ. ما سر نۀ خلاصاوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ: "صيبه ! ځو ښځي ډېر ناوخته يو۔ "
فريد صيب: "دا يوه کيسه درته کوم بيا به لاړ شي۔ ښادي خان يو زورور سړی وو۔ لکه دا ماته چي ګورې۔ مړی يې وکړو۔ د ښار هر سړی په خبر وو خو چا خولۀ نۀ سره پورته کوله۔ يو چا به خود ورته ويلي وو چي "دا ټوله خلګ وايي مړی دۀ کړی دی۔ تۀ په دې خبر يې که نۀ؟ "
هغه زورور سړي ورته وويل "نۀ زۀ خو چي له چا پوښتنه وکړم۔ دا پلانکی چا مړ کړ۔ هغه راته ووايي خدای به په خبر وي۔ " هغه سړي ورته وويل "دا سي وکړه وګرځه۔ په ښار کښي ړوند سړی پيدا کړه۔ له هغه څخه پوښتنه وکړه۔ "
زورور په ښار کښي ډېري ورځي وګرځېدو۔ يو ړوند سړی يې پيدا کړ۔ ورغلی وځنګ ته يې کښېنستو۔ له روغبړه پس يې ړاندۀ ته څو روپۍ هم ورکړې۔ د کور حال احوال يې ځيني وکړو۔ ړاندۀ ورته وويل "د دې ښار او سېدونکی يم۔ "بيا يې له زورره پوښتنه وکړه "ستا نوم څۀ دی، څوک يې او کور د چيري دی؟ "
زورور ورته وويل "نوم مي خوشال دی۔ د پلاني زوی يم۔ کور مي په پلاني ولات کښي دی۔ " په دې وخت کښي زورور ړاندۀ ته د رخصت لاس په لاس کښي ورکړی "ښۀ حافظه ! د خدای په امان۔ " زورور چي د ړاندۀ لاس پرېښودو۔ دلته د دوو کسانو تر منځ بحث وو۔ يوۀ ويل طوطي پلانکي مړ کړی بل ويل طوطي پلانکی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

ړاندۀ وخندل "دواړه د کمزوري ایمان خاوندان دي.ریښتیا نۀ شي ویلای.په دې خو د دې ښار واړۀ او ښځې لا خبري دي چې طوطي ښادي خان حرامي مړ کړی ."ښادي ورته وویل "دا ښادي خان څوک دی؟" ړاندۀ چې په شنۀ دسمال یې خولۀ پاکوله "دا د پلانیزیو پېښور دي چې ښار ته راغلو.په ښار کښې یې غلاوي کولې.د خلګو مځکې یې لاندي کولې. اوس سم دم خانان دي." ښادي خان ړاندۀ ته وویل "حافظه ! تۀ څوک یې؟"ړاندۀ ورته وویل "زۀ پلانیزی یم."

ما خبر ور پرېکړه.

زۀ: "صېبه ! ډېر ناوخته شوم . ځو یوه بله خبره چې زۀ په دوې ورځې کښې کورته ځم .له کلي مي سړی راغلی وو ویل یې چې مور دي نۀ وه ښه."

فرید صېب سر راپورته کړو .زما په لور یې را وکتل.

فرید صېب: " تۀ دوې ورځې وار وکړه چې زۀ یو بل مزدور پیدا کړم بیا به لاړ شې."

زۀ: "خود .ښۀ دی تر هغه به ستا بنګله ګوري چې زۀ بېرته راځم. ډېر وخت وشو مور او پلار مي نۀ دي لیدلي. یوه مي ترور ده .تر مور او پلار یې لا حق پر ځان زیات ګنم. ناروغه ده حال احوال به پر وکړم."

فرید صېب تندی په دوو ګوتو کښې نیولی وو.ما ته په قهر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرید صېب: "اول دي ویل مور مي ناروغه ده. اوس ترور شوه. تهٔ په کور کښې بل مشر وړور نهٔ لرې؟ "

زهٔ: "نهٔ صېبه! مشر کشر وروړ څهٔ کوې. کشره خور لا نهٔ لرم. زهٔ د مور او پلار دا یو زوی یم بل هغه ترور پر ما تر سکنۍ مور ګرانه ده."

فرید صېب: "پلار دي ځوان دی. یو کار کولای شي که نهٔ؟ "

زهٔ: "نهٔ صېبه! پخوا لا څهٔ ښهٔ وو. په ودونو کښې یې ډول وهلو. اوس له هغه هم لوېدلی دی. یوه سپین سرې مور مې وه. هغې د خلګو په ښادیو کښې دریا وهله بیا چې به په کور کښې شی ختم شو. پر هغو کورونو به وګرځېده. اوس ډېر وخت تېر شو چې حال مې په نشته چې دوی په کوم حال کښې دي؟ "

فرید صېب: "ښهٔ!! تهٔ ډم یې؟ "

زهٔ: "هو صېبه!."

فرید صېب: "ډم او دومره ایمانداره."

زهٔ: "ښهٔ پوهېدم چې په دې خبره لږ نهٔ ډېر خوږېږې. صېبه! دا ډمان او حرامیان ځکه ایمانداره شو. د دوی خویونه اوس حلالونو او خاندانو خپل کړل."

دې خبرې پر فرید صېب ښه اغېزه وکړه.

فرید صېب: "ښهٔ دا خو به ستا روپۍ هم پکار وي؟ "

زهٔ: "صېبه! که نهٔ وي خیر دی. زهٔ به یې له یو بل چا څخه پیدا کړم."

فرید صېب: "لږ انتظار وکړه. د ننه ځم بېرته ژر راځم. "

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغې خوا چې راغلی پوره شل زره روپۍ یې په شمار را کړې.
زۀ: "صېبه ! زما خو دومره روپۍ نۀ جوړېږي."
فرید صېب: "که بېرته راغلې روپۍ به را کړې. که نۀ راغلې در بخښلې مې دي او بل زما له خوا که اوس اوس تللای شې درته اجازه ده."
له صېبه را رخصت شوم. رکشه مې راروانه کړه. سړک داسې خالي وو زړۀ راته وویل "دا رکشه وځغلوه." چې رکشه مې تېزه کړه. د ټرېکټر ډرائیور غلام را په یاد شو. غلام سهار وختي د ښار په میان کښې پر خالي سړک چې ټرېکټر څومره تېزېدو هغومره یې تېز کړی وو. د ښار تر میانه چې رسېدو د خان وړوکي نازولي زوی خان جهان لاس ور کړو. د غلام سر خلاص شو چې وهي دي. د ټرېکټر پر بربک یې پښه دومره په زور کښېښوده چې ببخي تر ډېره د ټرېکټر د شا پایې پسې کش شوې. خان چې ور رسېدو. خان پر غلام یې لاس پورته کړو "د خرۀ بچیه ! ! ! د سپي بچیه ! ! ! ټرېکټر خلګ داسې چلوي."
غلام عاجزه غوندې ورته وویل "صېبه ! مور مې وفات شوې ده. کفن وړم." د خان لاس په پورته نیولو وچ شو. یو څۀ وخت خان غلام ته کتل غلام خان ته. خان جېب ته لاس کړ یو څۀ روپۍ یې ورته ونیوې "ورځه غائب شه. څۀ کوې چې زما ومخ ته ګورې."
غلام لا ولاړ وو خان روان شو. یو بل سړی چې غلام یې پېژندلی "غلامه ! خدای دې خوار کړه. دې خبره ته دې څۀ پام

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو. " غلام وخندل "وروره ! تر څاپېړو خوړلو د مور مرګ ښهٔ دی. پخدای که زموږ د خوار فاتحې ته راغلی. نهٔ یې دعا ته لاس پورته کړو.
دا یوه خبره یاده لره. له دې خلګو سره هغه د چا خبره. که لنډ ګنډ کښېوتلې. مور یا پلار وژنه بس هر مشکل اسانه کیږي. "
په ښار کښې را روان وم. د خیاط پر دوکان ودرېدم. خپلې ور کړې جوړې مې راواخیستې. په ښار کښې ښهٔ په مزه مزه ګرځېدم. سواري مې نهٔ پورته کاوهٔ. د کور د پاره مې سودا راواخیسته.
ماښام بنګلې ته راغلم شپه مې نیمه د تېرې شپې په سوچ، نیمه په خوب تېره کړه. سهار مې وختې غوټه را واخیسته. په رکشه کښې کښېنستم. اډې ته راغلم. زموږ د خوا بس سوکه سوکه روان وو. کلېنډر د سواریانو په خاطر نارې وهلې چې زهٔ یې په نظر شوم. را ناره یې کړه "ځې؟ " ما د تلو اشاره په لاس ورکړه.
بس ته وختم. بس په تلو تلو کښې خراب شو. دا ښهٔ وو چې یخې اوبه او وړوکی د انګورو باغ نژدې وو. مورږ سواریان تر انګورو لاندې ناست وو. په بیاله کښې مو پښې اچولې وې. چا او چا لا د انګورو وښکې هم شکولې وو، چا به اوبه څښلې، چا به انګور خوړل، چا به سګرېټ څکولو.
یو وخت د باغ مالک له لرې را روان وو. په خندا خندا کښې "اخیر د خدای بنده ګانو ! دا زما انګور. " خدای شته موږ څهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشرمېدو- د باغ مالک چې راو رسېدو له سلامه پس يې وويل "ګډيه (ټولو ) ستړي مهٔ شئ.انګور مو دارو شه.ښهٔ کار مو کړی دی چې خوړلي مو دي. اوس که بس نهٔ دی جوړ شوی. زهٔ به کورته لاړ شم.ښې يخې شلومبې او ډوډۍ به درته راوړم." موږ د کاکا شکريه ادا کړه.

بس جوړ شو.کلېنډر پانې او جېک ټول کړو. بس را روان شو. ښېخې ډېر ناوخته د شپې پر سړک کښته شوم . پړنګه هو (د ختيځ شمال له لوري ډېره تېزه هوا ) چلېده .ښېخې له دوړو سترګې نهٔ رنېدې.په ډېر زحمت مې کورته ځان را ورساوو.

په دروازه کښې ودرېدم.ټوخه مې وکړه. د مورکۍ له دننه را ږغ کړو.

مورکۍ: "سلطانه زويه ! تا دي خدای را ولي."

څراغ يې بل کړو چې زهٔ دننه ورغلم غوټه مې ښوده دا مخته راغله.

مورکۍ: "تهٔ مور وخورې خو هوا به په سترګو ړوند کړی يې."

ببرته په دې وخت کښې وګرځېده .زهٔ ورغلم د دې پر کالي کښېنستم.دا راغله د اوبو بدنۍ يې کښېښوده بيا يې فکر شو چې روغبړ دي نهٔ کړو ورسره وه. راغله په ناستې يې په غېږ کښې ټينګ ونيوم.پر تندي يې څو واره مچ کړم.

مورکۍ: "د بلا هېر شې.زما خو د اوبو په وجه روغبړ هېر شو."

بابا: "ښځې ! څوک دی،له چا سره ناسته يې او چاته ږغېږې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

موركۍ: "سرېيه ! سلطان راغلی۔"
بابا: "سلطانه ! پر دې نيمه شپه په دې ځول کېنې۔"
موركۍ: "تۀ دا مغځي ماتی ګوره۔تر اوسه پرېنګه هو او ځول نۀ شي سره بېلولای۔"
بابا لا له بشترې نۀ وو را ولاړ شوی۔زۀ ورغلم په ناستي مې روغبړ ورسره وکړ۔
موركۍ: "سلطانه زويه ! تا به ډوډۍ هم نۀ وي خوړلې؟"
زۀ: "هو موركۍ ! نۀ مې ده خوړلې۔"
موركۍ: "زويه ! بل شی خو نشته۔چای به پخې کړم۔له چای سره به ډډۍ وخورې۔"
زۀ: "موركۍ ! تۀ چای پخې کړه۔ډوډۍ مۀ را اخله۔ما بسکټ راوړي دي هغه به څو دانې ورسره وخورم۔"
موركۍ: "هو زويه ! تۀ خو اوس بازاري شوی يې۔په مسکوټو هم شپه تېرولای شې۔"
زۀ او بابا سره ږغېدو۔موركۍ چای پخې کړې۔غوټه يې سره وشنله۔بسکټ يې راوړو۔څو دانې مې له تودو چايو سره وخوړل۔
زۀ: "زما کالی دباندې هوار کړه۔اوس خو هوا ډېره سوكه شوې ده۔تاسو هم دباندې درو وځئ۔"
موركۍ: "هو زويه ! موږ هم پرېنګه هو دننه راوستو۔"
زما بشتره يې دباندې را هواره کړه۔غوماسي وو خو بيا هم ويدۀ شوی وم۔سهار راپورته شوم۔د زردانې كورته ورغلم۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژړګل ،جمال او سدو دباندي ناست وو ـزردانه ترور په کالي کښي پروته وه ـ داسي وړه ښکاريده لکه يوماشوم ـ له حال احوالـه پس جمال ولاړ شو ـهغه پروته چائينکه او پيالې يې واخيستې.ما ورته کتل چي دۀ مينځلې ـ
زۀ: "ژړګل کاکا ! په زردانه ترور څۀ کيږي؟ "
ژړګل کاکا: "هغه خپله ناروغي يې څۀ زياته شوه ـ "
زۀ: "د دې کله ناروغي وه؟ "
ژړګل کاکا: "هغه خپله زنانه ناروغي ـ "
زۀ: "د خداى بنده ګانو ! ! خو ډاکتر ته به مو راوړه ـکه روپۍ نۀ واى خو له ما سره وې ـ" ژړګل خبره وژووله "څۀ خبر يم ـ"
جمال چاى راوړې ـپيالې يې ډکولې چي زردانه ترور پر حال راغله يا را ويښه شوه ـنرى کالى يې له مخه واړاوو چي زۀ يې وليدم د راپورته کيدو هڅه يې کوله ـزۀ ور ولاړ شوم ـهغسي په پروتې مي لاس ورکړ ـتندى مي ور نژدې کړو ـ څو مچي يې راڅخه واخيستې ـ جمال زما دويمه پياله ډکوله ـ
زۀ: "ناروغي دې څنګه ده؟ "
زردانې ترور وخندل ـد ژړګل کاکا په لور يې لاس ونيوو ـدا غاړه يې وويله

"د ماښام اوږۀ د نۀ وي
ادې سم مه د مېږۀ وي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دی ژوندی وي پخدای که بله یوه بلا هم راغله بې له عزرائیله ـ اوس خو یې تور او سپین دېبان هم لوی شو ـ" هم داسې دې خپلې ګڼې کولې موږ ټولو پر خندل ـ
له دې واره د زرداني ترور سترګې د یوې لحظې د پاره له ما نهٔ اوښتې ـ نن هغه کیسه نهٔ وه چې د دې له کوره خپل کورته روان شوم ـ دا تر هغه ولاړه وه له شا یې راپسې کتل چې زهٔ نیهامېدم ـ ورځ مې په کلي کښې تېره کړه ـ شپه په کور کښې ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۳

زۀ ورغلم ببو انا ناسته وه ـ ژړګُل کاکا ته يې لاس له خولې اخيستی وو "مغځی دي مات شه ـ مغځي ماتې ـ پر تا به هم مور سر تړلی وو ـ پلار به ټکان کول چې زوی مي پيدا شوی دی ـ دوی خواران په دې څۀ خبر وو چې دا ښځولک (ښځې ته ورته ) زنګي (زنه ) دي وتړل شه ـ او به دي تودې شه ـ وپتاری ته دي کښېنم ـ اول مي درته وويل دا ښځه ډاکټر ته يو سه ـ تا ځان يو په بله کاوو ـ "

په دې دعوه، دعوه کښې د بورګي ماما د زوی نارې شوې "ژړګُل کاکا ! راځئ ـ " مور نالي او بالښت را ويستو ـ په ربړی کښې مو ښه بشتره هواره کړه ـ

جمال زردانه ترور په غېږ کښې پورته کړه ـ زردانه ترور په ربړی کښې پروته وه ـ سدو ولاړ وو ژړل يې ـ ژړګل کاکا ناکراره غوندي شا و خوا ګرځېدو ـ جمال چې دوباره ربړی ته وختو ـ زردانه ترور يې را پورته کړه ـ په غېږ کښې يې نيولې وه ـ

زردانه ترور ببو جانې انا ته داسي رږغېده ـ پخدای که هغه وخت د چا دا يقين راتلو چې ناروغه ده ـ زردانې ترور ببو جاني انا ته ويل "حق رابخښه ـ تۀ په ما ډېره ستړې شوې ـ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببو جاني انا ورته وويل "لوري ! زما له حقه خلاصه يې ـ حق به تـه رابخښي ـ زما څۀ حق دی ـ "
زردانه ترور داسي رېږدېده لکه لړزې نيولې ـ سترګي يې له اوښکو ډکي وې ـ زردانې ترور ورته وويل "انا ! زما به له دې واره خوند نۀ وي ـ "
ببو جانه انا د زردانې ترور وڅنګ ته له رېړۍ سره ودرېده ـ
ببو جاني انا زردانې ترور ته وويل "لوري ! په مخه دې ښه ـ له خدايه هيله کښل نۀ دې پکار ـ خدای مهربانه دی ـ خدای به دې خوږ مسافر کړي ـ وخدای ته هر څۀ اسانه دي ـ "
دا خبره يې کولې مخ يې واړاوو ـ د کور په لور روانه شوه ـ موږ د سړک په لور په رېړۍ کښي زردانه ترور را واخيسته را روان شو ـ سړک ته را ورسېدو ـ زردانه ترور مو په غېږ کښي راکوزه کړه ـ موږ د بس په انتظار ناست وو ـ زردانه ترور به يو يوار ما په غېږ کښي نيولې وه بيا جمال ـ
په دې وخت کښي زۀ پر سړک د بس په انتظار کښي ولاړ وم ـ يو تک سپين نوی ډاټسن راغلی ـ ما لاس ور کړو ـ ډاټسن تېر شو ـ بېرته پر شا راغلی ـ ښيښه يې خلاصه کړه ـ يو ښاهسته ځوان په لوښ سر ، سپني وړې چشمې يې په سترګو وې ډاډ سن يې چلاوو ځوان: "تۀ نۀ پوهېدې چي دا شخصي موټر دی ؟ "
زۀ: "پوهېدم ـ "
سړی: "بيا دې ولي لاس را کړ ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ: "په دې چې سړي سر موټر نۀ را رسي- "
سړی: "له هغه بله لوره راشه- "
زۀ: "له ما سره خو ناروغه مور او وروړ دي- "
سړی حیران غوندې شو- د حېرانتیا په انداز یې راته وویل
سړی: "کوم دي؟ "
زۀ: "هغه په ژوره کښې چې ناست دي- "
سړی: "مور دې د ناستې ده؟ "
زۀ: "نۀ- "
سړی: "دباندې خو به یې دا تېزه هوا مړه کړي- "
زۀ: "مورۍ کالي ډېر ورسره را اخیستي دي- "
سړي موټر نور هم شاته را وستو- زۀ کوز شوم - ما زردانه ترور په غېږ کښې را واخیسته- جمال هغه زیات کالي- سړی هم له موټره راکوز شو- د ډاټسن پټه (ډاله) یې را خلاصه کړه- مورۍ زردانه ترور ور وخېژوله- ښه پر پنډ کالي مو کښېښنوده- بالښت مو تر سر ور کړی- سړي ډاله بنده کړه- زۀ او جمال هم په شا کښې دواړه ناست وو-
سړی: "یو را شئ سیټ ته- "
جمال د سړي د خبرې له ختمېدو سره سم قسم وکړ چې تۀ به ورځې- زۀ سیټ ته ورغلم- له هغه بل ځوان سره مې هم روغبړ وکړ- هغه سړي د نامۀ پوښتنه را څخه وکړه- کوم چې موټر چلاوو-

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی: " نوم دي څهٔ دی؟ "
زهٔ: "سلطان مي نوم دی.د پلانکي کلي او سېدونکی یم. ستا نوم او د دې بل ملګري نوم؟ "
زما و څنګ ته ناست تور ځوان سم له واره راته وویل
تور ځوان: "زما نوم هم جمال دی . په پلاني کالج کښي لکچرر یم . دی عثمان زموږ د کالج پرنسپل دی."
عثمان: "بخښنه غواړم. ما یو تهٔ ولیدې چي ګپه مي دربانديو کړه. مورکۍ مي نهٔ لیده. دا بل وروردر سره دی؟ "
زهٔ: " نهٔ مي سکنۍ مورده نهٔ مي سکنی وروردی خو تر سکنیو ډېر راباندي ګران دي.
" عثمان: "عجبه نهٔ ده . خلګ نن سبا له سکني پلاره او موره تنګ دي. پر تا مېرهٔ دومره ګرانه ده."
زهٔ: "نهٔ مېرهٔ مي هم نهٔ ده." ټوله کیسه مي ورته وکړه.
په یو ړوکي ښارګوټي کښي عثمان یو دوکان ته نژدې موټر ودراوو.
عثمان کوز شو.
عثمان: "مورکۍ یو شی خوړلای شي؟ "
زهٔ: "هو نوره ښه ده. د ولاړېدلو نهٔ ده."
له عثمان سره زهٔ هم پر هغه بله دروازه کوز شوم. جمال ته مي وویل "اوس تهٔ سیټ ته راشه .زهٔ به له زرداني ترور سره کښېنم ." جمال ولوړل که زهٔ سیټ ته ورشم. په دې وخت کښي عثمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی ـ ډبی سګرېټ، څلور د چیپس پوړی، یو جوس یې له ځانه سره را اخیستي وو. هغه جوس او یوه پوړۍ چیپس یې جمال ته ونیوو. موږ بېرته موټر ته را وختو چي روان شو.

د عثمان ملګري جمال زما په خوا راوکتل. د ژړګل او زامنو په کیسه مي سرنه شو خلاص.

عثمان د خبري وار له مخه کړ. دا به داسي سپي وي لکه زموږ تور جان کاکا. یو ورځ یې چا پرزوی ګپه کوله. پخدای که په هغه ورځ خلګو اوښکي تویي کړې یا یې تندي د دهٔ د کټ له بازو ووهل مات شو چي تورجان غوندي سړی مړ دی قام به څهٔ شي. په خندا خندا کښني پرېدي څهٔ کوې. پخدای که یې خپلي ښځې ستا مور د زړهٔ له تله ور پسې وژړل ـ په سترګو پوري به لاړي منښي یا به د پیازو او به پکښي څڅوي ـ د زړهٔ له تله یې پخدای که اوښکي توي کړې. "

عثمان: "موږ ګپي کوو. د سلطان به خوا بده شي. "

زهٔ: "نهٔ نهٔ صېبه! ګپي به خود کوو. په ګپو خو څوک نهٔ مري، نهٔ پاتېږي. " بس له دې ځای څخه ګپي شروع شوې.

جمال: "عثمانه! هغه زموږ ملګری رضا خو به دي په یاد وي؟ "

عثمان: "هو. "

عثمان: "یوه ورځ له کوره ټیلیفون ورته راغلی چي انا دي مړه ده ـ کورته راشه ـ اډې ته تللی وو. د ماځیګر ټیکټ یې کړی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیرته راغلې .مور پوښتنه ځیني وکړه "رضا !ولې بېرته راغلې ." رضا ویل "یاره !اوس موټر نهٔ وو.د ماځیګر ټیکټ مې وکړو " د خپل کټ په لوري تېر شو.لېپټاپ یې راواخیستو.زمور دا خیال شو چې خود یې له ځانه سره وړي .دهٔ خلاص کړ. ښې مستې د پښتو د فلمونو سندري یې ولګولې .مور ته یې را ږغ کړو "راشئ . انا خو به زما مړه وي .تاسو ولې په خپل غم عمجنه وم." مور ټولو وخندل.

زرین ویل "تهٔ دې د خرې زوی ته ګوره . داسي ګپې لکه انا چې یې نهٔ وي مړه.دهٔ ته یې کوزده کړې وي." "هغه د غم چپتیا رضا ماته کړه. یو وخت رضا دومره په زوره زوره وخندل.

زرین ځیني وپوښتل "څهٔ دي رضا ،پر څهٔ دي دومره په زوره زوره وخندل؟" رضا ورته وویل "راشئ دې خپلو ماماګانو ته وګورئ . ما ته د خرې بچی،د خرهٔ بچی وایي ."زرین ورته وویل "څوک؟ "رضا وویل "دا د پښتو فلمونو والا یادوم . داسي هوښیاران ماماګان لرو . ښځې یې سل کاله وړاندي بېولې دي . نارینه یې سل شاته . ښځه ته یې پېنځ شرټ او نارینه ته یې هغه پخوانی جامې، واسکټ(سدری) ،پټکی . هغه پخوانی ټوپک(یوه یوه مرمی چي ورځي) یې په څنګ ورکړی."

زرین ورته وویل "تهٔ دې د خرې زوی ته ګوره .ماشین ته وایي پنځهٔ ډزی."رضا ورته وویل "ځه ورشه منا ! !دا پنځهٔ ډزی پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

له واخله. دا پنځۀ ډزې نۀ چې سل ډزې شي. هره مرمۍ به په لاس ورولې او ترې باسې به يې او دا چغې دې وهې اې پلانيه! تا به پرې نۀ ږدمه."

پر دې مو ښېخي ډېر و خندل بيا چپتيا خوره شوه .دوی دواړو سګرېټونه بل کړو. عثمان د خپلې خوا ښيښه لږ خلاصه کړه. بېرته يې مخ زما پر خوا راواړوو.

عثمان: "ياره سلطانه! تا وماته عجبه خبره نۀ کړه وه چې سړي سر موټر نۀ را رسي."

جمال: "سلطانه! خبره تر خبري پوري ياد ېږي .ګپي به کوو. زموږ په کوڅه کښې دوه ځوان دي .يو ناني بل جانداد ــ دواړه مزدور کاره دي .يوه ورځ ډېر يخ وو. ما دواړه په موټر کښې واخيستو. يو ګړی ښۀ چپ ګرمه هوا ته ناست وو چې تاودۀ شو. ناني جانداد ته وويل "ياره! چې خدای يو يو موټر په دې يخ کښې راکړی وای ډېر به ښۀ وو."جانداد وخندل "ځغله زويه! چې سړي سر موټر را کړي بيا د خدای په يخ کښې فائده څۀ ده."

په دې وخت کښې د هسپتال په لويه دروازه کښې عثمان موټر ودراوو. دی پر يوه زۀ پر بله دروازه را کوز شوم. دۀ د شا ډالـه خلاصه کړه. ما زردانه ترور په غېږ کښې راواخيسته. جمال هغه کالي را واخيستو دننه ورغلو. جمال او عثمان هم راپسې وو. د زردانې ترور دا فرياد وو "په سفر مو مړه کړم. ما ښځې ډاکټرې ته ور وړئ." عثمان چې د زردانې ترور دا خبره واورېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

. له مخه شو. ماته يې ويل "راپسې شه. " دی لمخه زۀ ور پسې شوم. په يوه خونه دننه شو.
عثمان: "ترور پر هغه کټ کښېنوه. "
ډاکټره ته يوه بله ناروغه ناسته وه. له هغې سره رږغېده.
عثمان: "فرزانې ! دا پرېږده. دا به دومره نۀ وي په تکليف. "
فرزانې له خپله مېزه دوربين راواخيستو راغله.
ډاکټر فرزانه: "دا کالي ځيني لري کړئ. "
مورې چې کالي ځيني لري کړ. ډاکټر فرزانې بېخي تر ډېره زردانه ترور ته حېران حېران ورکتل.
ډاکټرفرزانه: "تۀ رښا نۀ يې؟ "
زردانې ترور د سر په اشاره د نۀ ځواب ور کړ.
ډاکټرفرزانه: "له کومه ځايه په تکليف يې. "
زردانې ترور د لاس په اشاره مورې ته وويل تاسو لاړ شئ. مورې دباندي ووتو. دباندي چې را ووتو عثمان مورې ته وويل "ډاکټر فرزانه مي کورودانه ده. " مورې دباندي ولاړ وو چې ډاکټرفرزانه په دروازه کښې ودرېده.
ډاکټر فرزانه: "دا ښځه وارډ ته در ورئ زۀ درځم. "
مورې زردانه ترور په غېږ کښې وا خيسته وارډ ته مو يو وړه.
ډاکټر فرزانه هم راغله. د زردانې ترور وينه يې راکړه.
ډاکټر فرزانه: "ورشئ دا ګروپ وينه پيدا کړئ. "

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور چي خپله وینه ورسره وکتله. زما او د جمال دواړو وینه نهٔ وه ورسره سمه. د عثمان او جمال دواړو وینه ورسره سمه وه. اول مو د جمال وینه راوړه ور ومولګوله. نوري ستني ډاکټر فرزانې ور ولیکې. عثمان په منډه منډه راوړلې. تیاره ماښام ډاکټر فرزانه راووته.
ډاکټر فرزانه: "ما خپل وس ورسره وکړ. نور مرګ او ژوند د خدای په لاس دی. له تاسو سره خو د مورکۍ د خذمت کولو ښځه هم نشته. خیر زهٔ او عثمان ورځو. ښځه به درته راشي. تر هغه به یې وڅنګ ته د هغې بلي ناروغې مور خیال ساتي."
ډاکټر فرزانه په خپل موټر کښې، عثمان او جمال په خپل موټر کښې روان شو. زهٔ او جمال سره پاته شو. جمال په ژړا شروع وکړه. ډاکټر فرزانې څنګه دا وویل "چې مرګ او ژوند نور د خدای په لاس کښې دی. خود مورکۍ مري چې دا یې وویل."
اوس که زهٔ جمال کرار کړم. که به مې هر څو ورته وویل خو جمال نهٔ کرارېدو.
ګوره چې څو مره وخت په دې کښې تېر شوی وی . د ډاکټرفرزانې له موټره سره یو بل موټر هم راغلی. یو ځوان سړی، یوه د پاخهٔ عمر ښځه، یوه ډېره سپین سرې (غټې چشمې یې په سترګو وې) په یو لاس کښې یې لکړه، تر هغه بل لاس په عمر پخې ښځې نیولې وه. پر ملا کږه راروانه وه. لکړه چې یې پر فرش لګوله ټک ټک یې کاوو. په ډاکټر فرزانه پسې وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر موږ تېر شو وارډ ته دننه ورغلو. په وارډ کښې موږ د ښځو په زوره زوره ژړا تر غوږ شوه.
زهٔ او جمال په منډه دننه ورغلو. له ډاکټر فرزانې ،زردانې او هغه نورو دوو ښځو سره له ځواني ټولو ژړل. موږ دوه حېران ولاړ وو. زردانه پر کټ پروته وه . هغه ډېري سپين سرې په پروتې غېږ پر ګرځولې وه . د زردانې له مخه يې سر نهٔ راپورته کاوو . د مخ پر يوه او بله خوا يې مچوله .ډاکټر فرزانې په ژړا ژړا کښې سپين سرې تر لاس ونيوه. راکش يې کړه.
ډاکټر فرزانه: "مهٔ کوه موري ! مهٔ يې تنګوه .لږ سر راپورته کړه وژنې يې.سا يې بندېږي."
په وارډ کښې له نورو ناروغو ښځوسره راغلې خدمتګاري ښځې ټولې يوه يوه د زردانې د کټ په لور راتلې.خود به يې دغه خيال وو چې زردانه مړه شوه چې زردانه بې يې وليده چې ژاړي ببرته به يې خپل مخ پټي ور په ياد شو. د پړونې څاک به يې ونيوه، سوکه به روانه شوه.
زردانې او هغه سپين سرې چې ښهٔ په ژړا ځانونه ستړي کړو. د دواړو ښهٔ خروښ کښته شو.
سپين سرې: "رښا لورې ! څوک در سره دي؟ "
زردانه: "هغه دوه زويان (زامن)."
سپين سرې د را ولاړېدو هڅه کوله زهٔ ور له مخه شوم . دا هڅه مې وکړه چې لاس ور کړم .دې دواړه لاسه په غاړه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راواچول ـ پر تندي يې مچ کړم ـ نور يې د ژړا په وجه څۀ تر خولۀ نۀ وتو ـ هم يې دا سې له جمال سره روغبړ وکړ ـ

هغه ځوان: "تاسو راځئ چي کور ته لاړ شو ـ ستړي به یاست ـ له رڼا سره مورکۍ او پښتنه شته ـ زۀ بېرته ورته راځم ـ "

زۀ: "زۀ او جمال له تا سره نۀ ځو ـ موږ دا ناروغه مور وچاته پرېږدو ـ "

ځوان: "رڼا که ستاسو مور ده زموږ خور ده ـ تاسو هم زما په خیال په حقیقت نۀ یاست خبر ـ "

د دې خبري له اورېدو سره که څۀ هم زۀ او جمال روان شو خو حېرا يان غوندي وو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۴

له ځوانه سره موټر ته وختو. په ښار کښې ښۀ تر ډېره لاړو. یو وخت په کوڅه کښې وګرځېدو. په کوڅه کښې روان وو. ما یوې او بلې خواته کتل. واړۀ واړۀ دوکانونه. اکثره دکانونه د پرچون وو. دوه د درزیانو (خیاتانو)، یو تنور، یو د سبزي دوکان په مخه راغلو. ځوان موټر یو لوی ښا هسته ګېټ ته وګرځاوو. پر هارن یې ګوته کښېښوده.

یو ځوان ګېټ خلاص کړو. موټر چې دننه ورغلو. ښځې او پېغلې د سرای په منځ کښې په انتظار ولاړې وې. سره له ورو نجونو او هلکانو چې مور له موټره کوز شو. ښځو او پېغلو ټولو د خپلو پړونو څاکونه ونیول. چا او چا خو ببخې شا را وګرځوله.

یوه پېغله چې د پړوني څاک یې نیولی وو. له مور سره ځوان ته یې وویل "ګران لالا! رېښتیا رښا خورکۍ پیدا شوه. په هسپتال کښې وه؟ "

ګران ورته وویل "هو خورجانې! رښا په هسپتال کښې ده. مورکۍ او پښتنه مې ورسره پرېښودې. دا دوه ځوانان د رښا

(c) ketabton.com: The Digital Library

زویان دي۔ " پېغلي د پړوني ځاک پرېښودو رامختـه شوه ۔پـه لاس یې روغبړ وکړو۔ هغه ټولو ولاړو ښځو کښې چا په لوځ، چا په پټ مخ روغبړ راسره وکړو۔

مورې یې د ګران خوني تـه بوتلو۔ داسي ښکارېده لکـه بېخي لږ ورځـــي مخکـــي چـــي یـــې وادهٔ کـــړی وي ۔ نـــوی پلنـــګ ،الماری،شوکېسونه، نوې نوې بشترې چي هر څهٔ ځای پرځای پراته وو۔د خوني خو چا نهٔ دي راته ویلي چي دګران ده۔ مورې لـه هغو ځوړند عکسونو اندازه وکړه چي ټول د ګران وو۔ اوس نـو د ماما ګانو ښځې او ماشومان پـه وار وار راغلـو چي زهٔ او جمـال یې پـه روغبـړ سترې شو۔ اخیـر یې ډوډۍ راوړه ۔ ډوډۍ مـو و خوړه۔د ډوډۍ له خوړلو پس ګران ماما مورې ته وویل

ګـران: "تاسـو بېغمـه ویـدهٔ شئ ۔زهٔ هسـپتال تـه ځـم ۔دوی تـه بـه ډوډۍ وروړم بل به شپه هم ورسره تېره کړم۔"

ګران ووتو۔زهٔ او جمال په خونـه کښـي پاتـه شو۔ دواړو یـو بـل تـه حېران حېران کتل۔

زهٔ: "جماله ! دا اوس څهٔ وشو ؟ "

جمال په سوچونو کښې ورک وو۔ځواب یې نهٔ کړو را۔

زهٔ: "جماله ! وجماله ! "

جمال: "هان۔"

زهٔ: "دا اوس څهٔ وشو ؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال: "نور درک نۀ راکوي ـ زما په خیال د بابا په لړلو کښېوتو ـ سلطانه ! نوري خبري پرېږده ـ خدای ته به دواړه په زاري کېږو چي کیسه د سمو په لور لاړه شي ـ "
بالښت یې سم کړ سر یې ولګاوو ـ زۀ ولاړ شوم ـ اودس مي وکړو ـ د ماخوستن او قضایي لمنځونه مي ټول وکړو ـ پرېوتم ـ زۀ هم په سوچ سوچ کښي ویدۀ شوی وم ـ سهار چي راپورته شو ـ چای مو وڅیښلې ـ یو بل ماما چي موږ یې لا نوم نۀ وو زده کړی ـ هغه په سپین وړوکي موټر کښي هسپتال ته را ورسولو چي دننه ورغلو ـ انا او پښتنه مامۍ هم ناستي وې ـ زموږ زردانه ترور، د دوی رنګا ښه ښکارېده ـ زرداني ترور وماته را ږغ کړو ـ زۀ ور نژدې شوم ـ دې د راپورته کېدو هڅه وکړه ـ نۀ شوه پورته کېدلای ـ اخیر یې راته وویل "ما کښېنوه ـ " ما را پورته کړه ـ هغه د هسپتال سپین پوست بالښت مي شاته ورته کښېښودو ـ زۀ پر کټ ورسره کښېنستم ـ زرداني ترور په ژړا پېل وکړ چي په ژړا یې ښۀ ځان سترې کړ بیا یې وماته سر را نژدې کړو ـ ما هم سر ور ورنژدې کړو ـ دې خپل مړۀ لاسونه ډېر په مشکل راپورته کړو ـ زما په غاړه کښي یې را واچول ـ څو واره یې مچ کړم ـ سترګي یې له اوښکو ډکي وې ـ په ژړغوني ږغ یې څو واره وویل زردانه ترور: "تۀ مور وخورې ـ تۀ مور وخورې ـ وماته به حق رابخښې ـ ما له تا سره ډېر ظلم وکړ ـ زما د غلطۍ او مستۍ سزا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي تېرۀ کړې وای. پاته عمر به يې هم تېروې. داسې ماشوم دي بيا دې دنيا ته نۀ راځي لکه تۀ چې راغلې."

زۀ: "زرداني تروري! لکه څنګه؟"

زرداني ترور د ومره په زوره زوره وژړل چې په ژړا سترې شوه. زما سر يې بيا په هغو مړو لاسونو ور ټيټ کړو. څو واره يې بيا پر تندي مچ کړم. لاس چې يې زما له غاړې وکښو. داسې بې اختياره يې لاسونه پر کټ ولوېدو لکه د دې په بدن چې نۀ وي پورې.

زرداني ترور په ډکو سترګو، ژړغوني ږغ راته وويل

زردانه ترور: "کور ته به لاړ شې. يو به ژړګُل او سدو راولېږې بل د خليل جبران په کتاب کښې يو ليک پروت دی. هغه به در واخلې. له لوستلو پس به تۀ هغه کار کوې. زۀ که جوړه شوم. کورته به تر هغه نۀ شم لاړه تر څو چې مې په خپل حق نۀ يې رسولی. که مړه شوم حق به رابخښې. زۀ ځان دلې د پلار او نيکه په هديره کښې پټوم. ژړګُل او زويان هم دلې د ورونو په ښار کښې ځايوم. ستا يې په مخه ښه بيا به زما پښتني ته لا نۀ راځې"

ما چې له دې مخ را واړاوو. سترګي مې له اوښکو پاکولې. د ماما کورنۍ او د وارډ ټولو ناروغانو راته کتل. هم په دې خاطر مې د ماماګانو د کورنۍ رخصت پرېښودو. د وارډ تر دروازه راووتم. په رکشه کښې کښېنستم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه مالک ته ورغلم چي ما په هوټل کښي کار ورسره کاوۀ ـ
چاى مي ور سره وڅښلې.دا ټوله کيسه مي ورته وکړه ـ زما
مور په هسپتال کښي ده ـ که چيري فريد صيب يا انډيوالانو
پوښته کوله.دا کيسه به ورته وکړې ـ
له مالکه را رخصت شوم ـ اډې ته راغلم ـ په بس کښي کښېنستم
ـ دومره مي تبيعت خراب وو چي د هغې ورځي د تبيعت خرابی
به درته څۀ ووايم ـ
يو وخت د سړک له څنګه د خاورو له وړو وړو کورونو سره په
بس کښي روان وو ـ يوه ماشومه د خوني شاته په منډه
راوګرځېده ـ له شا يوه ښځه ورپسې وه چي مايې مور وګڼله ـ يو
شی يې پسې تس کړو ـ د دې ماشومي منډې زۀ خپل وړوکوالي
ته بوتلم ـ په وړوکوالي کښي چي به کله مور بد وکړو ـ مور به يو
شي ته لاس کړو ـ مور به منډې کړې ـ دې به هغه په لاس ورغلی
شی دومره په مينه راپسې وغورځاوه ـ هغه بېتې ، بډی ، خوسی
چي د يوۀ به هم په غاړه کښي قميس روغ نۀ وو بيا هغه بدل
(غاړه ، لنډی ) را په ياده شوه چي هر وخت به ما بد وکړو ـ
مورکی به راته کوله
ښۀ کوه پکار به درسي
بد اخير د کړو سر سي
دې بدلي زۀ د فريد او شبنم کيسې ته بوتلم ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ د فريد او شبنم له سوچه هغه وخت را ووتم چي د دوو کسانو تر منځ بحث روان شو. يوۀ وويل "وروره ! خداى بنده ګوري بيا پر اوري. "هغه بل وويل "په دې زۀ هم پوهېږم وايي(بنده حېران خداى مهربان)
خداى هر انسان ته عقل ورکړى دى بيا يې دا ورښوولي دي چي دا لاره شراب خانې ته،دا مسجد ته ځي. جنت او دوزخ په دې نۀ يادوم چي شراب خانه و مسجد دواړه ښکاره دي .هغه وينې چي مسجد دى. ستا مخ د شراب خانې په لور دى. په هغه لور روان يې .اوس وايې خدايه ما مسجد ته ورسوې. دا زما يقين دى چي مسجد ته نۀ شراب خانې ته رسې. "
هغه بل بيرته ورته وويل "تۀ زما په خبره نۀ شوې پوه .ما دا وويل چي دا زموږ په خلکو کښي د صبر ماده ډېره کمه ده بل پېغورجن ډېر دي چي لږ ډوډۍ پيدا کړي بيا هغه د چا خبره سلام په چارخانښې (شاخۍ )نۀ ورلوېږي .مثال موږ په پش،پېښور، موخي او ډم پوري خاندو. "
هغه بل سړي وخندل "تۀ لېونى يې.دا زما او ستا کار نۀ دى.دا د شاعرانو او ليکوالانو کار دى. شاعران او ليکوالان چي له ځينو عزتمندو خلک ډمان جوړولاى شي .له پښ، پېښور او ډم څخه بيا سيالان هم جوړولاى شي. "
هغه بل "ياره ! ستا تر دې خبري پوري يوه ګپه را په ياد شوه. زموږ په کوڅه کښي يو سړي زوى ته وادۀ غوښتى وو.ماښام يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوڅې ټول خلک ډوډۍ ته غوښتي وو- مونږ چې ورغلو- په واړۀ سرای کښې چار پېره کالی هوار وو- چارپېره بالښتونه پراته وو- يوه خواته دوې نالۍ هواري وې چې څوک له مخه راغلي وو هغه پر هغو ناليو ناست وو-
خلک په دې څۀ خبر وو چې دۀ يو څو سرمايداره هم راغوښتي دي .کله چې هغه سرمايداره راغلو- دی سم د ننه ورسره راغلی چې پر ناليو يې نور خلک ناست وليدو- داسې خو يې نۀ شو ورته ويلای چې تاسو ولاړ شئ- څۀ داسې يې وويل "هر سړی د خپل حثيت مطابق کښېنئ- " ټولو خلکو وخندل- پر ناليو ناست خلک ولاړ شو بل ځای کښېنستو-
دا بحث شايد ما سم نۀ وي بيان کړی .د هغه وجه دا ده چې زۀ اول نۀ يم پوه شوی چې بحث له څۀ روان شو- دويم زۀ په خپله هم په حال کښې نۀ وم .د زرداني ترور ژړا او خبرو کرار ته نۀ پرېښودم-
لمر لوېدلی وو چې له بسه کوز شوم- مخه مې وکړه- د ژړګل کاکا کورته ورغلم- دوی ډوډۍ خوړلې وه- له روغبړه وروسته مې د زرداني ترور ټول حال ورکړو- د ژړګُل کاکا ټول بدن داسې رېږدېدو لکه لړزه چې پر سړي راشي- بېخي ډېرې خبرې مې ورته وکړې چې سبا سبا ته و زوی دواړه لاړ شئ .که روپۍ نۀ لرې زۀ به يې درکړم- دۀ وويل "نۀ راسره شته-"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما باکس ځيني راواخيستو. هغې خوني ته راغلم چې زرداني ترور به موږ پکښې بندولو. په هغه کښې مي د باکس د تيليو په رڼا د خليل جبران کتاب پيدا کړو. راسره وامي خيستو. کورته لاړم. سوکه سوکه کورته ورسېدم.

مورکۍ: "زويه! ډوډۍ دي خوړلې ده؟ "

زۀ: "هو. هسي کالی را هوار کړه. بېخي ډېر خوب راځي. "

مورکۍ کالی را هوار کړی. زۀ پرېوتم. مورکۍ د زرداني ترور پوښتنه را څخه وکړه. سر سري مي حال ور کړی. د مورکۍ زړۀ دا غوښت چې ښۀ په تفصيل حوال راکړي. ما ځان ويدۀ واچاوو. دې خواري څو واره را باندي ږغ کړو. ما يې ځواب نۀ کړو ور اخير يې وويل "زويه! زما په خيال ويدۀ شوې. " ولاړه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۵

خوب مي رډ (وتښتېدو )شو۔ شپه مي ټوله په ویښه تېره کړه ۔ په بشتره کښې یوې بلې خواته اوښتم ۔ وسهار ته مي سترګې وختې ۔ سهار چي ملا اذان شروع کړ۔ زۀ په بشتره کښي د لوېدیځ په لور را واوښتم ۔ سپوږمۍ اوښتې وه ۔ په اُورو کښي پټه ښکاره کېده ۔ ما پورته اسمان ته کتل ۔ شاید د ټولي شپې د ناخوبۍ وجه وه چي سپوږمۍ ډېره تېزه روانه راښکارېده بیا مي دې ته فکر شو چي "نۀ نۀ دا سپوږمۍ نۀ ده روانه ۔ اورۀ دومره تېز روان دي۔"

په بشتره کښي پروت وم ۔ پورته کېدۀ مي په وس نۀ وو۔ ښۀ رڼا سهار راپورته شوم ۔ لاړم اودس مي وکړو۔ راغلم د خپل کالي له څنګه پر لمانځۀ ودرېدم۔

بابا د اودس له کولو سره ماجت ته لاړ ۔ مورکۍ له لمانځۀ پس چای جوش کړې۔ مورکۍ پیالې ډکي کړې۔

مورکۍ: "زویه ! برایه بېخي ژړ ویدۀ شوې۔ د زردانې حال دي سم نۀ کړو را ۔ څنګه وه زردانه؟

زۀ: "مورکۍ ! ډېره ښه وه۔"

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور حال ورکول مې نۀ وو خوښ .عذر مې په دې جوړ کړو۔ مورکۍ ته مې وويل "ما دا لالټين د څۀ د پاره رالېږلی وو ؟ تۀ اوس هم هغه د تېلو څراغ بلوې۔" هم دا خبره مې اوږده کړه۔
د بابا تر راتلو له مخه له کوره په دې عذر را ووتم چې ځم ژړګل کاکا لېږم چې په زردانه ترور پسې لاړ شي ۔ څادر مې پر اوږو کړو۔د ژړګُل کورته ورغلم۔ ژړګُل ښۀ بېغمه ناست وو۔
زۀ: "تۀ وځۀ ته ناست يې ورځه۔ "
ژړګل زړۀ نا زړۀ کېدو۔
ژړګل: "تۀ به هم راسره ځې۔"
زۀ: "تۀ ځان تياره وه۔زۀ تر کوره ځم بېرته راځم۔"
کورته ورغلم .د جبران کتاب،له بابا او مورکۍ مې رخصت را واخيستو .د ژړګل کورته وراغلم .درې سره د سړک په لوري روان شو چې موږ لا سړک ته نۀ وو رسېدلي بس مو وليدو چې راروان وو۔موږ درو سره يو په بل پسې د سړک په لوري منډې وهلې چې ستړي شو۔اخير مو لاس او څادر ور و هلو۔
ډئيوار خود وليدو۔زموږ پر برابري يې بس ودراوو بيا درې سره تر هغه ځغاستو چې بس ته وختو۔زۀ له دوو ناستو کسانو سره پر دربمه خلاصه چوکۍ کښېنستم .دوی زموږ وڅنګ ته پر نورو دوو چوکيو کښېنستو۔د ټولو سا لنډه لنډه کېده ۔ زما په څنګ کښې ناست ځوان په لوڅ سر،تور غټ ښا هسته وېښتان ښۀ ږمنځلي، توري غټې چشمې،ږيره برېت خواپاکي خرېيلي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځوان له هغه بله ځنګه وښیښه ته څېرمه سړی چې تک تور پټکی، سپین کالي، توره سدری، ښاهسته نوراني څېره، نری ځګه پوزه، بربت په بیاتي کم کړي، توره اوږده ږیره چې و ښتانو یې په اخیر کښې پېچ هم خوړلی وو.
وځوان ته څه داسي ږغېدو "یاره ! زما خو له دې تعلیمه ډېر بد وشو." ځوان ورته وویل "ولي ماما ؟ " سړي ورته وویل "په دې چې یو د اولس په ګټه سړی نۀ شو پکښې پیدا. هر څوک چې خپل زوی دباندې په سبق پسې ولېږي. تر هغه د خلګو ورته امېد وي چې د پلاني زوی په سبق پسې تللی دی. دا چې راشي (کهولو به وکاږي پر بارکان به یې کښېږدي). هغه چې راسي د ځان د در سړی شي. په یو او بل پسې وي. نوکري غواړي چې نوکري پیدا کړي. پر چوکۍ کښېني. په دواړو لاسو حکومت او رایت لوټي. مائنه خو له ګډ منانه هم ورېږي نۀ ده پاته شوې."
ځوان ورته وویل "له کم ګډ منانه؟ " سړي ورته وویل "هغه دواړه پښې چې یې نشته." ځوان له لږ سوچه وروسته ورته وویل "له هغه ځنګه ورېږي پاتېږي. له هغه سره خو اولس نۀ ناست دی نۀ ولاړ."
سړی ورته وویل "څۀ وجه ده چې له بې تعلیمه او بې پښو سړي سره اولس پورته کښېته کېږي." هغه ځوان یو څۀ وخت چپ ناست وو بیا یې وخندل "یاره ! ډېر بې کاره سړی دی. یوه ورځ چا پوښتنه ځیني وکړه چې د پښو ارمان درځي که نۀ. دۀ و خندل

(c) ketabton.com: The Digital Library

.نۀ منها ! خدای په دې سودا کښې ډېر ونازولم . تۀ نۀ وینې دوې پښې یې راځخه واخیستو. د ټول جهان پښې یې را کړې . اوس تۀ ورته ګوره چې هر څومره زورور لاس او پښې دې هغه زما تابع دي. "
داسې په ګپه ګپه را روان وو .ما د ښاهسته سړي څهره ته حېران حېران کتل.دا غاړه را په یاد شوه.
سپین کالي توره سدرۍ
له دوو به یو کورته راتلی
له ځان سره مې ویل "هغه سپین کالي او ښاهسته سړي به هم خود د داسې ورسې (ورشې) سړي وو. " بس په اډه کښې ودرېدو. موږ ټول هسپتال ته ورغلو. زۀ په هغو زړو تورو زړدانې ترور له هسپتاله را وشړم. مخه مې را وکړه. هغه هوټل ته راغلم چې زۀ ورسره مزدور وم . له مالک سره مې چای وڅیښلې .ماځیګر څۀ لمر په غرۀ اوډر (لوېدلی) وو. راووتم دباندې د هوټل تر مخ پر تړه کښېنستم .خپل سوچ مې پر وهلو. د رکشې ږغ مې تر غوږ شو چې سترګې مې ور واړولې.زما له خوا یو سړی نیم تر رکشه دباندې، نیم په رکشه کښې وو. دا خیال مې شو چې خود ډېر کسان په کښې سپارۀ دي. رکشه چې زما برابر ته راغله بنده شوه . استاذ یې د سټارټېدو کوشش کاوۀ خو سټارټه نۀ شوه . اخیر را کوز شو. سواریانو ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل "تاسو را کوز شئ ـ" دۀ خپل سيټ راپورته کړو ـ د ننه يې په انجن کښي ګوتي ووهلې ـ

سواريان چي را کوز شو ـ دوه دومره غټ کسان وو چي زما غوندي شپږ په جوړېدو ـ استاذ بېرته ور وختو ـ رکشه ستارټ شوه ـ لږ يې مخته شا ته کړه چي سواريانو بېرته د ورختو هڅه کوله ـ دۀ رکشه وځغلوله ـ سر يې تر رکشه راويستو ـ پر سواريانو يې ږغ کړو "چي تاسو وړم خو ګامېښه به پکښي يوسم ـ" دلته هغو دوو کسانو لاسونه پر تشو ېښي (نيولي) وو ـ له خندا شنه (ټيکی) وو ـ دلته مو ږ ياره د هغې ورځي د ماځيګر خندا څۀ در ته ووايم ـ هغه ننداره چي تاسو په خپلو سترګو ليدلې واى ډېر به ښۀ وو ـ

د نورو ورځو په شان مو د ماښام له لمانځۀ پس ډوډی و خوړه ـ ډوډی ته ناست وم ـ دومره په زوره زوره مي وخندل ـ له ډېري خندا پس مي له څنګه ناست سړي پوښتنه را څخه وکړه ـ

ما د رکشې والا او هغو دوو غټو کسانو کيسه ورته وکړه ـ ياره هغه سړي، هم مزدورانو ډېر وخندل ـ له هغې خندا او ډوډی خوړلو پس را روان شوم ـ خپلي بنګلې ته راغلم ـ دلته مي محسوسه کړه چي بخت دي زور کړی دی چي په هغه ورځ دي وفريد ته کيلی نۀ کړه ور ـ نۀ دۀ درته وويل ـ هغه خونه چي به زۀ پکښي اوسېدم ـ د هغې نۀ کولف وه نۀ کيلی ـ په هغه ورځ بېخي دروازه خلاصه را څخه پاته شوې وه ـ خونه له دوړو (خاورو) ډکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه.د خوني پاکېدۀ خو مي په وس نۀ وو. په خونه کښې مي خپله هواره پرې يښې بشتره له دوړو وڅنډله. پر پرېوتم.

سهار راپورته شوم. له دې سهاره د فريد او د شبنم دواړو په لټون شوم .بېخي ډېري شپې او ورځي تېري شوې .نۀ فريد راغلی نۀ شبنم .مخه مي وکړه هغه د هګيو دوکان ته ورغلم. هغه بند وو. له هغې خوا را روان وم. زموږ له بنګلې سره نژدې يو همسايه په مخه راغلی. روغبړ مي ورسره وکړو.

زۀ: "ياره !د دې فريد صېب کور نۀ دی درمعلوم؟ "

همسايه: "ولي څۀ يې کوې؟ "

زۀ: "ياره !د بنګلې يو څۀ روپۍ يې پاته وې. هغه مي ورکولې. "

همسايه: "تۀ د فريد مزدور نۀ وې؟ "

زۀ: "نۀ منا زۀ او دی په دې بنګله سره شريکان وو. "

همسايه: "اوس ستا شوه؟ "

زۀ: "هو. "

همسايه: "دا خو ډېر ښۀ وشو. دا مردارخور به له دې ځايه غائب شي "

زۀ: "ولي فريد صېب خو ډېر ښۀ سړی دی؟ "

همسايه: "ودې ته تۀ ښۀ وايې. شرابونه، ښځې خو يې تا په خپلو سترګو ليدلې. موږ خو تۀ د دۀ مزدور ګڼلی وې ګني موږ به ډېر د وخته لا درته ويلي وو چي دا بنګله تۀ ځيني واخله. دا مردار خور له دې ځايه غائب کړه. "

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ: "دا خو له ځان سره کوي. له خلکو سره خو ډېر ښۀ کوي. يو ايمبولنس يې ولاړ دی. له ښېشمره تابوتونو سره. د هر چا چي مړی وشي هغه بې پېسو ورسره وړي."
همسايه: "هغه پخواني خذمتګاران او هغه ايمبولنس اوس نشته."
زۀ: "نۀ هغه مزدوران خو يې ويستو. ايمبولس يې اړولی وو. هغه زوړ ايمبولنس يې خرڅ کړو. دا يې نوی راوستو."
همسايه: "هغه ايمبولنس او هغه خلک ونيول شو. دوی په دې تابوت کښې له مړي سره اصلې او پوډر تېرول. که دې چيري يقين نۀ راځي. هغه جوړ تابوتونه وګوره چي څنګه جوړ دي؟"
زۀ: "تۀ څۀ په خبر يې؟"
همسايه: "دا خو دۀ زموږ کار را خراب کړو."
زۀ: "نۀ شوم پوه؟"
همسايه: "پوه به شې."
له دې خبري کولو سره همسايه روان هم شو. زۀ راغلم خپلې بنګلې ته. ورځ تېره شوه. ماخوستن په بشتره کښې پرېوتم. پر خپله مور او پلار مې سوچ کاوو "دا سي هم سړی کوي. دا به يو له ما سره شوي وي که له نورو سره هم. دا وجه به معلومه وې." په دې سوچ سوچ کښې ويدۀ شوی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۲

د شپې ګېټ وټکېدو چې خلاص مې کړ. فريد صېب ولاړ وو. له حال احواله پس .
فريد صېب: "تۀ له کوره کله راغلې؟ "
زۀ : "له تلو دوې شپې پس راغلم. "
فريد صېب: "مور دې څنګه وه؟ "
زۀ : "صېبه ! ښه وه. ډېره ښه وه. په هسپتال کښې داخله ده. "
فريد صېب: "خداى دې صحت ور کړي . ايمبولنس او کسان راغلو که نۀ؟ "
زۀ: "صېبه ! ايمبولنس خو ولاړ دى. "
فريد صېب: "دا نۀ. يو بل مې هم رانيوو. څۀ شو چې ورک دې. زۀ کورته ځم چې راغلو ګېټ ورخلاص کړه. "
تر ګېټ وتو جېب ته يې لاس کړو. موبائل يې را وکښو. موټر ته وختو. د شپې ايمبولنس راغلى . ګېټ مې ور خلاص کړ. هغو دوو کسانو له ايمبولنسه تابوت را کوزولى .تابوت دومره دروند وو چې هغو دوو کسانو نۀ شو پورته کولاى. پر ما يې د همت رېغ وکړو.ما هم تابوت ورسره ونيوو. د بنګلې په شا کښې يوه لويه د دړو دوه تاکه دروازه وه . هغه دوه نابلده کسان چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیلۍ ورڅخه وه خلاصه یې کړه. لاندي زېر زمیني وه. د زېر زمیني په زینو کښي مو تابوت کشاوۀ. تر اخیره دننه.
په زېر زمیني کښي نور تابوتونه او څۀ نور د دړو صندوخان، یو څۀ د شرابو بوتلونه پراته وو. زۀ یې را رخصت کړم. هغه دوه په زېر زمیني بلد و ماته نابلده کسان دورې ویدۀ شو. زۀ چي له زېر زمیني را ووتم. مخامخ مي وهغه بل په ختو جوړ سرای ته وتلې وړه دروازه هم په نظر شوه . پر ځان خندا راغله و مي خندل "یاره ! فرید خو هم ډېر ښۀ مزدور کړی دی. بنګله ورله ګوري. په دې نو فرید څۀ خبر دی چي تر ننه یې د بنګلې شا نۀ ده لیدلې."
په دې بله شپه فرید له څو نورو خلګو سره په بل موټر کښي راغلی. یو څۀ وخت پس له هغو خلګو سره تر ګېټ پورې راغلی چي هغه یې رخصت کړو.
فرید صېب: "سلطانه ! شبنم راځي ګېټ ورخلاص کړه."
زۀ: "صېبه ! سمه ده."
چي دی دننه لاړ. ما د ګېټ وړه دروازه خلاصه پرېښوده . لږ وخت پس د دروازې په خلاصېدو پوه شوم. را ووتم.
زۀ: "شبنم ! هغه غټې درختې ته درځه."
شبنم د خپل موبائل زنګ بند کړ. زۀ او دا له خپلي خوني ښۀ لرې د هغې غټې درختې او دېوال تیارې ته سره کښېنستو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ: "دا جنګ يـو ائـي اوس ستا نـۀ دی ـ زمـا هـم درسـره ګـډ دی ـ ګوره ګوره چي په ما پوري لاس نۀ ونيسې ـ تۀ زما ميرۀ، ستا پـه نـس کښـي بچـی زمـا ورور يـا خـور کېـږي ـ " پـه دې وخت کښـي صېب بيا راووتو ـ د ګېټ په لور رار وان وو ـ زۀ د دېوال لـه سايې سره سوکه سوکه تر ګېټه ور ورسېدم ـ

فريد صېب: "سلطانه ! شبنم نۀ راغله؟ "

زۀ: "نۀ صېبه ! زۀ په ګېټ کښي ورته ناست يم ـ "

چـي دی بېرتـه روان شوـ زۀ هغسـي د دېـوال سـره غلـی غلـی وراغلم ـ

شبنم: "زۀ نـۀ شـوم پـوه چي څنګـه دا زما پـه نـس کښـي بچـی ستا ورور يا خور کېږي بل زۀ څۀ لېونی يم چي په تا پوري لاس نيسم ـ فريد د څۀ د پاره دی ـ

زما هغه شپه نۀ ده هېره چي دۀ زۀ د فرضي پلار مور او ورونو تـر مـخ راکشـولم ـ دوی ټـول لـه وېـري داسـي ولاړ وو لکـه د ختـو جوړ بتـان ـ زۀ تـا څـۀ کـوم ـ مـا پـه هغـه ورځ لـه ځانـه سره دا جـوړه وکړه چي ځان به داسي کوم بيا به په تا پوري لاس نيسم ـ دا زمـا خوښـه نـۀ وه چي پـه تـا پـوري لاس ونيسم ـ دا خوښـه د دۀ وه ـ پـه دې خو مي تر هغه وخته کښېنولی وو ـ شراب مي پـه ځيښـل چي پـه دې پـوه شـوم اوس شـرابو هـره لاره ځيني ورکـه کـړه ـ را ومـي يستو ـ تا ته درغلو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېډيو مي د دې د پاره نۀ جوړوله چي په تا پوري لاس ونيسم ـ لاس مي په دۀ پوري نيوو. اوس خو خداى نوره لا هم ښه کړه ـ شبنم مي پرېښوده ـ دۀ له ورغله ـ لږ وخت پس فريد صېب را ووتو ـ را ږغ يې کړو ـ

فريد صېب: "سلطانه ! دلته راشه ـ"

د فريد د ږغېدو انداز ډېر تريخ وو ـ زۀ ورغلم ـ په هغه خونه کښي چي ما او شبنم د دۀ وېډيو جوړه کړې وه ـ فريد د پلنګ وخنګ ته پر يوه چوکۍ ناست وو ـ شبنم يې په څنګ کښي پر بله چوکۍ ناسته وه . زۀ ودوى ته مخامخ پر بله چوکۍ کښېنستم ـ

فريد صېب: "سلطانه ! ما ته د دې د پاره په بنګله کښي مزدور کړې چي تۀ دلته د خلګو عزتونه اخله ـ"

زۀ: "صېبه ! د چا عزت مي اخيستى دى؟ "

فريد صېب: "د شبنم ـ"

شبنم: "مزدور سلطان نۀ ـ فريده عزتمنده ! تا اخيستى دى ـ"

فريد صېب: "څۀ ثبوت لرې چي ما اخيستى دى ـ"

شبنم: "فريده ! هغه شپه زما نۀ ده هېره ـ"

شبنم وېډيو ور ولګوله ـ فريد حېران حېران ورته کتل ـ اخير يې ور حمله کړه ـ موبائل يې د شبنم له لاسه و کښو ـ له مځکي يې وويشتو ـ

فريد صېب: "اوس؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبنم: "چې شل موبائلونه مات کړې هم به دا وېډيو موجوده وي"
فريد صېب توپنچه ته لاس کړو.
فريد صېب: "تاسو له دې دنيا رخصت کړم بيا خو ورکېدلای شي؟"
شبنم: "په دې هم نۀ شې خلاسېدلای. زما ورونه دباندې ولاړ دي."
فريد صېب يو څۀ وخت چپ ناست وو.
فريد صېب: "تاسو دوه يې را جوړه کړئ څۀ درسره وکړم؟"
شبنم: "تۀ به له ما سره نکاح کوې. دا زموږ جوړه ده."
فريد صېب: "له سلطان سره نکاح وکړه چې څومره روپۍ غواړئ زۀ يې درکوم."
زۀ: "صېبه! وماته شبنم ناروا ده."
فريد صېب: "هغه څنګه؟"
زۀ: "شبنم زما مور کېږي."
فريد صېب: "څنګه؟"
زۀ: "تۀ درځه."
ټول را ولاړ شو. زۀ، شبنم او دی درې سره په موټر کښې سپارۀ شو. هسپتال ته ورغلو. په وارډ کښې مو وکتل زردانه ترور نۀ وه. په څنګ کښې ناروغه ښځې ته مې وويل "دا ناروغه جوړه شوه؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناروغي ښځي وويل "نۀ له هغې سره دي خداى ښۀ وکړي. پروند وفات شوه."
له هسپتاله بيرته را روان شوو.
فريد صيب: "تاسو اوس په ما څۀ کوى؟"
زۀ: "موږ د بنګلې ومخ ته کوز کړه. تۀ لاړ شه. سبا ماښام شپېته لکهه روپۍ درسره راوړه. زۀ به هغه ثبوت درته راوړم بل به ستا د پټ کاروبار راز هم پټ وساتم."
فريد صيب: "دا ډېر رقم دى. څنګه يې برابر کړم؟"
زه: "که ډېري دي. سبا ماښام به که موږ مړۀ وو که ژوندي. ستا په کور کښي به پراته يو. ياد يې لره. ستا له کوره به د بدنامۍ اوازه راوځي که خير وو."
فريد صيب: "سمه ده. زۀ به پر دې دواړو خبرو سوچ وکړم."
موږ يې د بنګلې په مخ کښي کوز کړو. دى روان شو.
شبنم: "دا دي څنګه خبره وکړه. موږ که مړۀ وو که ژوندي. ستا په کور کښي به پراته يو بل دي روپۍ دومره ډېري ورته وويلې"
زۀ: "شبنم! تۀ دا خبري اوس و ماته را پرېږده. تۀ دا يو کار وکړه. دا اولاد که دي وشو. تۀ و خداى که به يې يو ځاى غورځوې. دا زما په لاس راکړه بل شبنم! ستاسو کور چيري دى؟ هغه ورځ يو همسايه داسي راته وويل چي د دې بنګلې د ګټلو د پاره موږ د يوې خور عزت للعام کړ."
شبنم: "څنګه سړى وو او څنګه رنګ يې وو؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ: "د ځنګ په کوڅه کښې هره ورځ را روان او روان وي . تور جګ سړی دی . تکې سرې سترګې، اوږده خږه سدرۍ، ښځې لوی وښستان یې دي . پر هغو اوږدو وښستانو یې سره خولۍ لوړه یښې وي."

شبنم: "تۀ په دې کوڅه کښې تر اخیره تللی یې؟"

زۀ: "نۀ."

شبنم: "دا زما ورور دی . موږ کور نۀ لرو . موږ ښځې ډېر کورونه یو . په خېمو کښې او سېږو . زموږ سړي اکثره موځیان دي . ښځې مو په ښار کښې سوال کوي."

زۀ: "ښۀ چیچګر یاست؟"

شبنم: "هو . زموږ خلګ په دې کیسو بلد دي . موږ ماشومان نۀ غورځوو . پالو یې."

زۀ: "بیا خو ډېره ښه ده چې ماشومان پالې."

شبنم: "ډېر خلګ شته چې په موږ بلد دي . هغه داسې ماشومان موږ ته راوړي بل زموږ نارینه په دې هم ښۀ خبر دي چې د ښار خلګ زموږ پر ښځو ټوله ورځ پورته کښته کېږي."

زۀ: "شبنمه! دا خو سم دم بړوګان دي."

شبنم واړۀ واړۀ خندل . له خندا سره یې وچو ، پرې پرې شونډو وینې وکړې . پر وینې شوې شونډو یې کاغذ نیولی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبنم: "خود برو ګان دي- برو ګان خو څۀ ښکر نۀ لري- په دې خو دوی هم ښۀ پوهېږي چي دو مره روپۍ د خدای د پاره هره ورځ خلک زمورږ ښځو ته نۀور کوي- "
زۀ: "شبنمه ! ولي ستاسو د عزت ژوند نۀ دی خوښ؟ "
شبنم: "خوښ مو دی -خو زمورږ د نارینه وو ضمیرونه مړۀ دي - داسي هم نۀ ده چي يو زمورږ نارينه دو مره د مړۀ ضمير خاوندان دي- په دې ټولنه کښي داسي ډېر خلک نور هم شته يعني چي وځان ته ببخي ډېر عزت مند وايي -ليکن له دوی سره داسي کېږي لکه له ما سره چي وشو-ما دا ماشوم ځايه کولای هم شو- ليکن ځايه کول مي نۀ غوښت- ډېر داسي کورونه شته چي هغو ته زورورو خلکو ويلي دي "تۀ به دا خپله لور يا خور نۀ ودوې- دا زما ماينه ده -" هغو له کلونو لونې او خوندي پر کور کښېنولې دي - پر کورونو ناستي ورته سپين سرې شوې بل له ډېرو ښځو سره په زور په خپل کور بدکاري کوي- کورنۍ يې کمزورې وي- ځان وا چوي- "
زۀ: "شبنمه ! زمورږ په خلکو کښي دا خبره کيږي چي چيچګر هديره نۀ لري- خپل مړی خوري- دا ريښتيا دي؟ "
شبنم سر وښوراوو- تندی ګونجي شو ولاړه شوه - ما داسي محسوسه کړه لکه خوا چي يې را ډکه شي -دباندي ووته -يو څۀ وخت دباندي وه -ما په خپله کړې خبره ځان ملامتاوۀ چي شبنم له دباندي راغله-او به يې طلب کړې-او به مي ورکړې- يو غړپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او به یې غرغره کړې. ولاړه شوه په دروازه کښې ودرېده. تو یې کړې. راغله پر خپل ځای کښېنسته.
شبنم: "په موړ کښې خو داسې کیسه نشته لکه ته چې وایې. شاید په نورو داسې کمزورو خلګو کښې وي. زموږ مړی په دې چا نه دی لیدلی. یو خو زموږ هر وخت کډه په شا وي. کله یوه کله بل ښار یا وطن ته ځو بل که زموږ مړی وشي هم. څوک زموږ مړي ته نه راځي. موږ یې په خپله تر خاورو لاندې کوو."
دلته زما هغه متل را پر زړه شو (خوار مړي نه که یې څوک ناره نه اوري)
زه: "شبنمه! ته اوس لاړه شه. سبا ماښام خپل ورونه درسره راوله
شبنم چې ولاړه شوه. دوه قدمه یې لاوا خیستو ودرېده. مخ یې شا ته را واړاوو.
شبنم: "ته ریښتیا وایې دا ستا پلار دی؟"
زه: "هو. شبنمه! پخدای چې دا زما پلار دی. ته به یې سبا ماښام وویني چې دی یې مني که نه."
شبنم: "کاش! چې ما هم لکه ته چې خپل مور او پلار پیدا کړي وای. پخدای چې د دې خپل سترې ژوند ټولې سترې به مې تر یستلې وای."
د شبنم تر سترګو اوښکې څڅېدې چې روانه شوه. زه د دروازې بندېدو ته ورپسې ووتم چې دروازه مې بنده وله. په دروازه کښې ودرېدم. سر مې ورښکاره کړو. شبنم په تیاره کښې روانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه ښه نۀ ښکارېده خو سلګۍ يې ما ښې اورېدلې. ما دروازه بنده کړه. راغلم پر بشتره پرېوتم. يو غم راته دوه شو. په سوچونو کښې ورک ويدۀ شوی وم.
سهار د ژړې لمر ژړ ګښتې ځای په ځای د هسکو شنو درختو او محلونو په سر ښکارېده. هوټل ته راروان وم چې راورسېدم. چائينکې يې ډکې کړې وې. د شيدو په انتظار وو. له يوې چائينکې يې وماته توره پياله را ډکه کړه. هغه مې وڅيښله.
د هوټل مالک: "مور دې څنګه ده؟"
زما اوښکې په سترګو کښې نۀ ودرېدې. هغه حېران غوندې شو چې کله مې په اوښکو خروښ وختو. اوښکې مې پاکې کړې
زۀ: "الله دې جنت ور نصيب کړي. هغه وفات شوه."
مالک: "کله؟"
زۀ: "څۀ خبر يم پروندو رغلم. پر څنګ نارو غې ښځې او د هغې خپلوانو راته وويل چې وفات شوه."
مالک: "څنګه هغه وفات شوه تۀ نۀ وې په خبر؟"
ما څۀ ځواب ور نۀ کړ. مالک حېران حېران راته کتل. زۀ را ولاړ شوم تر هوټل راووتم. د ماماګانو د کور په لور مې مخه وکړه. د ماماګانو کورته ورسېدم. د فاتحې خلک وکورته نژدې په يو ماجت کښې ناست وو.
ورغلم کښېنستم دعا وشوه. له دعا پس مې له خلګو سره د لاس په اشاره روغبړ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال له ژړګُل کاکا ،سدواو ماماګانو را ولاړ شو-زما څنګ ته راغلی-غېږ یې راباندي وګرځوله- په زوره زوره یې ژړل-ژړل خو ما هم لېکن د خلګو له شرمه پټ-

هم داسي خلک یو یو راتلو ،دعا کېده او رخصتېدو-د ماځیګر تر لمانځهٔ په ماجت کښي ناست وو-له لمانځهٔ پس چي زهٔ را ووتم- ژړګل کاکا او ماماګانو ډېر ست وکړو چي ماښام پاته شه زما د نهٔ نهٔ له ډېره تکراره پس چي زهٔ را رخصتېدم - جمال ژړګُل کاکا ته وویل "زهٔ هم له سلطان سره ځم - سهار به وختي بېرته راشم-" د ژړګُل کاکا هم پر خولهٔ هو ورغلو-

زهٔ: "جماله ! نن شپه دلې پاته شه- سباچي زهٔ راغلم دواړه به سره لاړ شو-داسي نهٔ وي سبا یو څوک وختي راشي -تهٔ به نهٔ یې - دا ښهٔ کار نهٔ دی-"

جمال یو کانې له بله مات کړ که زهٔ پاته شم-

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۷

څو ورځې فرید صېب ځان دلې دوري کاوه. یو ورځ چې زۀ شبنم،د شبنم ورور د فرید کور ته ورغلو.
فرید صېب: "د خدای پار دی داسې مۀ کوئ."
د دۀ کورودانه او زویان (زامن) ټول راغلو.چای مو څېښلې.
زۀ: "بابکه !تا نور څو ودونه کړي دي؟"
فرید بابک څۀ نۀ وویل.سر یې وښوراوو.
د بابک خاندانه کورودانه که څۀ هم په دې خبره وه چې د مېړۀ مې دا مشغله ده بیا یې هم ځان ته زور ورکړ.
نا څکه مور: "دا تۀ څۀ وایې؟"
زۀ: "موري !تۀ لږ سو که ږغېږه.خدای به ټولې خیر کړي."
نا څکه مور تر هغه لا وځان ته زور ورکړ چې څۀ بدې خبري یې پر خولۀ ورتلې هغه یې کولې.
زۀ: "بابکه !دا خپله ګرانه ښځه پوه کړه."
فرید: "ښځې !خبره کراري ته پرېږده."
زۀ: "موري !د دې دا معنا نۀ ده چې تۀ له یو ښې سرمایداري کورنۍ یې. دا شبنم او زما مور له ډېرو خوارو کورنیو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موري ! که زما د مور کورنۍ در وپېژنم .تهٔ او فرید بابک به دواړه په دې حېران شی."

د بابک ګرانه ښځه: "ځو که ده چي تر ما هم خاندانه ده؟"

زهٔ: "زما مور د هغه محمدعلي لور ده چي د درسته ښار خلګو لالا ورته ویل .موري، بابکه ! اوس ټول غلي شئ .زهٔ د خپلي مور لیک درته لولم." د جبران کتاب مي سره خلاص کړو. لیک په هغه صفه کښي پروت وو. پر کومه چي جبران د شیطان افسانه لیکلې وه.

د مور په لاس لیکلی لیک مي راواخیست . څوواره مي مچ کړو. دوی وایي "نارینه په اوښکو ډېر بد ښکاري ." زهٔ که ښهٔ ښکارېدم که بد اوښکي مي نهٔ درېدې . د دوی ټولو تر مخ مي سره خلاص کړ. په لوړ ږغ مي وټولو ته ویل شرو کړو. دوی ټول متوجه وو.

د لیک شروع له بسم الله شریفي څخه شوې وه.

ګرانه زویه سلطانه ! ! ! ! دا خو مي اول درته ویلي وو چي دلته داسي خلک ډېر دي چي ودي درده وي . هغه که شته هم په شمار دي چي درمان ور کوي . دلته هغه هم په شمار دي چي اوښکي در پاکي کړي. هغه بېشمېره دي چي ودي ژړوي. هغه بې شمېره دي چي درباندي وخاندي .هغه په شمار دي چي ودي خندوي یا درسره وژاړي بل به د دې خړ پړ اولس په سپېره څهره او سپینو غاښو نهٔ تېروځې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا به په ياد وي .يوه ورځ چي زۀ او تۀ په دروازه کښي ناست وو. باران اورېدو. زۀ پر دې درسره ږغېدم..................اوس که زۀ چيري مړه وم .اول مي قبر ته مۀ راځه . که دي چيري زړۀ نۀ ودرېدو راغلې .تر هغه به زما قبر په کاڼو ولې تر څو چي دي نفس نۀ وي ختلی . که دي چيري داسي نۀ وکړو. نو زما د نا امېده مور(چي په دې هم شکي يم پر تا به مي حق وي او که نه. که چيري وو ) له حقه نافله يې.

بل که دي داسي نۀ وکړو لکه څنګه چي زۀ درته وايم .فريد که دي ژوندی پيدا کړ. تر هغه يې په کراره مۀ پرېږده. تر څو چي دي په ژوند نۀ وي وژلی. که چيري مړ وو بيا يې هره ورځ قبر داسي په کاڼو وله لکه زما.

زما نوم په حقيقت کښي زردانه نۀ ړنا وو. زۀ له يو ډېري باعزته کورنۍ څخه يم. زما د پلار نوم محمد علي وو چي اکثره خلګو ورته لالا ويل. څلور ځوانان ورونه مي وو چي په حکومت کښي پر ډېرو ښو عهدو وو. ما ايف.ايس.سي کړې وه. بي.ايس.سي مي شروع وه چي د شرم او سترې ژوند سبب مي دا فريد نامی سړی جوړ شو. فريد په رنګ ډېر ښاهسته په عمل خوړچن (خيرن ) سړی وختو.

له دې سړي سره مي تعلق پيدا شو.

هم هغه ناجائزه تعلق ورځ تر هغه بله زياتېدو. تر دې سره ورسېدو چي ټول کور را پوه شو. پر ډاکټرو وګرځېدم.تقريباً

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو د ماشوم له ځایه کېدو انکار وکړو. ټولو دا راته وویل چي ماشوم ژوند کړی دی. ځایه کول یې خون کول دي.
په کور کښي مي له شرمه سترګي نۀ شوې رټولای .زۀ و مور بیا هم پر ډېرو ډاکټرانو وګرځېدو چي نااميده شوو.اخیر مي د ځان وژني کوشش شروع کړ. دا موقع هم تر هغې ورځي په لاس نۀ راغله چي تۀ پیدا شوې.
تۀ زما مور د شپې شپې له کوره ویستې . کوم ځای چي ما ور ښودلی وو هلته یې یښی وې. په کور کښي نور داسي د شرم ژوند تېرول راته ګران وو. څلورمه شپه مي یو وړکی لیک له خپل بالښت سره کښېښودو. په هغه کښي مي خپلي کورنۍ ته ولیکل چي په ما پسې مه ګرځئ.زۀ نن شپه ځان وژنم.د شپې چي ټول کور ویدۀ شو.زۀ د کور له خوا په زینه راوختم . په ډېر احتیاط او تکلیف مي هغه زینه پر دېوال راواړوله . راکوزه شوم.
په دې توره شپه مي په کوڅو کښي مخه را وکړه .د فرید بنګلې ته راغلم.نیت مي دا وو چي فرید به اوس تا مانه کوي . که یې چیري ځان دلي دوري کاوۀ. ځان یا به دی وژني !. ګېټ مي وټکاوه. ګېټ د فرید هغه مزدور خلاص کړ چي زۀ یې پېژندلم. تل یې د ورتلو او راتلو پر وخت ګېټ را خلاصاوو.د فرید پوښتنه مي وکړه.فرید په دې شپه په بنګله کښي نۀ وو.د مزدور په خونه ور ننه شوم.په خونه کښي زما هغه پړونی پروت وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوم کښي چي زما مور هغه وخت تهٔ نغښتی وي. پوښتنه مي ځيني وکړه .فريد چيري دی؟ هغه وويل "زهٔ هم نهٔ وم .نن راغلم. هغه شپه که دي په ياد وي.بجلي چي نهٔ وه. را ويښ شوم.وړه دلاس بتۍ مي را واخيسته رااووتم.تکه توره تياره وه ـ د ماشوم په ګېډ کښي ژړا وه چي ګېډ مي خلاص کړو ـ ماشوم پروت وو ـ تر سهاره مي وګرځاوو ـ سهار مي له هوټله شيدې ورته راوړې. په چمچه (کاشوغه )مي ورکړې.

د فريد صيب بې اجازې کلي ته لاړم .ماشوم مي يووړو. زموږ په کلي کښي ډم دی .د هغه اولاد نهٔ وو. هغه ته مي ورکړی.د هغه ښځي چي ماشوم وروا خيست دستي يې وويل حرموني څومره ښاهسته دی زړونه کاږي .چيري مي ورکاوهٔ که زهٔ يو سر نهٔ وای . کور مي درلودای.زهٔ دا يو سر يم. " ويې خندل "څه پربږده يې. نر بېخي په فرياد بد ښکاري . ستا ولي رنګ تغير خوړلی دی بل دا ډېر وخت ورکه هم وې. فريد صيب ته راغلې هم نهٔ يې. "

ما ورته وويل "که مي مرسته کوې خو کيسه به درته وکړم.که يې نهٔ کوې بيا به پر خولهٔ لاس نيسې.ما او خپل کار به سره پربږدې. " هغه وويل "ولي به يې نهٔ درسره کوم. اخير انسانيت ،پښتونواله ،مسلماني ده . خو شرط به دا وي چي په دې درو سره کښي جائز وي. "

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وويل "يو په دې درو سره کښې جائز دی بل په دې درو سره کښې وماته ناجائز ښکاري." دهٔ وويل "دواړه راته ووايه. دا قسم خورم چې هغه جائز به درسره کوم."

ما دا خپله کيسه ټوله له اولې ورځې بيا تر دې ناستې ګړۍ پورې وکړه. اخير مې ورته وويل "په ما خپله کورنۍ پسې ده. راته وايي سړی را په ګوته کړه موږ يې وژنو. اوس دې يوه خوښه دا ده چې لاړ شې دستي موټر پيدا کړې. ما له ځانه سره يو لرې ځای ته بوځې. زهٔ له تا سره وادهٔ وکړم بله دا ده چې خپله کورنۍ ته ووايم چې اولاد مې له دې سړي څخه دی بله دا چې زما تر کورنۍ له مخه فريد زهٔ او تهٔ له دې دنيا رخصت کړو بله خوښه دې دا ده چې په تا پورې لاس ونيسم. که يې دواړه ويشتو نهٔ. زما درسره وعده ده چې وادهٔ به له تا سره کوم خو فريد به بيا په دواړو له دې دنيا رخصته وو او بل به يې کاروبار معلومه وو چې څهٔ کاروبار کوي."

سړی وار خطا غوندې شو. هر څه ځيني ورک شو. بېخي د ېر وخت يې تر خولهٔ خبره نهٔ راووته. اخير زهٔ ورغلم. د دهٔ پر بشتره پربوتم. شپه مو په دې خونه کښې سره تېره کړه.

سهار له اذانه پس سړی لاړ موټر يې راوستو. زهٔ او دی پکښې کښېنستو. ما پښين يو کورته ورغلو. موټر ته مو روپۍ ور کړې . هغه روان شو. دهٔ راته وويل "دا زما د خور کور دی . تهٔ به دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر هغه شپې کوې چې تر څو زۀ بېرته راځم. زۀ به لاړ شم. ستا د پاره به څو جوړې جوړې کړم. څو بشترې او لوښي به واخلم. په کلي کښې به خپلې خونې را صفا کړم. له هغه پس به ور شو- نو به کليوال شک نۀ اخلي."

ما لس شپې د دۀ د خور په کور کښې تېرې کړې. خور يې دومره پورته کښېته راسره کيده. د ورور په وادۀ ډېره خوشاله وه. هر وخت به يې دا خبره کوله "شکر دی خدايه! چې زما ورور دې د کور خاوند کړ." خور يې په اخښي زما د پاره قميس او پړونی راوړو. دومره په هله هله يې اوږد قميس را جوړ کړو.

له لسو شپو پس چې دی راغلی. زۀ يې خور او اخښي په اوږدۀ قميس کښې له دۀ سره را رخصت کړم. په ښۀ نوي قميس او پړونې کښې له دۀ سره کلي ته لاړم. دورې مې نوم پر ځان زردانه کښېښودو. ژړګل لاړ فريد ته يې ځواب ورکړی وو. سو که مې جامې هم د کليوالو ښځو غوندې اوږدې کړې چې کله وخت د نکاح راغلو. له دې پرېشانۍ سره مخ شو خو بيا هغه مشکل مولوي صېب، زرداد او زرګُلې لرې کړو.

دا يو حقيقت دی چې يو ماشوم هم دنيا له په خپله نۀ راځي. ماشومان مور دنيا ته راولو. هغه په مور اړه لري چې څنګه او په څۀ ډول يې راولو. هغه که په جائزه وي که ناجائزه او بيا يې روزنه هم په مور پورې اړه لري. دا اختيار هم له مور او پلار سره شته چې اولاد لر پيدا کوي که ډېر. کال پس يې پيدا کوي، که

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه، که دريـ هغـه مـور او پـلار خـود اولاد نـهٔ شـي پيـدا کـولای
چي په مور يا پلار کښي يې يـو نقص وي۔ ځيني داسي مـور او
پلار وي لکه زهٔ او فريد چي خواهشات يې سترګي ورپټـي کـړي
بيا داسي اولاد پيدا کړي لکه تهٔ۔"
زما دلته د وجود هر وېښته جګ ودرېدو۔ حېران شوم۔ سوچونو
يوړم "چي داسي هم کېدای شي يا کېږي۔ حرمونی پيدا کوي او
غورځوي يې ۔دا خو به بيـا نورو ښځو هم داسي حرمـوني پيـدا
کړي او غورځولي وي۔"
چي د سوچ له دنيا څه بېرته حقيقي دنيا ته راغبرګ شـوم ۔ بېرتـه
مي سترګي ليک ته را واړولې۔لاندي څهٔ داسي ليکلي وو۔
"تهٔ مور وخورې، تهٔ مور وخورې، تهٔ مور وخورې ۔ګناه زمـا او د
فريد وه ۔سزا يې تا تېره کړه ۔ تهٔ هغه ماشوم يې چي رښا ګناه ګـاره
دي مور ده او فريد ګناه ګار دي پلار۔ پـه دې فيصـله کښـي ګـوره
پر تا موږ که خپل تقدير ملامت وي ۔مور نور په خپل قلم هيڅ نـهٔ
شي درته ليکلای۔
تـهٔ بـه اوس فريـد پيـدا کـوې ۔ دا زمـا ليـک بـه يـې ومختـه ږدې ۔
فريد به څنګه پيدا کوې؟ فريد به اوس سپين ږيری وي خو کـور
يې په پلاني ځای کښي دی ۔ هغه بنګله پـه پلانـي ځـای کښـي ده
چي دهٔ به کله کله دا زما غوندي ښځې ورته راوستلې۔
فريد به تر هغه نهٔ پرېږدې چي خپل حق دي نهٔ وي ځيني اخيسـتی
۔د دې خبري ژړګل ګواه دی بله د دهٔ خپله ښځه که يـې بـې ايمـاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

نۀ کوله. یوه شپه زۀ او دی په بنګله کښې وو چې دا راغله. یو غټو کی زوی هم ورسره وو.

وسلام

ستا ګناه ګاره مور رښا "

چې سر مې راپورته کړ. له او ښکو ډکې سترګې مې یوې او بلې خواته واړولې . فرید، شبنم، د شبنم ورور، د بابک ګرانه کورودانه ټولو حېران حېران راته کتل. زۀ راووتم. دوی مې ټول یو ځای سره پرېښودو. بنګلې ته راغلم. نن مې د فرید بابا د خوني کولف مات کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۸

هوا بته‌ه ولاړه وه. سا مي لنډه لنډه کېده. هسپتال ته ورغلم. د ډاکټر فرزانې له نوکره مي پوښتنه وکړه.

زه: "څوک ورسره شته که نه؟"

مزدور: "نه جي!"

دروازه مي لږ خلاصه کړه. ډاکټر فرزانه يوازې ناسته وه. د يو کتاب پاڼې يې سره اړولې.

زه: "خورې! د دننه راتلو اجازه شته؟"

ډاکټر فرزانه: "راځه راځه خدای دي راوله."

ورغلم په مخامخ چوکۍ کښې ورته کښېنستم. زما او د دې تر ميان پروت ټېبل چې سپين څادر پر هوار وو. يوه پنډه ښيښه پر پروته وه. تر ښيښه لاندې يو څو ښاهسته د دوايانو کاغذونه پراته وو. برسېره ورډاکټر فرزانې ته نږدې د دې د ډاکټرۍ اسباب، درې څلور پنډ پنډ کتابونه پر پراته وو.

ډاکټرفرزانه: "له رڼا سره دې خدای ښه وکړي. زه خو بيا نه درغلم. څنګه يې کوې د دنيا ژوند دی. هر سړی يې په غم نه يوغم اخته کړی يو. رڼا خو زما د کالج په وخت کښې تر ټولو ښه ملګرې وه."

زه: "خورې! زما د مور وصيحت؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر فرزانه: "ستا نوم؟ "
زۀ: "سلطان۔"
ډاکټر فرزانه: "وماته خو يې وصيحت کړی نۀ را کړی دی۔"
زۀ: "بيا هم۔"
ډاکټر فرزانه: "دا يې راته وويل ۔ که چيري زما زوی سلطان درته راغلی ۔شايد له تا د دې ځو سوالو ځوابونه وغواړي۔ پکار دی تۀ د دۀ تر راتلو مخکې د دې سوالونو ځوابونه وليکې چې دی راشي تۀ يې په لاس ورکړې۔ "
ما پر وخندل۔
زۀ: "د سحرا کليوال په دې سوالونو او ځوابونو څۀ پوهېږي؟ "
دې هم وخندل بيا يې د مورکۍ په خبرو داسې پيل وکړو "ما خپل هلکان درې سره په هغه ځنګل کښې داسې روزلي دي ۔ په خدای که يې څوک په سکولونو او کالجونو کښې داسې وروزي۔مثال تۀ اوس د کومو سوالونو ځوابونه غواړې؟ "
زۀ: "ګناه دې او خپل يار کړې۔ سزا يې ما تېره کړه او تېروم به يې۔ دويم دا دا يوائې له ما سره شوي دي که بل څوک هم شته؟ دريم دا داسې ولې کېږي؟ چې د خانه منصوبه بندي هر اسباب موجود دی ۔څلورم دا ټول د جنسي خواهشاتو له وجې کېږي که نوري وجې هم شته؟ "
ډاکټر فرزانه: "زما په اند ۔له ډېرو ښځو سره زبردستي کېږي۔دا سوال که وشنو بېشمېره سوالونه را پيدا کېږي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه د خانه منصوبه بندي په اسباب تېر باسي او نارينه يې استعمال نۀ کړي. دا سوال که وشنو بېشمېره سوالونه را پيدا کېږي.
ځيني ښځې داسي وي چي له هر چا سره د پېسو په لالچ کښې داسي کوي.دا سوال که وشنو بېشمېره سوالونه را پيدا کېږي.
ځيني ښځې داسي سوچ لري لکه نيازۀ (سېلاب) اخيستي وځګ ته لاس اچوي . وايې په اخير کښې به په دې سړي پوري لاس ونيسي يعني هغسي نۀ شي وه. دا سوال که وشنو بېشمېره سوالونه را پيدا کېږي.
نوري داسي بې شمېره وجي هم که وشنو بېشمېره سوالونه را پيدا کېږي يعني دا که پسي واخلو تمام نۀ لري.
زۀ پوهېږم چي تۀ دا ځوابونه هم غواړې چي دا ماشوم په يو څۀ وخت کښې ضايعه کېږي . ولي يې ضايعه کوي نۀ ؟دا سوال که وشنو بېشمېره سوالونه را پيدا کېږي . داسي نور ډېر سوالونه او ځوابونه چي تمام نۀ لري. پر دې له ډېره وخت زۀ کار کوم. سوکه سوکه لګيا يم او په دې کښې هم سل په سله د نارينه لاس دی." بيا يې وخندل "پښتانۀ متل کوي(د ښځې عقل په پونده کښې دی) تۀ او خدای !!دا د ښځې له ذات ،سادتوب او مينتوب سره بې انصافي نۀ ده. راځم د بې انصافۍ په لور. پر يوۀ وادۀ برسېره بل غواړي . که چيري چا خپله لور يا خور نۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوله بیا یې تېښتوي -پر هغو دوو برسېره که دریمه څلورمه پیدا کېده هم دی یې کوي-

داسي هم کوي- یوه کوي بله پرېږدي -داسي یې لا له ښځې سره کړې دي-تربور،عزیز او قریب پر بل شي ځیني مړ شي یا مړ کړي-کورته را منډه کړي-خپله ښځه وولي- وایي دا زما په ښځه تور وو-دې ته ولي زموږ د خلکو سوچ و فکر نهٔ وړ اوړي چي د نورو خلکو څو فېصده ښځې پر اولاد مري - زموږ څو-په نورو خلکو کښي څومره غلا او قتلونه کېږي -په موږه کښي څومره ؟-

دا دوه سوالونه که اوس زهٔ او تهٔ په مخه وا خلو-په سوال کښي سوال پیدا کوو- کتاب څهٔ کتابونه به پر ې ولېکو-

له دې یوهٔ سواله اوس ګوره څو سوالونه در پیدا کوم -دا زموږ خلک چي څهٔ وایي-عمل یې هم داسي دی که نهٔ؟

مثال ملا ،ملک ،سید ،خان - د دې خلکو چي کومه زمه واري ده - هغه یې پوره کړې یا یې پوره کوي؟یعني دا ازاد خیاله برابـري چـي غـواړي هغـه.........ــــ پـر تــا د دوی او مـــلا ، ملک،سید ،خان فرق شته که نهٔ؟ "

پر دېوال ځوړند ساعت ته یې وکتل بیا یې وویل "ډېر ناوخته دی-اوس له کوره څوک راپسې راځي-"

ډاکټر فرزانه: "بخښنه غواړم-زما په خیال خبره رانه په بله لاړه-خیر بېرته به خپلي خبري ته راشو-راځم دې درو رشتو ته-

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسانانو تر منځ دا درې رشتې دي لکه انسانیت،ژبه ،مذهب . په دې درو کښې په یوه کښې رد او بدل نۀ شي کېدلای. په دې دوو کښې کېږي .زمور په ټولنه کښې ډېر خلګ شته چې د مور په نوم پېژندل کېږي . مثال د ژړې انا زویان(زامن) ،د شنکۍ ترور زویان داسي نور. پر دې خلګ خاندي څۀ ډېر په سپک نظر ورته ګوري. دا د خندا کار نۀ دی .دا یو ډېر غټ سوال دی. پر دې سوچ کول په کار دي. "

زۀ: "فرزانې خوري ! بیا له موضوع واوښتې. "

ډاکټر فرزانه: "نۀ نۀ وروره ! خبره مې مختصره کوله . تا به اورېدلي وي چې دوه ورونه دي . یو پلانکي زی بل پلانکي خېل دی. "

زۀ: "هو خوري ! ما اورېدلي څۀ ما لیدلي هم یې پېژنم. "

ډاکټر فرزانه: "داسي ورونه هم شته چې د یوۀ په کور کښې یوه ژبه،د بل په کور کښې بله ژبه ویل کېږي . داسي ورونه هم شته چې یو په یوۀ مذهب وي بل په بل . په دې به هم اکثره خلګ خبر وي. که نۀ وو خبر به شي. تۀ په دې خپل قام کښې شا و خوا وګوره . داسي خلګ لکه دا تۀ (د حرامیانو )په نوم چې یاد شوي دي. لوړ مقام یې موندلی چې نن یې پر مېښو پاته لمسیان او کړوسي چې د هغو پر لمسیانو او کړوسیانو باچاهي کوي. چا چې به وځان ته حلالوني او خاندانه ویل .مثال لکه دا ځیني خلګ ،کورونه او قبیلې. "

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دېلا دا خبره په خولۀ کښې وه چې د تېبل په پروته پنډه ښيښه کښې يوه څهره را ښکاره شوه.زۀ وار خطا شوم.خولې راباندې ماتې شوې .بدن مې په رېږدېدو شو.د دې سترګې په ما کښې،زما سترګې په دې کښې ښخې وې . نۀ دې له ما سترګې اړولې نۀ ما له دې. له وېرې مې ورته وويل "خوشحال خټک خو نۀ يې؟ "
د څهرې خولۀ وخوځېده .په سپينو غاښونو يې څۀ داسې وويل

"نامرد فخر په نصب کا
مرد نۀ مور لري نۀ پلار "

چې راويښ شوم.په خولو کښې غرق وم. سا مې لنډه لنډه کېده . نۀ ډاکټر فرزانه وه،نۀ خوشحال خټک.سترګې مې وغړولې. په هغه خونه کښې پر هغه پلنګ پروت وم،کوم ته چې به فريدبابا د بل نامحرومې ښځې راوستې .هم پر هغه بالښت او پلنګ پروت وم .دا مې محسوسه کړه چې خوشحال خان وايي "د پلار په نوم او دولت سړی نۀ سړی کېږي. "

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**